د افغانستان اسلامي جمهوریت
د لوړو زده‌کړو وزارت
د خصوصي پوهنتونونو ریاست

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# د استوګنځي مصؤنیت په اسلامي فقه او ملي قوانینو کې

د ماسترۍ رساله

محصل: لنډاګل تره خېل

لارښود استاد: دکتور نجیب الله صالح

کال: ۱۳۹۹ هـ ش ۱۴۴۱ هـ ق

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د لوړو زده کړو وزارت
د خصوصي پوهنتونونو ریاست

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

# د استوګنځي مصؤنیت په اسلامي فقه او ملي قوانینو کې

د ماسترۍ رساله


محصل: ثناګل (تره خېل)

لارښود استاد: دکتور نجیب الله (صالح)


کال: ۱۳۹۹ هـ ش- ۱۴۴۱ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

## دفقه او قانون دیپارتمنټ

## د ماستری بورډ

# تـــصـديق نـــامـــه

ښاغلی ثنا ګل تر خېل دمحمداګل زوی د ID: Sh-msf-۹۵-۱۱۸ نمبر لرونکی دفقه اوقانون دځلورمی دوری محصل، د ماستری رساله چې عنوان یي داستوګنځي مصؤنيت په اسلامي فقه او ملي قوانينو کې دی، د يکشنبې ورځ په ۲۱ / ۱۳۹۸/۶هـ ل نېټه يې په برياليتوب سره دفاع کړه`او د حکم پلاوي د ارزونې په اساس د( ۹۲) (دوه نوي) نمرو مستحق وګرځيد، له الله تعالی څخه ورته د لازياتې بريا غوښتونکي يو.

د حکم پلاوي اعضاء:

| شماره | داستاذ نوم | عضويت | لاسليک |
|---|---|---|---|
| ۱ | پوهاند سيد حبيب ( شاکر) | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | پوهنمل دکتور: محمد سليم(مدني ) | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | پوهندوی دکتور نجيب الله(صالح) | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر .......................... علمی مرستیال ..........................

# ډالۍ

**خپله دغه هڅه!**

خپل ګران مرحوم پلار او مرحومې مور ته چې زما د لوړو زده کړو په هیله یې ډېرې سترې ستومانې وګاللې، خو زما ثمره او زما سیوری یې په نصیب نه شو.

خپلو درنو او مهربانه مربیونو او استاذانو ته! چې زما په ښوونه او روزنه کې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې وکړې، هېڅکله د خپلو هڅو نه ناهیلي نه شول.

هغو عفیفو، پاکو، باعصمته او باحیاء مېرمنو ته! چې د حیا، عفت او عصمت خوندي کولو او ساتلو په خاطر یې خپل مېړونه، اولادونه، پلار، مور، خویندې، وروڼه او نور خپلوان یې په ځلوېښت کلنه جګړه او بمباریو کې له لاسه ورکړي، استوګنځایونه یې په کنډر او کنډوالو بدل شوي، اوس دغه بې کسه او بې وسه درمانده مېرمنې دیوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو په خاطر سوال او ګدایي کوي.

د هغو زرګونو پاکو او سپېڅلو شهیدانو روح ته! چې د شوروي ښکېلاک او امریکایي ښکېلاک په وړاندې یې د خپل لوې کور (افغانستان) د حریم نه د دفاع په خاطر خپل سرونه نذرانه کړي.

په ډېره مینه او اخلاص ډالۍ کوم.

## مننلیک

ترهرڅه دمخه دلوي خدای شکر اداء کوم چې ددې بحث دلیکلو توفیق یې را نصیب کړ، بیا دافغانستان داسلامي جمهوریت دلوړو زده کړو دمحترم وزارت ، دسلام پوهنتون دعالیقدر مشرتابه او د سلام پوهنتون دشرعیاتو پوهنځي دماستری دبرنامې د جلیل القدره مسؤلینو څخه نړی مننه، چې موږ ته یې دماستری په کچه دلوړو زده کړو شرایط برابر او پدې برخه کې هر اړخیزه مرسته کوي، په ځان لازمه بولم، چې د دې لیکنې په ترتیب او تنظیم کې د خپل ګران جلیل القدر استاذ دکتور نجیب الله صالح څخه ځانګړې مننه وکړم، چې زما د دې لیکنې اشراف او لارښودنه یې ومنله، واقعاً استاذ د خپلو مشورو، لارښوونو په برخه کې په سړه سینه او ورین تندي خپلې نادرې او قیمتي مشورې وخت په وخت رابانديې لورولې دي. د ماستری د رسالې د لیکنې دوره اوږده او ستړې کوونکي وي، خو استاذ په دې اوږده موده کې ماته خپل قیمتي وخت راکړ، په خپلو علمي مشورو او ژورو ملاحظو یې ما سره پوره پوره مرسته کړې. زه د استاذ د قدردانی او مننې لپاره الفاظ نه لرم، د زړه له تله ورڅخه مننه کوم، الله جلاجلاله دې ورته د خیر بدله ورکړي، الله جلاجلاله دې ورته د دین د خدمت لپاره اوږد عمر ورکړي، ربښتینی خبره داده چې الله جل جلاله په خپلو بنده ګانو ډېرمهربان دی.

درنښت

## خلاصه

پدې رساله کې داستوګنځي مصؤنیت په اسلامي فقه او ملي قوانینوکې په درې فصلونو، چې لومړی فصل کې داستوګنځی او مصؤنیت، دمصؤنیت تاریخي سیر،داستوګنځي د مصؤنیت هدف او ګټو په اړه د اسلامي فقه او قانون له نظره، هر اړخیزه معلومات راټول شوي،په دوهم فصل کې داستوګنځي دمصؤنیت اهمیت دلائل په قران کریم او نبوي احادیثوکې، دافغانستان په ملي قوانینو کې د استوګنځي دمصؤنیت اهمیت، داستوګنځي دمصؤنیت داخلال تاثیر په عدلي اجراتو کې ځای پرځای شوي، دریم فصل کې دمسکوني محلونو تخریب دعامه ګټو په خاطر، استملاک دافغانستان په قوانینو کې ، داستملاک ګټې او زیانونه، په افغانستان کې دجنګي ډلو (دولت او مخالفینو ) لخوا داستوګنځي دمصؤنیت دنقض مستندې پیښې ځای پرځای شوي .

استوګنځی دقراني ارشاداتو او نبوي احادیثو په رڼا کې مصؤن اوخوندي دی، قرانکریم په څرګند ډول مسلمانانو ته امر کوي (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ) ای مؤمنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نورو کورونو ته ترهغې پورې مه ننوځئ ، ترڅو چې اجازه ترلاسه نه کړئ او پرکورنۍ باندې سلام وا چوئ داکړنلاره ستاسې لپاره ډېره ښه ده، ښائي چې تاسې به دې ته پاملرنه وکړئ، ددې ایت دحکم څخه دا جوته ده،چې استیذان واجب دی، په نبوي احادیثو کې په څرګند ډول دبل دکور دننه کتل او اطلاع لاسته راوړل منع شویدي،افغانستان یواسلامي هیواد اوخلک یې مسلمانان دي، زموږ ملي قوانینو هم په خپلو احکامو کې داستوګنځي دخوندیتوب امرکړی، داساسي قانون دحکم په اساس استوګنځی له تیري او تعرض څخه خوندي اومصؤن دی، دجزاکود حالاتو او اوضاع ته په پاملرنه په مسکوني محلونو دتیري مرتکب ته مختلف مجازات پیش بیني کړیدي، داستوګنځي حرمت او مصؤنیت اسلامي شریعت او زموږ ملي قوانینو منلی، خو دافغانستان اوږدې جګړې کې دافغان ولس له استوګنې دغه حق او اصل،سخت زړو جګړه مارو تروړلی دی، هیله من یم چې په افغاني جامعه کې دولتونه، سیاسي رژیمونه، سیاسي او نظامي ډلې داستوګنځي داصل درعایت لپاره جدي پاملرنه وکړي، نورددې زوریدلي ولس دکور دروازه په ناقانونه شکل او بې ضرورته وخت کې ونه ټکول شي، پولیس، دملي امنیت کارکونکي او نور وسله وال ګروپونه ددې مظلوم، دردیدلي اوکړیدلي افغان ولس شرعي او

قانوني حقوقو ته په خاص ډول داستوګنځي مصؤنيت حق ته ځانګړې پاملرنه وکړي، اميد دی چې ديو مسلمان او افغان په توګه داسلامي شريعت او قانون احکامو ته په درناوي خپل کور او دبل کور ته دننوتلو په وخت اسلامي اداب او اصول مراعات کړي،ځينې استثنايي حالتونه شته،چې پدې وختونو کې موظف اشخاص کولی شي، ديو چا دکور حرمت او مصؤنيت نقض کړي، پدې حالتونو کې هم بايد اصول مراعات شي، دضرورت حالتونه مشخص او قانون پيشبيني کړيدي،کله چې ضرورت پيدا شي، بايد داحکامو سره سم اجراءات وشي، دعامه ګټو په خاطر دخلکو دځمکو داستملاک پر وخت بايد عادلانه عوض خلکو ته ورکړل شي، پدې څيړنه کې مې د معتبرو تفاسيرو،دحديثو کتابونو، فقهي کتابونو، قوانينو اونورو معتبرو سندونو څخه استفاده کړې، ترڅو مې په ټولنه کې داسلامي اخلاقو او ادابو دترويج په حصه کې څه ناڅه هڅه کړې وي، په ټولو کشفي اداروکې داستوګنځي اصل ته دپاملرنې په موخه مې دغه علمي څيړنه ترسره کړه، غواړم عدلي اوقضايي ارګانونه ددې اصل دنقض مرتکبينو دمجازاتو ترڅنګ دمتضرر شخص دخسارې دجبران په اړه سخته پاملرنه وکړي، پدې هيله چې داستوګنځي دحرمت نقض کوونکي، که ددولتي مسؤلينو څخه وي اوکه دوسله والو ګروپونو څخه، دعدلي تعقيب ترڅنګ يي اجراء ات اوکړنې باطلې وګڼلی شي.

# لیکلړ


عنوان مخ
سریزه ........ ۱
د څېړنې لاملونه او ضرورت ........ ۲
دموضوع اهمیت ........ ۳
د څېړنې اصلي پوښتنې ........ ۴
پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه ........ ۴
د څېړنې کړنلاره ........ ۴
د څېړنې اهداف ........ ۶
لومړی فصل ........ ۷
عمومیات ........ ۷
لومړی مبحث: ........ ۷
د استوګنځي او مصؤنیت تعریف په اسلامي فقه او ملي قوانینو کې ........ ۷
لومړی مطلب: د استوګنځي تعریف او ډولونه په اسلامي فقه او ملي قوانینوکې ........ ۸
۱. لغوي تعریف ........ ۸
۲. د استوګنځي اصطلاحي تعریف ........ ۹
د فقهاوو په نظر استوګنځی باید د لاندې اوصافو لرونکی وي ........ ۹
د ملي قوانینو له نظره د استوګنځي تعریف ........ ۱۰
د استوګنځي تعریف ........ ۱۱
پرتله ........ ۱۱
استوګنځی او استوګنې ته چمتو شوی ځای ........ ۱۱
الف: د اسلامي فقهې له نظره د استوګنځي ډولونه ........ ۱۲
۱. اصلي استوګنځی ........ ۱۲
۲. د اقامت استوګنځی ........ ۱۲
۳. د سکونت استوګنځی ........ ۱۲
ب: د ملي قوانینو له نظره د استوګنځي ډولونه ........ ۱۳
پرتله ........ ۱۳
دویم مطلب: د مصؤنیت تعریف او ډولونه ........ ۱۴
د اسلامي فقهې له نظره د مصؤنیت تعریف ........ ۱۴

د ملي قوانينو له نظره د مصؤنيت تعريف.......................................... ۱۵
برائت ذمه.......................................................................... ۱۲
الف: د اسلامي فقهې له نظره د مصؤنيت ډولونه....................................... ۱۲
د ملي قوانينو له نظره د مصؤنيت ډولونه............................................ ۱۲
۱. فردي يا شخصي مصؤنيت:.......................................................... ۱۲
۲. ټولنيز يا سياسي مصؤنيت.......................................................... ۱۸
۳. د اماكنو او استوګنځايونو مصؤنيت................................................. ۱۹
دويم مبحث: د استوګنځي د مصؤنيت تاريخي بهير.................................... ۱۹
لومړی مطلب: د اسلامي فقه له نظره د استوګنځي د مصؤنيت تاريخي بهير............ ۱۹
دويم مطلب: په افغانستان کې د استوګنځي د مصؤنيت تاريخي بهير.................... ۲۵
درېيم مبحث: د استوګنځي د مصؤنيت موخې او ګټې.................................. ۲۸
لومړی مطلب: د استوګنځي د مصؤنيت موخې.......................................... ۲۸
۱. سكون او اطمنان................................................................... ۲۹
۲. د اسرارو او رازونو ساتنه او خونديتوب............................................. ۳۰
۳. د شک او بدګمانيو مخنيوی......................................................... ۳۱
۴. د شتمنيو ساتنه.................................................................... ۳۲
۵. استوګنځی ستره هستي او لوی نعمت دی.............................................. ۳۳
۲. امن اوخونديتوب................................................................... ۳۵
۷. د استوګنځي مصؤنيت اوحرمت د الله جل جلاله امر دی.............................. ۳۲
۸. استوګنځی ځانګړی مقام لري......................................................... ۳۷
۹.استوګنځی لرل يو لازمي امر دی...................................................... ۳۷
۱۰. استوګنځی د سعادت او نيكبختۍ لوی اصل دی........................................ ۳۸
دويم مطلب: د استوګنځي د مصؤنيت ګټې.............................................. ۳۹
۱. روحي سكون، عقلي او جسمي سلامتيا................................................ ۳۹
۲. د شخصيت وده او د استعدادونو پالنه................................................ ۴۰
۳. په ښوونيز بهير د استوګنځي اغېز.................................................... ۴۱
۴. د مال او شتمنې خونديتوب........................................................... ۴۲
۵. د موسمي او اقليمي بدلونونو په مقابل کې وقايه...................................... ۴۲
څلورم مبحث: د اسلامي فقه پېژندنه.................................................. ۴۳
لومړی مطلب: د فقه لغوي او اصطلاحي پېژندنه........................................ ۴۴
د اسلام لغوي او اصطلاحي تعريف..................................................... ۴۴

الف: د اسلام لغوي معنی .......... ۴۴
ب: اسلام په اصطلاح کې .......... ۴۴
د اسلامي شریعت لغوي او اصطلاحي تعریف .......... ۴۵
الف: شریعت په لغت کې .......... ۴۵
ب: اسلامي شریعت په اصطلاح کې .......... ۴۵
پېنځم مبحث: د ملي قوانینو پېژندنه .......... ۴۵
لومړی مطلب: د قانون لغوي او اصطلاحي تعریف .......... ۴۶
دقانون لغوي تعریف .......... ۴۶
د قانون اصطلاحي تعریف .......... ۴۷
دویم مطلب: د قانون موخې .......... ۴۸
دریم مطلب: دقانون انواع (ډولونه) .......... ۴۸
لومړی جز : اساسي قانون .......... ۴۹
دویم جز: ارگانیکي قوانین .......... ۴۹
دریم جز : عادي قوانین .......... ۵۰
دویم فصل .......... ۵۲
د استوګنځی مصؤنیت په اسلامي فقه او ملي قوانینو .......... ۵۲
لومړی مبحث: د استوګنځي د مصؤنیت اهمیت په اسلامي فقه کې .......... ۵۲
لومړی مطلب: د استوګنځي مصؤنیت دلایل په قران کریم کې .......... ۵۳
کورته بې اجازې مه داخلیږئ .......... ۵۷
د غیر استوګنځي ته دداخلیدو پر وخت داجازې امر .......... ۵۸
پردي استوګنځي ته دننوتلو وخت او فرصت .......... ۵۹
داستوګنځی دننوتلو داجازې (حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا) حقیقت : .......... ۵۹
داستیذان یا اجازې کرات .......... ۶۰
استیذان درې ځله دی .......... ۶۰
داستوګنځي دننوتلو پر وخت د ودریدلو حکم .......... ۶۰
د اجازې پر وخت دټک کولو شرعي حکم .......... ۶۱
د پورته ایت شرعي حکمونه .......... ۷۲
خلاصه .......... ۷۴
دویم مطلب: د استوګنځي مصؤنیت دلایل په نبوي احادیثو کې .......... ۷۷
دریم مطلب: د استوګنځي مصؤنیت د فقهاوو له نظره .......... ۸۳
فاحش ضرر څه شی دی؟ .......... ۸۷

دویم مبحث: د استوګنځي د مصؤنیت دلایل په ملي قوانینو کې ........................ ۹۲
لومړی مطلب: د استوګنځي مصؤنیت په اساسي قانون کې ........................ ۹۴
الف: د استوګنځي دحق اساسي عناصر ........................ ۹۴
اول : داستوګنځي دلرلو حق ........................ ۹۴
دویم : داستوګنځي دخوندیتوب حق ........................ ۹۴
دریم : داستوګنځي د تغیرحق ........................ ۹۵
ب : د استوګنځي د حق د نقض موارد ........................ ۹۵
دویم مطلب: په نړیوالو میثاقونو او اعلامیو کې د استوګنځي د خوندیتوب احکام..... ۹۲
الف: دبشرحقوقو نړیواله اعلامیه ........................ ۹۲
ب: د مدني اوسیاسي حقونو بین المللي میثاق ........................ ۹۲
ج: د ماشومانو د حقوقو تړون ........................ ۹۲
هـ: د بشرحقوقو نړیواله اسلامي اعلامیه ........................ ۹۷
دریم مطلب: داستوګنځي مصؤنیت په عادي متني اوجزایي شکلي قوانینوکې........ ۹۷
لومړی جز: د افغانستان د جزایي اجراتو قانون ........................ ۹۷
دویم جز: د کور او استوګنځي پلټنه او تالاشي ........................ ۹۸
داستوګنځي دپلټنې اجازه ........................ ۹۹
دریم جز: د استوګنځي دپلټنې په وخت کې دمظنون یا تورن حضور ........................ ۱۰۱
څلورم مطلب: د استوګنځایونو مصؤنیت په مدني قوانینو کې ........................ ۱۰۲
پېنځم مطلب: استوګنځي ته داستوګن داجازې غیر دننوتلو اجازه لیک (صحت اقدام) ۱۰۲
دریم مبحث: استوګنځي ته د ننوتلو اووتلو احکام په اسلامي فقه کې ........................ ۱۰۳
څلورم مبحث: داستوګنځي د مصؤنیت داخلال جریمې په اسلامي فقه او ملي قوانینو کې ۱۰۹
لومړی مطلب: داستوګنځي دمصؤنیت د اخلال جرایم اومجازات په اسلامي فقه کې ۱۰۹
دویم مطلب: د استوګنځي دمصؤنیت د اخلال جرایم او مجازات په ملي قوانینو کې........ ۱۱۱
لومړی جز: د جزا قانون ........................ ۱۱۲
دویم جز: د جزا کود ........................ ۱۱۲
په مشروع دفاع کې د قتل ارتکاب ........................ ۱۱۳
د شخص کور ته د عامه خدمتونو د مؤظف غیر قانوني ننوتل ........................ ۱۱۳
د مسکن د حرمت هتک ........................ ۱۱۳
د مالک یا متصرف د حیازت د منع په منظور د مسکن د حرمت هتک ........................ ۱۱۴
د مسکن د حرمت د هتک نورحالتونه ........................ ۱۱۴
مسکن د حرمت د هتک مشدده حالت ........................ ۱۱۴

درېيم مطلب: په عدلي اجرآتو کې د مسکن د مصؤنيت د اخلال تاثير ................ ۱۱۵
لومړی جز: په بنسټيزو اجرآتوکې د قانون په پام کې د نه نيولو عواقب............ ۱۱۵
دويم جز: د بطلان په اړه د تورن د دفاع د حق سقوط.......................... ۱۱۶
ب: د پوليسو اود ملي امنيت دمؤظف سرغړونې ................................ ۱۱۶
ج: د اوسيدنې د ودانۍ د استوګن يا مالك شکايت................................. ۱۱۶
درېيم فصل ......................................................................... ۱۱۷
د مسکوني محلونو تخريب دعامه ګټو په خاطر ...................................... ۱۱۷
لومړی مبحث: د استملاک حيثيت په اسلامي فقه کې................................ ۱۱۷
لومړی مطلب: د عام ضرر دفع په خاص باندې...................................... ۱۱۸
دويم مطلب: ددوه مفسدو تعارض او دلويې مفسدې دفع په وړې مفسدې باندې .... ۱۱۹
درېيم مطلب: ضرورت منع شوي شيان مباح کوي .................................. ۱۱۹
څلورم مطلب: د لوی زيان او ضرر په مقابل د کوچني يا خاص زيان منل .............. ۱۲۱
دويم مبحث: استملاک د افغانستان په ملي قوانينو کې ............................... ۱۲۱
لومړی مطلب: د استملاک تعريف او د استملاک اهداف.............................. ۱۲۱
دويم مطلب: د استملاک موخې .................................................... ۱۲۲
درېيم مطلب: د استملاک په نتيجه کې د رامنځته کېدونکي زيان ټاکل.................. ۱۲۳
څلورم مطلب : تعويضات ( عوضونه ) ............................................... ۱۲۴
لومړی جز: د ځمکې داستملاک په اړه لاندې تعويضات صورت مومي..................... ۱۲۴
دويم جز: د استملاک شوې ځمکې دنرخ او بيې ټاکنه ................................. ۱۲۴
پنځم مطلب: د استملاک وروسته داستوګنځي تخريب .................................. ۱۲۴
شپږم مطلب: داستوګنځي د استملاک وروسته عوض او بدل............................ ۱۲۴
اووم مطلب: د ميوه لرونکو اونورو زينتي ونو بيه .................................... ۱۲۵
اتم مطلب : د دولتي ځمکې تصرف د دولتي بلې اداري لخوا ............................. ۱۲۵
نهم مطلب: د استملاک شوې ځمکې د ونواو بوټو د حاصل د خسارې جبران............. ۱۲۶
لسم مطلب:د استملاک کيدونکې ځمکې مالک ته لا دمخه خبرتيا ......................... ۱۲۶
يولسم مطلب : د تحقيق اوڅېړنو لپاره د ځمکې استملاک: ............................. ۱۲۷
دولسم مطلب: د استملاک په اړه وروستني حکمونه.................................... ۱۲۷
درېيم مبحث: د استملاک ګټې اوزيانونه ............................................ ۱۲۷
لومړی مطلب: داستملاک ګټې ..................................................... ۱۲۷
دويم مطلب: د استملاک زيانونه..................................................... ۱۲۸
د ننګرهار ولايت د درونټې د بند پروژه.............................................. ۱۲۸

څلورم مبحث: په افغانستان کې د جنګي ډلو (دولت او مخالفینو) له خوا د استوګنځي د مصؤنیت او حرمت د نقض مستندې پېښې او بېلګې ........ ۱۲۹
لومړی مطلب: د غوايي کودتا او افغان ولس د شخصي حریم د مصؤنیت نقض........ ۱۲۹
لومړی جز: لومړی بیلګه........ ۱۳۰
دویم جز: دویمه بیلګه........ ۱۳۱
دویم مطلب: د نجیب د حکومت د سقوط او مجاهدینو د بریالیتوب وروسته........ ۱۳۲
دریېم مطلب: د اسلامي امارت د سقوط نه داشرف غني تر دورې پورې دافغان ولس په استوګنځي د تېري څو بیلګې........ ۱۳۳
لومړی جز: په ۲۰۱۱م کال کې دجنګي ډلو( دولت اومخالفینو) د تیري څوبیلګې........ ۱۳۳
دویم جز: په ۲۰۱۲میلادي کال کې د افغان ولس پراستوګنځي د ذیدخلو خواوو د تېري او تجاوز څومستندې پیښې........ ۱۳۵
دریېم جز: د۲۰۱۵ کال کلنی راپور (په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه)........ ۱۳۷
ه: هوايي عملیات........ ۱۳۸
څلورم جز: ۲۰۱۲م کال کلنی راپور........ ۱۳۹
ب: په کابل ښارکې د افغانستان په امریکایي پوهنتون ډله ییز برید........ ۱۴۰
ج: په جنګ ځپلو سیمو کی دبشري حقونوساتنه........ ۱۴۱
د: افغان ملي امنیتي ځواکونوته منسوب شوي ملکي تلفات........ ۱۴۲
ه: ځانمرګي ډله ییز بریدونه........ ۱۴۲
و: د ملکي کسانواو ملکي اهدافوپه وړاندې بریدونه........ ۱۴۴
پېینځم جز: په صحي مراکزو د مسلحانه شخړوتاثیرات........ ۱۴۵
ښځې او وسله والې شخړې........ ۱۴۵
د افغان امنیتي ځواکونو له لوري د ملکي وګړو وژنه........ ۱۴۷
دولت پلوه وسله والي ډلي........ ۱۴۷
پایله........ ۱۴۸
وړاندیزونه........ ۱۵۱
د قراني ایتونو لړلیک........ ۱۵۲
د نبوي احادیثو لړلیک........ ۱۵۴
ماخذونه (References)........ ۱۵۷

## سریزه

الحمد لله الذی شرع لعباده ما تستقیم به أحوال معاشهم، ویسعدهم في معادهم بالجزاء الاوفی الذي حدّ الحدود لتبعث في النفوس اطمئناناً، یمنع من الجریمة، وواقیاً یحمي المجتمعات من تسلط المجرمین، والصلاة والسلام علی البشیر النذیر الذي أرسله ربه مقیماً للعدل وموضحاً للحق وحریصاً علی تنفیذ حدود الله، حتی لاتفسد الامة، وعلی آله وصحابته الذین أقاموا سنته، ونشروا رایة الاسلام في أرجاء المعمورة، رمزاً للعدل، وتمکیناً لحق لا إله إلا الله.

اما بعد : د بشري ژوند د سمون او سکون لپاره په عدلي او قضایي نظام کې د نظم، عدالت او دسپلین د تامین لپاره ایجاب کوي چې هرڅوک باید د اوسېدو دمحل او یا استوګنځي لرونکي وي، ترڅو د انساني پرګنو عزت او معنویت خوندي او شخصي حریم یې د تیري او تجاوز څخه ساتلی او محفوظ وي .

همدارنګه د انسان بیولوژیکي او طبیعي ژوند او خواص هم د دې تقاضا کوي، چې انسان د موسمي او اقلیمي بدلونونو په مقابل کې بایدد خوندیتوب لپاره سرپناه او استوګنځی ولري .

کور یا استوګنځی د انسان بشري او طبیعي حق دی، هر څوک حق لري، چې استوګنځی ولري، هر څوک مکلف دی، چې د خپلې کورنۍ او فامیل لپاره د یو ارام او مرفه استوګنځي په لټه کې اوسي، هر څوک کولی شي، د خپلو اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقوقو په رڼا کې مناسب استوګنځی ولري، ترڅو د هغو خطرونو څخه چې په مباشر ډول د انسان ژوند تهدیدوي، خوندي وي .

د استوګنځي د خوندیتوب او مصؤنیت موضوع ډېره مهمه ده، ترڅو خلک په خپلو کورونو کې د مصؤنیت او خوندیتوب احساس وکړي، هر وګړی او تبعه دا حق لري، چې په خپل کور کې د امن په فضاء کې ژوند وکړي او د دې تشویش ورسره نه وي، چې څوک به یې له خپله کوره په زور او اکراه څخه وباسي.

دولتونه او سیاسي رژیمونه مکلف دي، چې خپلو اتباعو ته د دوي د استوګنځي او شخصي کورني چاپېریال د خوندیتوب او مصؤنیت قانوني تضمین ورکړي.

داچې اسلامي شریعت د بشریت دغه طبیعي حق تر نورو ادیانو او مذاهبو مهم ګڼلی او په خپلو شاملو او کاملو اصولو کې انسان ته د انسانیت د حقوقو د خوندیتوب او د استوګنځي د حرمت او درناوي اصول ښودلي، غواړم داسلامي فقه په رڼا کې داستوګنځي د مصؤنیت اصل او استوګنځي ته د ننوتلو اصول او قواعد ، داستوګنځي دحرمت دمصؤنیت دنقض موارد دقراني ایتونو ، نبوي احادیثو ، دفقهاؤ دنظریاتو او دافغانستان دنافذه قوانینو په رڼا کې تشریح او توضیح کړم .

د افغانستان ملي قوانینو هم د اسلامي شریعت او نړیوالو اصولو په رڼا کې د استوګنځي مصؤنیت د خپلو اتباعو د اساسي حقوقو څخه ګڼلی،خوددې سره سره بیاهم زموږ رسمي او غیر رسمي خلک دبشردغه روا او قانوني حق تر پښو لاندې کوي .

## د څېړنې لاملونه او ضرورت

۱. د استوګنځي د مصؤنیت موضوع په اسلامي شریعت او زموږ ملي قوانینو کې ډېره مهمه موضوع ده، زما دمطالعې په دائره کې پدې اړه چا په پښتو او دري ژبه په کتابي بڼه څه نه و لیکلي، ځکه مې داموضوع دخپل تیزس لپاره غوره کړه.

۲. داچې داستوګنځي مصؤنیت یو شرعي اوقانوني اصل دی، دڅېړنې لامل همدا و، ترڅو ددې شرعي او قانوني اصل په رعایت خلک پوه شي او د درناوي لپاره یې په ټولنه کې عملي اقدام وشي.

۳. علمي او اکاډمیک مراکز متوجه شي، چې پدې برخه کې لا زیات کار وشي، ترڅو دولت او مخالف جنګي ګروپونه د دې اصل رعایت او درناوي ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۴. زه د لس کالو راپدیخوا مدافع وکیل یم، په خپله لس کلنه د وکالت دوره کې مې ډېرې پیښې تر سترګو شویدي، چې جنایي کشفي او امنیتي مسؤلین د استوګنځي د مصؤنیت اصل نقضوي، محاکم پرې چپ پاتې کېږي، امیددی، چې د دې لیکنې په چاپي خپرېدو سره د دولتي امنیتي مسؤلینو اجراء ات د قانون او شریعت سره برابر شي.

۵. موږ مسلمانان یو، د افغانستان د خلکو دین اسلام دی، د اسلامي ثقافت او فرهنګ خپرول زموږ دیني مکلفیت او وجیبه ده، هیله من یم، پدې لیکنې سره به مې په افغاني ټولنه کې د اسلامي احکامو د ترویج لپاره څه ناڅه خدمت کړی وي.

## دموضوع اهمیت

د استوګنځایونو مصؤنیت په اسلامي فقه، ملي او بین المللي قوانینو کې یوه مهمه او بارزه موضوع ده، ځکه دغه موضوع یوائې د کور په حرمت کې نه منحصربېږي، بلکې د ټولو اماکنو او استوګنځایونو په محرمیت او مصؤنیت او د هغو د اخلال په اړه ټول ابعاد په خپله لمن کې رانغاړي، د اماکنو او اوسېدو ځایونو د محرمیت موضوع د اسلامي شریعت له نظره دومره مهمه او پاملرنې وړ ده، چې د قران کریم په سورت النور، سورت حجرات او ګڼو نبوي احادیثو کې د دې موضوع په رعایت، اهمیت او د هغې د نقض په عواقبو باندې تفصیلي بحث شوی، قران کریم د بشري ژوند ټولې چارې که هغه وړې دي او که غټې یا یې په اجمالي شکل او یا په تفصیلي شکل بیان کړي دي، د اسلامي شریعت د مقاصدو څخه یوهم د انسان په داسې ماحول او اقلیم کې روزنه او تربیه ده، چېرته چې د انسان په طبیعت کې د حیا او شرم خویونه وټوکوي، په سورت نور کې د اسلامي امت د تربیت لوې درس پروت دی، پدې سورت کې الله جل جلاله د ایمان خاوندان مخاطب کړي، ورته یې په صراحت سره امر کړی: چې د نورو کورونو ته د اجازې غیر مه داخلېږئ.

د افغانستان اساسي قانون دویم فصل د اتباعو اساسي حقوقو او وجایبو ته ځانګړې شوی دی ، د اساسي قانون په ۳۸ ماده کې د شخص استوګنځی له تیري څخه خوندي ګڼل شوی، د افغانستان د جزا قانون او د جزا کود مسکن یا سکونت ته تیارشوی ځای ته په غیرقانوني او د استوګن له اجازې او رضایت پرته داخلیدل جرم بللی، د جزایي اجراءا تو قانون د کور یا د اوسیدنې د ودانۍ د پلټنې په وخت کې د واکمنې محکمې اجازه لیک اود ښځینه پولیسې حضور شرط بللی،د بشر حقوقو نړیوالې اسلامي اعلامیې د کور او مسکوني ځایونو په حرمت تاکید کړی، هېچا ته د چا کور ته د داخلیدو اجازه نه ورکوي، چې د چا کور ته داخل او یا یې تخریب کړي.

افغانستان یو اسلامي هېواد دی، قوانین یې هم د اسلامي شریعت نه په پیروی ترتیب او تنظیم شوي دي، خو په دولتي او جنګي ډلو کې د استوګنځي د حرمت د درناوي موضوع ته چندان پاملرنه نه کېږي، په سلګونو واقعاتو کې د دولتي امنیتي ځواکونو له خوا چې دخلکو

دروازې په چاودیدونکو توکو ویجاړې شوي، بیا یې په کور دننه شوي، دغه ډول کړنې انسان ډېر متاثره کوي، باید دولتي او مخالفې جنګي ډلې په دې اساسي موضوع پوه شي.

## د څېړنې اصلي پوښتنې

۱. استوګنځی څه ته وایي ؟

۲. د عامه ګټو په خاطر د یو چا کور ورانول جایز دي او که نه ؟

۳. امنیتي دولتي مسؤلین کوم مهال کولی شي، د یو چا کور ته د استوګن د اجازې پرته داخل شي؟

۴. په افغانستان کې د کورونو د حرمت او مصؤنیت موضوع ته څومره پاملرنه کېږي؟

۵. جګړه کې ښکیلې خواوې د کورونو او استوګنځایونو د مصؤنیت د حق څومره درناوی کوي؟

## پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه

د استوګنځایونو او کورونو د محرمیت په اړه ما په کتابي شکل څه نه دي موندلي، زما په فکر په علمي ډګر کې د کورونو د مصؤنیت په اړه شرعي او قانوني څېړنه یو نوې موضوع ده، چې تر اوسه پورې ور باندې زموږ په هېوادا کې کومه مستقله علمي څېړنه نه ده تر سره شوې، د کورونو د حرمت او مصؤنیت په اړه یو شمېر علمي مقالې شته، خو زیاتره یې په نورو ژبو لکه عربي، دري او انګلیسي کې لیکل شوي، دا چې د اسلامي شریعت لومړنی مصدر قران کریم کې د مسکوني ځایونو د مصؤنیت او اهمیت په اړه قوي هدایت او سپارښتنې شته، همدا رازد احادیثو په معتبرو کتابونو او دفقهې په معتبرو متونو او هېواد په مختلفو قوانینو (اساسي قانون، جزا کود، جزایي اجرااتو قانون) کې خواره واره مسایل شته، چې همدا خواره واره معلومات به ان شاء الله د ترتیب او تنظیم وروسته زما د تیزس مواد برابراو د موضوع په شکلي ښکلا کې به پوره او بس وي.

## د څېړنې کړنلاره

د دې موضوع د څېړنې لپاره د کتابتوني چلند څخه استفاده شوې ده، د دې سره په خوا کې د دې څېړنې په ترتیب، تحلیل او ارزونه کې لاندې اصول په پام کې نیول شوي دي.

لومړی: وروسته له دې چې د اړونده موضوع په اړه مې معلومات راجمع کړل بیا مې په درې برخو وویشل چې هرې برخې ته مې د فصل نوم ورکړ، بیا مې هرفصل په مبحثونو، مبحثونه مې په مطلبونو او مطلبونه مې په جزونو وویشل.

دویم: د دې موضوع د معلوماتو په راټولونه کې د معتبرو کتابونو او اخذلیکونو څخه استفاده شوې؛ خو که احیاناً اړونده موضوعات په مربوطه کتابونو او اخذلیکونو کې نه دي پیدا شوي نو بیا ما د علمي مجلو او انټرنیټي سایټ څخه هم د اړونده موضوعاتو په راغونډولو کې استفاده کړې ده.

درېیم: هره موضوع په خپل ځای کې تحلیل شوې، مثبت او منفي اړخونه یې روښانه شوي د دې لپاره چې په راتلونکي کې د لوستونکو لپاره د سرګردانی باعث ونه ګرځي، دبیلګې په توګه داستملاک ګټې او زیانونه جدا جد ذکر شوي .

څلورم: د موضوعاتو په تحلیل کې مې خپله پوره بې طرفي ساتلي او د هر راز تعصب څخه مې ډډه کړې ترڅو په پوره عدل او انصاف سره د موضوع ټول اړخونه روښانه شي.

پنځم: د موضوعاتو د ترتیب پرمهال د مراتبو سلسله په پام کې نیول شوي هغه موضوعات چې لومړی راتلل په لومړی سر کې ځای پرځای شوي او کوم موضوعات چې وروسته راتلل وروسته ځای پرځای شوي چې دا کار له یوې خوا د موضوعاتو په تنظیم کې رول لري او له بلې خوا د موضوع په زده کړه او پوهاوي کې مرسته کوي.

شپږم: څرنګه چې د څېړنې موضوع د مسکوني محلونو مصؤنیت په اسلامي شریعت او ملي قوانینو کې دی، د ټولو قراني ایتونو ژباړه د کشاف صیب له ژباړې را اخېستل شوې.

اووم: د موضوع په څېړنه کې اخذلیکونه او منابع په لمن لیک کې ځای پرځای شوي دي، داقوالو نسبت په امانت سره خپلو منابعو ته شوی.

اتم: که د موضوع په متن کې کومه ګونګه کلیمه او اصطلاح راغلي وي هغه په لمن لیک کې تشریح او واضح شوې ده، دمثال په ډول په ۸۲ مخ کې د( مدري) اصطلاح راغلې، په لمن لیک واضح او تشریح شوې .

نهم: که چېرې په موضوع کې د کومې نا اشنا سیمې نوم راغلی وي هغه سیمه په لمن لیک کې توضیح شوې ده.

لسم: که چېرې په موضوع کې کوم اشخاص ذکر شوي وي نو د هغوی لنډه پېژندنه د همغه مخ په لمن لیک کې روښانه شوې ده، دبیلګې په توګه په ۲۷ مخ کې شیخ صابوني صاحب معرفي شوی.

## د څېړنې اهداف

۱. دا چې د ماسترۍ دوه کلنه منهجي دوره مې په داسې حال کې بشپړه کړه، چې ډېرې ستونزې مې وګاللې، د دې څېړنې لومړنۍ موخه مې دا ده،چې د خپلې ماسترۍ دورې وروستی مسؤلیت اداء، د ماسترۍ سند ترلاسه اود هغې له حقوقو څخه په راتلوونکي کې ګټه واخلم.

۲. د دې څېړنې اساسي هدف د اسلامي احکامو زده کړه او ترویج دی، ترڅو ګران لوستونکي د اسلامي شریعت او د هېواد د قوانینو په رڼا کې استوګنځي ته د ننوتلو او راوتلو احکام زده کړي.

۳. د ددې لیکنې څخه مې هدف دادی: چې زموږ مسلمان هیوادوال دخلکو په شخصي ژوند کې اودولتي مامورین په رسمي اجراءاتو کې داستوګنځي دمصؤنیت او حرمت موضوع ته زیاته پاملرنه وکړي.

۴. دکورونو او استوګنځایونو د مصؤنیت څخه د حراست او څارنې په موخه، سیاسي رژیمونو او ټولو جنګي ډلو ته د دې شرعي اصل اهمیت او ارزښت بیانول او پوهاوی دی.

۵. دولتونه او سیاسي رژیمونه د استوګنځي د خوندیتوب او مصؤنیت اصل ته ددرناوي په موخه هڅول او تشویق کول، ترڅو په خپلو عدلي او کشفي اجرااتو کې د خلکو د استوګنځایونو خوندیتوب ته جدي پاملرنه وکړي.

۶. پدې هیله او موخه چې، ددې علمي څېړنې او پروژې په تکمیل سره به اِن شاء الله زما خپل ظرفیت اومهارت دڅېړنې په برخه کې زیاتوالی ومومي.

# لومړی فصل

# عمومیات

د کورونو یا استوګنځایونو د خوندیتوب او مصؤنیت موضوع په اسلامي شریعت، ملی قوانینو او بین المللی اسنادو کې یوه مهمه او بارزه موضوع ده.

په دې فصل کې مونږ په لاندې موضوعاتو په ترتیب سره بحث کوو، د استوګنځي پېژندنه د اسلامي فقه له نظره، د استوګنځي پېژندنه د ملي قوانینوله نظره، د مصؤنیت پېژندنه د اسلامي فقه له نظره، د مصؤنیت پېژندنه د ملي قوانینو له نظره، د استوګنځي د مصؤنیت تاریخي سیر، اسلامي شریعت پیژندنه او په پای کې د ملي قوانینو پېژندنه باندې رڼا اچوو.

## لومړی مبحث:

## د استوګنځي او مصؤنیت تعریف په اسلامي فقه او ملي قوانینو کې

تمهید: د بشري ژوند د سمون او سکون لپاره په عدلي او قضایي نظام کې د نظم او دسپلین د ټینګښت او د واقعي عدالت د منښت لپاره لازمه ده، چې هر څوک باید د یو ثابت محل او استوګنځي لرونکی وي، ترڅو د ده مستمر حضور هلته فرض کړای شي.

اسلامي شریعت او قانون دواړه د ټولنې د نظم، ثبات او پرمختګ غوښتونکي دي، په دې برخه کې یې ډېر زیات زیار ویستلی دی.[1]

اسلامي شریعت په خپلو مبارکو نصوصو کې کور د ژوند ستره هستي بللې، استوګنځی یې د امن او خوندیتوب مهمه وسیله ګڼلی.

څکه خو یې د کورونو او استوګنځایونو لپاره د حرمت قواعد وضع کړیدي، د افغانستان اساسي قوانینو او نورو فرعي قوانینو، ان نړیوالو میثاقونو او اعلامیو په خپلو اصولو او قواعدو کې د استوګنځي د حرمت او مصؤنیت د خوندیتوب تاکید کړی.

د افغانستان جزایي متني او شکلي قوانینو، امنیتي مسؤلینو ته د کورونو د تلاشۍ او پلټنې په وخت ځانګړې سپارښتنې کړې، شکلي قوانین د کورونو د تلاشۍ پر وخت د لازمو اصولو د رعایت سپارښتنه کوي، متني قوانین لکه د جزا کود بیا د کور د حرمت د ساتنې او

---

[1]. افضلی، عبدالواحد، رحیمي، محمد اسحق. (۱۳۹۲). حقوق بین الملل خصوصی، دویم چاپ، ۱۰۷مخ

حراست په موخه د استوګنځي د مصؤنيت د نقض عاملينو ته مجازات پيشبيني کوي، د دې لپاره چې د استوګنځي حرمت او مصؤنيت ته پاملرنه وشي، غوره او مناسبه به دا وي، چې تر هر څه لومړی موږ استوګنځی د اسلامي شريعت او قانون په رڼا کې تعريف او وپيژنو.

## لومړی مطلب: د استوګنځي تعريف او ډولونه په اسلامي فقه او ملي قوانينوکې

استوګنځی ډير تعريفونو او ډولونه لري، موږ په دې مطلب کې په دوو مهمو مسايلو بحث کوو، لومړی د استوګنځي تعريف د اسلامي فقهې او ملي قوانينو په رڼا کې، دويم د استوګنځي ډولونه په اسلامي فقه او ملي قوانينو کې.

### ۱. لغوي تعريف

په عربي ژبه کې د اوسېدو ځای يا استوګنځي ته زياته کارېدونکې اصطلاحات مسکن، منزل، دار مبيت، مثوًى راغلی، فلانی په فلاني ځای کې اوسېږي. د ځای نوم دی، جمع يې مساکن دی، اصطلاحي تعريف يې هم د لغوی تعريف په څير دی).[1]

استوګنځي ته وطن هم وايي، وطن د واو او طا په فتحې سره، په لغت کې د اوسېدو ځای ته وايي، د انسان کور او مقرته وايي.[2]

په قران کريم کې ډېرو ځايونو کې بيوت، سکن او مسکن کلمه د استوګنځي په معنی راغلې، د دې لاندې ايت کريمې څخه معلومېږي، چې الله جلاجلاله په خپلو بنده ګانو د سترو پېروزينو څخه يو هم د استوګنځي نعمت دی.

وَ اللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْۢ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا وَّ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ جُلُوْدِ الْاَنْعَامِ بُيُوْتًا تَسْتَخِفُّوْنَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَ يَوْمَ اِقَامَتِكُمْ ۙ وَ مِنْ اَصْوَافِهَا وَ اَوْبَارِهَا وَ اَشْعَارِهَاۤ اَثَاثًا وَّ مَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ[3]

ژباړه: الله جل جلاله ستاسې لپاره ستاسې کورونه د آرام ځايونه وګرځول، هغه د څارويو له پوستکو نه ستاسې لپاره داسې کورونه پيدا کړل چې تاسې هغه د کوچ کولو او ديره کېدو په

---

[1] - عمر ، د: أحمد مختار عبد الحميد ، معجم اللغة العربية المعاصرة ،ټوک: اول، پاڼې ګڼه : ۲۲۷ (المتوفى: ۱۴۲۴هـ) خپرندويه ټولنه: عالم الكتب، لومړی چاپ، ۱۴۲۹چاپ کال: هـ - ۲۰۰۸ م .

[2] - أبو الحسين ، معجم مقاييس اللغة، أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، (المتوفى: ۳۹۵هـ) ، محقق: عبد السلام محمد هارون، خپرندويه ټولنه : دار الفكر، دچاپ کال: ۱۳۹۹هـ - ۱۹۷۹م.

[3] - النحل ، ايت ۸۰

دواړو حالتونو کې سپك مومئ، هغه د څارويو له وړيو، اون او وژغنو څخه ستاسې د اغوستلو اوغوړولو د استفادې لپاره ډېر شيان پيدا کړل چې د ژوند تر ټاکلې مودې پورې ستاسې په کار راځي.

د پورته ايت په تفسير کې د استوګنځي يا بيت لغوي معنی د مسکن، منزل او يا د شپې تېرولو د ځای په معنی راغلی، کورونه د ارام او قرار ځايونو بلل شوی.

نو د همدې ايت د ترجمې او تفسير نه کولی شو، چې استوګنځای په اصطلاحي ډول تعريف کړو.

## ۲. د استوګنځي اصطلاحي تعريف

په اصطلاح کې د انسان د اوسېدو او اقامت مقر ته وايي، برابره خبره ده، چې په دې ځای کې زېږېدلی وي او که نه يا په بل عبارت هغه ځای او مقر ته ويل کېږي، چې انسان ورته په سفر او حضر کې اړتيا لري او په همدې ځای کې خپل نفس او روح دمه کوي، شپه تيروي، استراحت کوي، ځان خوندي کوي، برابره خبره ده، چې دغه مقر د ټوکر خيمه وي، که کوټه وي او که د بل شي څخه.[۱]

**د فقهاوو په نظر استوګنځی بايد د لاندې اوصافو لرونکی وي**

۱. د مېړه د توان او مالي وضيعت سره بايد برابر وي.

۲. د حنفي فقهاوو په نظر، کور بايد د ښځې او مېړه مستقل کور وي، د کورني نور خلک يې ورسره نه وي.

د امام مالک رحمه الله په نظر مسکن په يوه کوټه (حجره) اطلاق کېدای شي.

۳. د فقهاوو په نظر مسکن بايد د مرافقو او د انساني ضروورياتو (اوبه، رڼا، فرش او د خوراک او څښاک لوښو) لرونکی وي.[۲]

---

[۱] - أبو الحسين ، معجم مقاييس اللغة، أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، (المتوفى: ۳۹۵هـ) ، المحقق: عبد السلام محمد هارون، خپرندويه ټولنه : دار الفكر، دچاپ کال: ۱۳۹۹هـ - ۱۹۷۹م .

[۲]. وهبة ، الزهيلي، الفقه الاسلاميه وادلته،ټوک ګڼه : ۱۰ ، پاڼې ګڼه : ۷۳۹۰ - ۷۳۹۱

په اسلامي شريعت کې مسکن يا استوګنځي د بشري ژوند د خونديتوب ستره هستي او وسيله بلل شوې، په اسلامي فقه کې د ښځې د حقوقو او د مېړه د واجباتو څخه يو هم د مسکن برابرول دي د ښځې لپاره.

په مېړه لازمه ده، چې د ښځې لپاره د خپل توان او مالي امکاناتو په نظر کې نيولو سره کور او د کور ضروريات په خپل ملکيت، په کرايه، اعاره او يا د وقف له لارې برابر کړي.

الله جل جلاله امر کړی:

**أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ (الطلاق٦)**[1]

ژباړه: هغو ته (د عدت په زمانه کې) په هماغه ځای کې استوګنه ورکړئ چېرته چې تاسې اوسېږئ.

اسلامي فقه د کور يا مسکن کيفيت او شکل مهم نه دی بللی، د پورته ايت کريمه په استناد يې د مېړه د وسې او مالي توان خبره کړې.

اسلامي فقهاو د کور يا مسکن ضرورت لپاره يو بل ايت هم دليل نيولی، الله جل جلاله فرمايلي :

**(وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ )**[2]

د معروف څخه يو هم دا ده، چې مېړه د خپلې مېرمن سره په مسکن کې ژوند وکړي، ځکه له مسکن څخه لاچاره دي، ترڅو د دوې ستر او پرده راشي، دکور او مسکن په ذريعه ښځه او مېړه د نورو د سترګو له نظرونو څخه ساتل کېږي.[3]

## د ملي قوانينو له نظره د استوګنځي تعريف

استوګنځي لرل د افغانستان د اساسي قانون د ۱۴ مادې د احکامو په رڼا کې د هر افغان حق ګڼل شوی، د اساسي قانون د ۳۹مادې د حکم په اساس هر افغان حق لري، چې هېواد هر ګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي، دا چې استوګنځی د هر افغان اساسي او قانوني حق دی، بهتره به وي، چې د قانون په رڼا کې استوګنځی تعريف کړو.

[1] - طلاق سورت، ايت ٦

[2] - سورت النساء ، ۱۸ ايت .

[3]. وهبه، زهيلي. (۱۹۹۷م). مخکنی ماخذ ، ټوک ګڼه : ۱۰ ، پاڼې ګڼه : ۷۳۹۰

## د استوګنځي تعریف

د افغانستان د مدني قانون استوګنځی په دې ډول تعریف کړی دی: د اوسیدلو ځای هغه دی، چې شخص په کې په عادي توګه سکونت ولري، عام له دې، چې دا سکونت دایمي وي یا موقت[1] یا په بل عبارت استوګنځی له هغه ځای څخه عبارت دی، چې یو شخص په عمومي توګه حقیقي او حکمي په هغه کې استوګنه کوي، پرته له دې چې د استوګنې دایمي قصد په هغه ځای کې ولري اودهغه د چارو مرکز وي.[2]

یا په بل عبارت استوګنځی له هغه مادي اوحقوقي اړیکې څخه عبارت دی، چې پرته د تابعیت د اړیکو په نظر کې درلودلو سره د یوه شخص رابطه د یو دولت له خاورې سره تړاو تثبیتوي.

## پرتله

که د اسلامي فقه او مفسرینو نظر د استوګنځي په اړه د مدني قانون سره پرتله کړو، د فقهاوو نظر او تعریف جامع او هر اړخیز دی، ځکه قانون د استوګنځي جزیات نه دي بیان کړي، خو استاذ دکتور وهبة الزحیلي په اسلامي فقه وادلتهُ کې چې د مسکن په اړه د فقهاوو کوم نظر را اخیستی، ډېر کامل اوهر اړخیز دی .

## استوګنځی او استوګنې ته چمتو شوی ځای

هغه ځای دی، په خپل ذات کې د استوګنې لپاره ځانګړی شوی. لکه کور او هوټل، روغتون او محبس هم د ناروغ یا بندي د مؤقتې استوګنې په منظور ځانګړی شوی دی، هغه ځایونه چې په اصل کې د استوګنې لپاره نه دي جوړ شوي او نه د استوګنې لپاره ځانګړی شوي، مګر ځینې کسان د هغې ځایونو څخه د استوګنې لپاره ګټه اخلي، استوګنځی بلل کېږي. لکه کارخانه،

---

[1]. مدني قانون،ټوک ګڼه : اول،(**۱۳۵۵** ش). رسمي جریده، **۵۱** ماده .

[2]. د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. (۱۳۸۷). کابل پوهنتون، حقوقو پوهنځی،پاڼې ګڼه: **۱۵**

تجارت خونه، دوکان او مدرسه، مهمه نه ده، چې په دې ځای کې دې ډېر کسان استوګن وي، کافي ده، چې په دې ځایونو کې یواځې یو نفر لکه مزدور یا ساتونکې استوګنه ولري.[1]

## الف: د اسلامي فقهې له نظره د استوګنځي ډولونه

که چېرته په دقیق ډول د استوګنځي شکل، د اوسېدونکو حالاتو او اوضاع ته پاملرنه وشي، استوګنځی زیات ډولونه لري، د استوګنځي د استوګن وضیعت، حال او کیفیت ته په نظر کولو سره موږ ډېر زیات استوګنځي پېژنو؛ خو په عمومي شکل د اسلامي شریعت د احکامو د تړاو په اساس فقهاوو استوګنځی یا وطن په درې ډولونو ویشلی، اصلي استوګنحی، د اقامت استوګنځی، د سکونت استوګنځی.

### ۱. اصلي استوګنځی

حنفي فقهاء وايي: اصلي استوګنځی، هغه ځای دی، چې انسان پکې زېږېدلی اوهلته يې واده کړی وي، یا د فطرت او کوچنیوالي وطن يې وي.[2]

د شافیعیانو او حنابله په نظر: استوګنځی هغه ځای ته وايي، چې شخص پکې اقامت ولري او د اوړي موسم کې کډه نه کوي.[3]

### ۲. د اقامت استوګنځی

حنفي فقها وايي: د اقامت استوګنځی هغه ځای ته وايي، چې انسان هلته د لنډ وخت د ورتګ قصد لري، دې ته مستعار استوګنځی او یا حادث استوګنځی هم وايي.[4]

### ۳. د سکونت استوګنځی

هغه ځای ته ویل کېږي، چې هلته انسان د سفر مودې د اندازې نه کمه موده استوګن کېږي یعنې په دې ځای کې د پنځلس شپو او ورځو نه کمه اراده ولري.[5]

---

[1]. د افغانستان د اختصاصي جزا حقوقو د پاره د ماکس پلانک لاربنود ، پاڼې ګڼه: ۱۵۱ لومړی چاپ، چاپ کال :(۱۳۹۰هـ ش)

[2] - المبسوط للسرخسي، ټوک :۱، پاڼې ګڼه : ۲۵۲ ، خپرندوي : دار المعرفة
[3] - المغني لابن قدامة ، ټوک ۲، پاڼې ګڼه : ۲٤۲- ۲٤٥ خپرندوي، مكتبة القاهرة
[4] - رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۳۲ ط إحياء التراث
[5] - رد المحتار على الدر المختار ۱/ ۵۳۳ ط إحياء التراث

## ب: د ملي قوانینو له نظره د استوګنځي ډولونه

د افغانستان د مدني قانون په رڼا کې استوګنځی تعریف شو، اوس غواړو د استوګنځي په ډولونو بحث وکړو.

د افغانستان د نفوسو د احوالو د ثبت قانون د درییمې مادې له مخې استوګنځی په دوه ډوله دی.

۱. اصلي استوګنځی

۲. اوسنی (فعلي) استوګنځی

۱. اصلي استوګنځی: هغه ځای دی، چې شخص یا نسبي اصول یې په هغه ځای کې په دایمي ډول اقامت ولري اوهویت یې د هماغه د نفوسو د احوال د ثبتولو په دفتر کې ثبت شوی وي.[۱]

د افغانستان د نفوسو د احوالو د ثبت قانون د فعلي استوګنځي تعریف نه دی کړی، خو په یو بل عبارت یې د نقل مکاني په نوم اصطلاح تعریف کړې ده، لیکلي دي: له یوځای څخه بل ځای ته د شخص د اصلي استوګنځي بدلون دی .

**پرتله**

که د اسلامي فقه له نظره د استوګنځي تعریف او تقسیم ته پاملرنه وشي، ډېره وسیع او پراخه معنا لري، د افغانستان د نفوس د احوالو د ثبت قانون د استوګنځي د ویش وروسته تنها اصلي استوګنځی تعریف کړی، اوسنی او یا فعلي استوګنځی یې نه دی تعریف کړی،دا ددې قانون نقیصه ده، بله دا چې په دې قانون کې د نقل مکاني اصطلاح په پښتو او دري دواړه برخو کې لیکل شوې، چې زما په نظر د (نقل مکان) اصطلاح به سمه او درسته وي، د افغانستان مدني قانون هم تنها استوګنځی تعریف کړی، نور یې په ویش رڼا نه ده اچولې، امید دی، په راتلونکي کې دغه نیمګړتیاوو ته پاملرنه وشي.

د افغانستان د مدني محاکمو اصولو قانون ۸۱ مادې په مدعي علیه باندې د عریضې د محل او موضوع ته د رسیده ګۍ د ذیصلاح مقام په اړه دارنګه صراحت کړی: ( مدني دعوې د مدعي علیه د استوګنې په سیمه کې یوې خوا ته کیږي.

[۱] - عدلي وزرات، رسمي جریده، (۱۳۹۱) دنفوسو داحوالو دثبت قانون ، مسلسله ګڼه ۱۰۸۱، ۳ ماده

که مدعي علیه د استوګنې ځو ځایونه لري، دده پرخلاف مدني دعوې په هغه محکمه کې څېړل کېږي، چې مدعي علیه د استدعا په وخت کې د هغې په قضایي حوزه کې استوګنه ولري).[1]

د افغانستان د مدني محاکمو اصولو قانون د پورته احکامو په نظر کې نیولو سره استوګنځی په اصلي استوګنځي او اوسني استوګنځي (فعلي) استوګنځي باندې تقسیم شوی دی.

په پورته ماده کې د استوګنځي ارزښت او اهمیت د قضایي ادارو په تصامیمو او د قضایي معضلاتو په حل وفصل کې واضح او روښانه دی.

## دویم مطلب: د مصؤنیت تعریف او ډولونه

په دې مطلب کې موږ په دوو موضوعاتو بحث کوو، د مصؤنیت تعریف او د مصؤنیت ډولونه

### د اسلامي فقهې له نظره د مصؤنیت تعریف

۱. **د مصؤنیت لغوي معنی**: د مصؤنیت کلمه عربي ده، اسم مصدر ښودل شوی، اصل یې مصؤنیه ده، د محفوظ، ساتل شوي او خوندي شوي په معنا ده.[2]

۲. **د مصؤنیت اصطلاحي معنی**: په اسلامي فقه کې د امن او خوندي ځخه هدف په عام شکل د خلکو د انساني کرامت خوندیتوب، حریت او عقیدې ازادي ده، د شریرو اوغلو خلکو د شر ځخه د ټولنې خلک خوندي کول دي، ترڅو هر سړی په خپل کور کې په ارامه زړه او مطمین نفس سره ژوند وکړي.

په اسلامي شریعت کې د مسلمان، سر، مال، عزت خوندي او محفوظ دی، د اسلامي عقوباتو فلسفه د مسلمان د مال، ځان اوعزت خوندي کول دي.

د اسلام د جنایي تشریع لومړنی موخه د الله جل جلاله د دین ساتنه او حفاظت دی، همدا دین دی چې د انسان رابطه او اړیکه له الله جل جلاله سره ترتیب او تنظیموي، د انسان اړیکه د انسان سره ترتیب او تنظیموي، د انسان رابطه او اړیکه د خپل نفس سره تنظیموي.

---

[1]. عدلي وزرات رسمي جریده، (۱۳۶۹) دمدني محاکمو اصولو قانون، مسلسله ګڼه ۷۲۲، ماده ۸۱

[2]. معجم المعانی، www.maajim.com ، داخستنې نیټه: ۲۵- ۸- ۱۳۹۷ ش.

د حدودو له اهدافو څخه بل هدف د عقل ساتنه ده، عقل د الله جل جلاله د مهم او لویو نعمتونو څخه ده، انسان الله جل جلاله په همدې نعمت سره د نورو حیواناتو څخه ممتاز ګرځولی، په همدې اساس یې هغه شیان چې عقل ته زیان او ضرر رسوي حرام ممنوع ګرځولي دي.

د نسل او نسب د خوندیتوب په موخه اسلام د زنا د حرمت ترڅنګ د زانیه نکاح د زاني سره او زاني نکاح مزنیه یې سره امر کړی، ترڅو دنسلونو اوانسابو ساتنه اوحفاظت وشي.

مال او ملکیت د انسان د طبیعي غرایزو څخه دي، مال لرل اود مال کسبول دحلالو لارو څخه اسلام نه دی منع کړی،خو څوک چې د بل مسلمان مال په حرامه او ناجایزه لاسته راړوي، د اسلام مبارک دین دغه ډول تصرف منع کړی دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ)**[1]

ژباړه: مسلمان هغه څوک دی، چې بل مسلمان د ده د لاس او ژبې د ضرر څخه خوندي اومصؤن وي .

په دې حدیث شریف کې د اسلامي شریعت په رڼا کې د مصؤنیت او خوندیتوب یو بشپړ مفهوم پروت دی.

## د ملي قوانینو له نظره د مصؤنیت تعریف

دا چې مصؤنیت د امنیت او خوندیتوب په معنا دی، هدف او مقصد یې د تعارض او تیري څخه خوندیتوب او امان دی.[2]

د مصؤنیت معنی او مقصد: د انسان پر حقوقو او ازادیو د هر ډول بې ځایه مداخلې، تصرف او تعارض څخه ویره، ډار او تشویش نه لرل دي.

د افغانستان د اساسي قانون او جزا کود مصؤنیت او خوندیتوب په مختلفو شکلونو تعریف کړی دی .

---

[1] . صحیح مسلم، باب بیان تفاضل الاسلام، ټوک ګڼه :۱ ، پاڼې ګڼه : **۲۵**، حدیث شمره: ۴۱

[2] . عمید ، حسن. فرهنګ حمید ، دریم جلد ، پاڼې ګڼه : ۲۲۶۰

## برائت ذمه

برائت ذمه اصلي حالت دی، شخص ترهغه وخته پورې چې د واکمنې محکمې په قطعي حکم محکوم علیه ګڼل شوی نه وي، بې ګناه پېژندل کېږي.[1]

هېڅ شخص مجازات کېدای نه شي، خو د واکمنې محکمې په حکم، د هغه قانون له حکمونو سره سم چې د اتهام وړ فعل له ارتکاب دمخه، نافذ شوی وي.[2]

## الف: د اسلامي فقهې له نظره دمصؤنیت ډولونه

د اسلامي فقه له نظره خوندیتوب او مصؤنیت په دوه ډوله دی: فردي او شخصي مصؤنیت دی او بل ټولنیز یا سیاسي مصؤنیت، هر یو یې په لاندې ډول توضیح کوو.

۱. فردي مصؤنیت : په فردي لحاظ په اسلام شریعت کې کې د مسلمان مال، وینه اوعزت ټول خوندي او مصؤن دي، که څوک د چا مال، عزت او وینه باندې تیری او تجاوز وکړي، اسلامي شریعت د دې مصؤنیت د تضمین په توګه تیري کوونکي ته د هغه د تیري په تناسب مجازات پیشبیني کړي.

۲. سیاسي مصؤنیت : په اسلامي فقه کې د سیاسي مصؤنیت څخه هدف د دولت او حاکمیت په وړاندې د تعارض نه کول دي، په سیاسي مصؤنیت کې د دولتونو الوتکې، بیړۍ او د هغوی سفیران او نور سیاسي استازي او سیاسي اماکن شامل دي .

## د ملي قوانینو له نظره د مصؤنیت ډولونه

مصؤنیت ډیرډولونه لري: په عام ډول موږ مصؤنیت په دوه ډوله ویشلی شو:

### ۱. فردي یا شخصي مصؤنیت:

د افغانسان اساسي قانون د (۳۴، ۳۷، ۳۸، ۴۰مادو) د حکم په اساس د اشخاصو، وینا، کور، ملکیت او مکالمات د تعارض او تیري څخه خوندي او مصؤن دي.

د وګړو آزادي او شخصي مصؤنیت په دې معنی دی چې ټول خلک د هر ډول تعرض او تیري. لکه وژنه، ژوبله، وهل، توقیف په خپل سري توګه بندي کولو څخه په امن کې دي.

---

[1]. عدلیې وزارت، جزا کود، رسمي جریده، پرلپسې شمېره، ۱۲۲۰، چاپ کال، ۱۳۹۲. ۵ماده.

[2]. مخکې ذکر شوی ماخذ، ۷ماده، ۳ بند

ټول وګړي د هر ډول تبعيض، زورونې، اجباري کډوالۍ، د ټول غير قانوني او خپل سرو مجازاتو څخه په امن او خوندي توب کې دي.

ټول وګړي د هغو اعمالو څخه چې د انساني کرامت اوعزت سره مخالف او په ټکر کې وي. لکه د افرادو خپل سرى بندي کول، توقيف او نظارت کول، استثمار اوغلامي څخه مصؤن او په امن کې دي.

دولتونه مکلف دي، ترڅو خپل مکلفيت درک او خپل قانوني مسؤليت ته په پاملرنه د خلکو د امنيت او د اشخاصو د حقوقو او ازاديو څخه د ساتنې امکانات برابر کړي، ټول هغه احتمالي عوامل چې د خلکو په ازاديو او حقوقو باندې د تعارض او تيري امکانات برابروي، له منځه يوسي.[1]

دولتونه او سياسي رژيمونه مکلف دي، چې د خپلو اتباعو د اساسي حقوقو د خونديتوب لپاره جدي اقدامات وکړي، د خلکو د رفاه او اسوده ژوند تېرولو لپاره امنيت تامين او د خلکو دسر و مال او عزت په درناوي قايل شي، چېرته چې د اتباعو سر، مال او استوګنځی خوندي نه وي، چېرته چې ددولتونو مسؤلين د خپلو اتباعو اساسي حقوق پايمالوي، د خپلو خلکو په ازاديو تېرى او تجاوز کوي، چېرته چې د خلکو عرض او ناموس باندې تيرى او تجاوز کېږي، هلته اقتصاد وده نه کوي،دولتونه او سياسي رژيمونه هم ژر ژر بدلېږي، ولسونه او اتباع د خپل دولت څخه کرکه او نفرت کوي، د دولت د نسکورولو په برخه کې د مخالفينو سره مرسته کوي، نو په کارده، د خلکو د ژوند، مال او ناموس د خوندي توب لپاره د ټولو ممکنه وسايلو څخه په استفاده صادقانه اقدام وشي.

د وګړي شخصي امنيت په حقيقت کې د هغه د ازادۍ او خپلواکۍ ملزمه جز دی، چې د تل لپاره په هر وخت او زمان کې د بشر دنوروحقوقو او ازاديو په پرتله د تيري اوتجاوز لاندې راغلي.[2]

---

[1] - رحيمي، سرمحقق محمد موسی، توضيح مختصر حقوق اساسی اتباع در قانون اساسی ۱۳۸۲ ، دپاڼې ګڼه: ۸، ۹ ، لومړی چاپ، چاپ کال: ۱۳۸۳

[2] - سرور، محقق عبدالقادر، تاريخچه حقوق بشر ،دپاڼې ګڼه: ۵۰، لومړی چاپ، چاپ کال:۱۳۹۴ ، چاپ ځای: دبشرحقوق کميسون

**۲. ټولنيز يا سياسي مصؤنيت**

د افغانستان د اساسي قانون د (**۵۷، ۶۹، ۱۰۱** او **۱۳۳**مادو) د حکم په اساس او د جزا کود د (**۲۱**) مادې د حکم په اساس جمهور رئيس، ملي شورا غړي، قضات او د ملګرو ملتونو، بين المللي سازمانونو کار کوونکي او د هېوادونو د سياسي استازي په افغانستان کې سياسي يا ډيپلوماتيک مصؤنيت لري، چې له ځينو څخه يې دلته يادونه کوو:

پارلماني مصؤنيت: د ملت د وکيلانو د حقوقو او ازادۍ له ساتنې څخه عبارت دی، چې د وکالت په دوره کې د قانون له خوا تصريح شوي وي.

د افغانستان اساسي قانون يوسلو يومه (۱۰۱) ماده دارنګه صراحت لري: د ملي شورا هېڅ غړی د هغې رايې يا نظريې له امله چې د وظيفې د اجرا په وخت کې يې څرګندوي، ترعدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي.[1]

ديپلوماتيک مصؤنيت: هغه مصؤنيت دی، چې د بين المللي قواعدو پر بنسټ د يو هېواد سياسي نماينده چې په بل هېواد کې دخپل مطبوع هيواد په نيابت سياسي دنده اجرا کوي، ورکول کېږي او د جزايي مسؤليت څخه معاف ګڼل کيږي.[2]

د تيلفوني مکالماتو مصؤنيت : هغه قانوني حمايت چې د احکامو په ذريعه د يوه هېواد د اتباعو لپاره ضمانت کيږي.[3]

د افغانستان د اساسي قانون (**۳۷**) ماده د تيلفوني مکالمو د خونديتوب د تضمين په اړه دارنګه حکم کوي: د اشخاصو د مخابرې او ليکونو ازادي او محرميت که په ليکلي ډول وي، يا د تيلفون او تلګراف يا نورو وسيلو له لارې، له تيري څخه خوندي دي.[4]

دولت د اشخاصو دمخابرو او ليکونو د پلټنې حق نه لري، مګر دقانون د حکمونو سره سم.

کله چې دولت غواړي د يو چا تيلفوني اړيکې او تماسونه وڅاري، بايد د محاکمو حکم په لاس کې ولري، د افغانستان د اساسي قانون د احکامو په رڼا کې د خلکو تيلفوني تماسونه له تيري څخه خوندي دي، نه امنيت ملي او نه نورې کشفي ادارې د دې حق لري، چې د چا خبرې او مکالمې وڅاري.

---

[1]. دعدلي وزارت، رسمي جريده، دافغانستان اساسي قانون، ۱۰۱ ماده

[2]. دحقوقي اصطلاحاتو قاموس، دپاڼې ګڼه : **۱۷۵** لومړی چاپ، چاپ کال، ۱۳۸۷

[3]. دحقوقي اصطلاحاتو قاموس، دپاڼې ګڼه : **۱۰۹**

[4]. اساسي قانون ، چاپ کال : **۱۳۸۲**، **۳۷** ماده

خو نن په نړۍ کې ډېرو هېوادونو د خپلو اتباعو دغه اساسي حق نقض کړي، تل د خلکو تیلفونو اړیکي د قانوني جواز پرته څارل کېږي، يو شمېر داسې هېوادونه هم شته، چې د نورو هېوادونو د سیاسي مشرانو تیلفوني تماسونه څاري، د هغوی اړیکي تعقیبوي، دا کار د اسلامي شریعت او نړیوالو اصول خلاف دی.

## ۳. د اماکنو او استوګنځایونو مصؤنیت

د شخص استوګنځی د تیري او تعارض څخه مصؤن دی،ددولت په شمول هېڅوک نه شي کولی،د استوګن له اجازې او یا د باصلاحیته محکمې د قرار پرته د چا کورته ننوزي.

د استوګنځې د مصؤنیت مفهوم څخه هدف د هر چاد کور امن او خوندیتوب دی، هېچا ته د دې اجازه نشته،چې د چا کور ته داخل شي،مګر په هغو حالاتو کې چې د کور استوګن ورته اجازه ورکړي.

ددولت امنیتي مسؤلین هم نه شي کولی چې هر وخت وغواړي، په خپله اراده اوپه خپل سري ډول د چا کورته ننوزي، امنیتي مقامات هاغه وخت کولی شي، چې د یو چا استوګنځی ته ننوزي، چې د قضایي مقاماتو اجازه له ځان سره ولري، یا داچې د مظنون شخص د نیونې په اړه او یاد جرم داثباتیه مدارکو د پیدا کولو په اړه قوي دلایل او قراین موجود وي.

د استوګنځي مصؤنیت په حقیقت کې د وګړو د خصوصي امنیت او ازادیو تکمیلونکی دی. په دې معنی، چې د یو شخص د امنیت اوخوندیتوب مسئله یواځې د هغه سر او مال ته متوجه نه ده، بلکې د شخص استوګنځی هم پکې شامل دی.[1]

## دویم مبحث: د استوګنځي د مصؤنیت تاریخي بهیر

لومړی داسلامي فقهې له نظره د استوګنځي د مصؤنیت تاریخي سیر څېړو او بیا په افغانستان د استوګنځي تاریخي سیر باندې بحث کوو.

### لومړی مطلب: د اسلامي فقه له نظره د استوګنځي د مصؤنیت تاریخي بهیر

د بشري نړۍ د پیدایښت او د انساني پړګنو د ابتدایي ژوند څخه تر نن پورې زرګونه کلونه او سلګونه پېړۍ تېرې شوي دي.

---

[1] - رحیمي، سرمحقق، مخکنی ماخذ، دپاڼې ګڼه: ۵۳

لومړی انسان ادم او جوړه یې بي بي حوا علیهم السلام ول، الله جل جلا جله د دوی د سکونت او تسکین لپاره جنت د دوی مسکن د اوسېدو ځای غوره کړ، د دوی د دې استوګنځي د مصؤنیت لپاره یې د جنت په دروازه کې مار مقرر کړ، امام قرطبي په خپل تفسیر ایات الاحکام کې د دې ایت تفسیر کړی دی، چې لاندې به ذکر شي(وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ)[1]

ژباړه: او هغه په لوړه کولو هغوی ته وویل: چې زه ستاسې ربنتینی خیرغوښتونکی یم.

امام قرطبي په خپل تفسیر کې لیکلي: «شیطان د مار په جوف او خېټه کې جنت ته داخل شو» که په دقیق ډول ځیر شو، شیطان د ادم علیه السلام او حوا بي بي له اذن پرته د دوی استوګنځي ته داخل شو،دا چې د انسان لومړنی استوګنځی جنت دی، د دې استوګنځي د حرمت او مصؤنیت ماتونکی شیطان دی.

د دې حرمت د نقض او د ادم علیه السلام سره د خیانت په وجه مار او شیطان دواړو ته الله جل جلاله جزا ورکړه، مار ته یې په خوراک کې خاورې ورکړې او شیطان یې تر قیامته پورې لعنتي کړ.[2]

که د قران کریم نصوصو اود تېرو قومونو کیسو ته پاملرنه وشي، زرګونه کلونه پخوا هم انسانانو د سړو او تودوخې څخه د خوندیتوب اود خپل ژوند د خوړو او ترخو شېبو د خوندي د تېرولو لپاره په مختلفو اشکالو او مختلفو کیفیتونو استوګنځي غوره کړي دي.

د ځمکې پرمخ داسې قومونه تېر شوي، چې د غرونو دننه یې په ځمځو کې ژوند کولو، غرونه یې تراشل اودغرونو تیږې یې ماتولې او بیا یې پکې ځانته استوګنځایونه جوړول، داسې قومونه هم شته، چې هغوی د څارویو د پوستکو لاندې په خیمو او دخسو او خشاکو تر څپرو لاندې ژوند کولو اوهمدا یې استوګنځایونه و.[3]

د هود علیه السلام د قوم کیسه په قرانکریم کې راغلې اود هغوی استوګنځایونو ته پکې اشاره شوې، په سورت احقاف کې درانګه راغلي: ایا ته نه وینې (ای محمده!) چې څه کړي دي

---

[1]- الاعراف، ایت: ۲۱

[2] - قرطبي، احکام القران ،جلد۷، پاڼې ګڼه: ۱۷۹

[3] - طبري، جامع البیان فی تاویل القران ،ټوک : ۱۷ پاڼې ګڼه : ۲۲۷

رب ستا (له لومړۍ قبیلې) د عادیانو سره چې خاوندان د لویو لویو ماڼیو ول، دارم څخه د قوي اجسامو معنا اخیستې )

داهل تأویل علماء د (إِرَمَ) په تأویل کې وایي، د ښار نوم دی، څنو داسکندریه ښار ښودلی، څنې وایي ددمشق ښار دی، څنو ویلي، چې دعادیانو لومړنی قبیله ده .[1]

## د ثمودیانو استوګنځایونه

قرانکریم د ثمودیانو استوګنځایونه ندي معین کړي، خو د خدای جل جلاله د دې قول څخه څرګندېږي: (او همدارنګه ثمودیان، هغه چې د غرونو تېږې یې ماتولې او په غرونو کې ئې ځانته استوګن ځایونه جوړول )

محمد علی صابوني[2] په خپل تفسیر صفوة التفاسیر کې لیکي: د لومړي ځل لپاره دغرونو کیندنه او د تیږو چول د ثمودیانو قوم کړي، دوی په خپل وخت کې ( ۱۷۰۰) ښارونه د تېږو څخه جوړکړي ول.[3]

د ثمودیانو د استوګنځی په اړه د دې ایت (وَكَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ) ۴

ژباړه: هغوی غرونه توږل کورونه یې جوړول او په خپل ځای ببخې بې تشویشه او ډاډه وو.

په تفسیر کې وایي: د دوی کورونه له تېږوڅخه و، د حجاز او تبوک په ساحه کې استوګن و.

قرانکریم د لوړو لوړو، مظبوطو او جګو جګو ستنو ولاړو ماڼیو په جوړولو کې د دې قوم د مهارت په اړه فرمایي چې دوی به ترخپلې سلطې لاندې سیمو کې په هر لوري داسې دنګې دنګې ماڼۍ جوړولې، چې ګواکې د تل ژوند کولو لپاره یې جوړوي نه د خپل ضرورت د رفع کولو لپاره.[5]

---

[1] - طبري، جامع البیان في تأویل القرآن، ټوک : ۲۴ ، پاڼې ګڼه : ۴۰۴

[2] - شیخ محمدعلی صابونی لوې مفسر دی، په ۱۹۳۰ م کې دسوریي دحلب په ښار کې زیږیدلی، پلار یي دحلب دلوېو علماو څخه و، دشیخ محمد نجیب سراج، شیخ أحمد الشماع، شیخ محمد سعید الإدلبي، شیخ راغب الطباخ، شیخ محمد نجیب خیاط اونورو زیاتو علماوڅخه یي زده کړې کړي، ۴۰ جلدو پورې تالیفات لري .

[3] - صابوني ، صفوة التفاسیر ، ټوک ګڼه: ۲ ، پاڼې ګڼه : ۱۱۵

[4] - الحجر سورت ، ۸۲ ایت

[5] - حکمتیار، دقران پلوشې، ټوک ګڼه: ۳۰ ،پاڼې ګڼه : ۲۵۰ ، ۲۵۱

انسان د خپل ژوند د خوندیتوب لپاره د استوګنځي ضرورت په زرګونه کلونه پخوا حس کړی، چا د تېرو کورونه، چا په ریګستانونو استوګن ځایونه او چا هم د څارویو د پوستونو څخه د خپلې سرپنا او خوندیتوب لپاره چوپړې یا خیمې جوړې کړي وې.

دا چې د کور یا استوګنځي جوړونې اساسي هدف د استوګن خوندیتوب او مصؤنیت دی، په همدې باندې بحث کوو، چې ایا په تېرو قومونو او امتونو کې د کورونو او استوګنځایونو مصؤنیت موضوع مهمه وه اوکه نه؟ ایا دې اصل ته درناوی د هغوی سنت و او که نه؟

په قران کریم کې د انبیاوو د شته کیسو څخه سړی داسې اخذ کولی شي، چې د ابراهیم علیه السلام په زمانه کې هم د استوګنځي د مصؤنیت اصل ته پاملرنه کېده.

کله چې الله جلاجل جله د لوط علیه السلام د قوم د هلاکت اراده وکړه، الله جل جلا جله ورته ملایکې راولېږلې، ترڅو په هغوی د هلاکت عذاب را نازل کړي، خو ملایکو ته امر شوی و، ترڅو مخکې له دې چې عذاب نازل کړي، د ابراهیم علیه السلام میلمانه شي، هغه ته د تنکیو ځوانانو په صورت کې څرګند شي، ابراهیم علیه السلام په سخاوت او مېلمانه پالنه کې ډېرمشهور وو، قران کریم دغه کیسه داسې بیانوي:

**هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ[1]**

ژباړه : بیشکه راغلی وو، زموږ استازي ابراهیم ته په زیري سره، نو وویل (استازو) سلام (وایو پر تاسې) وویل ( ابراهیم ) ( سلام دې وي پرتاسې ) بې له ځنده یې هغوی ته سورکړی خُسکی راوړه).[2]

په پورته پېښه کې د ابراهیم د مېلمانه پالنې د کیسې ترڅنګ د الله جل جلا جله د استازو له خوا د سلام اچونه د ابراهیم علیه السلام د کور د مصؤنیت د اصل رعایت اود داخلېدو اجازت

---

[1]. الذاریات، ایت۲۲، ۲۵، ۲۴

[2]. طباره،عفیف عبدالفتاح،حنیف، خلیل الرحمن، په قران کې دانبیاو کیسې، پاڼې ګڼه: ۱۲۷، ۱۲۲،لومړی چاپ،کاپ کال: ۱۳۹۰

دی، ځکه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: **عن أبي هريرة رضي الله عنه فِيمَنْ يَسْتَأْذِنُ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ قَالَ: لَا يؤذن له حتی يبدأ بالسلام**[1]

د پورته شرعي نص په رڼا کې سلام په خپله استيذان دی او استيذان کورته د داخلېدو اجازت ته وايي.

د تفسير کبير ليکوال امام فخر رازي[2] د راغلو مېلمنو له خوا په ابراهيم عليه السلام باندې د سلام اچولو ډېر وجوهات ښودلي، خو د دې ايت د تفسيرپه اوږده بحث کې په يوه برخه کې ليکلي «د راغلو مېلمنو راتګ يو لوی هيبت و، نو دوی د دې لوی هيبت د رفع لپاره يو لوی شی «سلام» وړاندې کړ، ترڅو ابراهيم عليه السلام له دوی څخه خاطر جمع شي، راغلې ملايکې د انسان په جامه کې وې، ابراهيم عليه السلام نه پېژندل، هغه د انسانانو ګمان پرې وکړ، ځکه خويي ورته سمدستي د مېلمستيا بندوبست وکړ، خو الله جل جلا جله د ابراهيم د تشويش او ويرې د رفع لپاره راغلو ملايکو ته د سلام سپارښتنه کړې وه، په همدې اساس ويلی شو، چې دا «سلام» د الله له لوري و، ترڅو ابراهيم عليه السلام په دې پوه کړي، چې راغلي خلک صالح خلک دي او د ته يې ضررنشته.

امام رازي رحمه الله په بل ځای کې ليکي: «سلام د تعارض او د استوګنځي د حرمت درناوی دی»[3]

د پورته ايه کريمه او د ابراهيم عليه السلام کورته د راغلو مېلمنو د واقعې څخه هم جوتېږي، چې سلام په خپله د استوګن څخه استيذان دی، د خطر د دفع او هيبت د رفع په موخه د سلام لفظ کارېدلی، ويلی شو، چې په تېرو امتونو او قبايلو کې هم د استوګنځي د حرمت او مصؤنيت اصل ته درناوی کېده، د ابراهيم عليه السلام کورته د داخلېدو په وخت د راغلو ملايکو له خوا سلام تقديمول زرګونه کلونه پخوا د کورونو د حرمت او د استوګنځي د مصؤنيت د تاريخي قدامت بېلګه ګڼلی شو.

---

[1]. صحيح بخاري، کتاب الادب المفرد، باب الاستيذا غير السلام، ټوک: اول، حديث شميره: ۱۰۶۶

[2]. ابوعبدالله محمد بن عمربن حسين بن حسن تنيمي بکری طبرستانی رازی، مشهورپه ابن الخطيب، اوفخرالدين يې لقب و، ايرانی مسلمان اومفسر و، په ۵۴۴ هـ ق د ری په سيمه کې زيږيدلی، ۶۰۶ هـ ق په هرات کې وفات شوی.

[3]. رازی، فخرالدين، تفسير کبير، جلد ۱۱ دپاڼې ګڼه: ۱۷۶، مکتبه حقانيه، چاپ کال: ۱۴۳۵

کله چې ملایکې د ابراهیم علیه السلام سره میلمنې پاتې شوې او هغه ته یې وویل: چې موږ د لوط د قوم د هلاکت لپاره سدوم ته تلونکي یو، ځکه هغه قوم له لارې وتۍ، د خدای جل جلاله له حدودو یې تجاوز کړي او په کرغیړن فحاشت روږدي دي، ابراهیم علیه السلام ددې خبرې په اوریدو زړه تنګی او خفه شو، ځکه د سدوم په کلي کې خو د ده د تره زوی لوط هم استوګن و، نو ځکه یې ملایکو ته یې وویل: په هغه کلي کې خو لوط هم شته، ملایکو ورته په ځواب کې وویل، موږ پوهیږو چې هلته لوط شته، خو هلاکت به یوازې په کافرانو پریوزي، راغلو ملایکو ابراهیم علیه السلام پریښود، د سدوم کلي ته یې مخه کړه، په لوط علیه السلام باندې میلمانه شول، په داسې حال کې چې هغه یې په حقیقت نه پوهیده، لوط علیه السلام د داسې میلمنو له راتګ څخه ډیرسخت تنګ شو، ځکه میلمانه ډیرزیات ښایسته و، ښکلي مخونه یې درلودل، هغه له دې وډار شو، چې قوم یې پرې تجاوز ونه کړي، د میلمنو ساتنه خو واجب ده، باید د میلمنو نه کلکه څارنه وکړي، په زړه کې یې ناڅاپي خطرونه راتیر شول، چې د میلمنو په موجودیت کې به دی ورسره مخ کیږي، نو ځکه یې په خپل نفس کې وویل، دا ورځ ډیره بده او دردونکی ورځ ده.

د ناولي قوم ترمنځ د لوط علیه السلام د ښکلو میلمنو خبر خپور شو، ټول په ډیره چټکۍ سره د هغه کورته ورغونډ شول، د هغه د کور شاوخوا یې ونیوله، غوښتل یې چې د میلمنو سره فاحش عمل (لواطت) ترسره کړي.

کله چې لوط علیه السلام خپل قوم ولیده، چې د ده د کور شاوخوا یې نیولې، د دوی په ناوړه هدف وپوهیده، همدا وو، چې د قوم مشرانو ته یې د خپلو لورانو خبره وکړه او ورته یې وویل: دا زما لورانې دي، واده ورسره وکړئ، دغه فاحش عمل مه ترسره کوئ، زما د میلمنو نه لرې شئ، لوط علیه السلام هیله درلوده، ترڅو په قوم کې کوم هوښیار سړی پیدا شي او د ده خبره ومني، د باطل لوری پریږدي، د قوم په مخنیوي کې له ده سره مرسته وکړي او دغه ناوړه کړنې ته یې پرې نږدي.[1]

د لوط علیه السلام د قوم کیسه ډیره اوږده ده، اصل مطلب باندې خبره څرخوو: د لوط علیه السلام قوم د ټولو بدو صفاتو او ناوړه اعمالو سره سره بیا هم د لوط علیه السلام د کور یا استوګنځي حرمت ته درناوی کړی، په قران کې د انبیاوو د کیسو لیکوال عبدالفتاح عفیف

---

[1] - طباره، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۱۷۷ او ۱۷۸

طباره د دې کیسې جریان په واضح ټکو لیکلی، چې د لوط علیه السلام قوم د هغه د کور چار چاپېره راتاو شوی و، خو دا یې نه دي لیکلي، چې د ده د کور حرمت یې مات او د استوګنځي د مصؤنیت د اصل خلاف یې په کور د ننوتلو اقدام کړی وي.

دا چې د استوګنځي مصؤنیت د بشر د طبیعت غوښتنه ده، اسماني ادیانو او تیرو قومونو کې هم دي اساسي بشري حق ته د درناوي نښې او قراین په قراني کیسو کې شته.

د انساني ټولنو د انکشاف او د اسلام د مبارک دین په راتګ سره د کورونو او استوګنځایونو د حرمت او مصؤنیت موضوع په شامل او کامل شکل مطرح شوه، قران کریم په خپلو مبارکو نصوصو کې استوګنځي ته د ننوتلو د ادابو ترڅنګ د کورونو د مصؤنیت او خوندیتوب د اصل په رعایت ډېر تاکید کړي، د قرانکریم مبارک ارشادات د حکمت او فایدې څخه خالي نه وي، د استوګنځي د حرمت په موضوع کې د زنا د فجیع او شنیع عمل څخه د وقایي تدابیردي، داستیذان په رعایت سره، ټولنه د زنا دخطر اود قذف څخه خوندي کیږي.

نبي کریم صلی الله علیه السلام په خپلو مبارکو ارشاداتو کې د مسکوني ځایونو د خوندیتوب په اړه په مکرر ډول د اصولو او ادابو د رعایت سپارښتنې کړې، اسلامي فقهاو په شرعي نصوصو د اتکاء په اساس د کورونو د خوندیتوب او مصؤنیت موضوع د استیذان، استئناس او اداب دخول المنزل، حرمت البیوت او نورو عنوانو لاندې په هر اړخیزه توګه څېړلي، چې په فقهي کتابونو کې د استیذان ترعنوان لاندې یې څېړلی او پیدا کولی شو.

## دویم مطلب: په افغانستان کې د استوګنځي د مصؤنیت تاریخي بهیر

تاریخ په دې ګواه دی چې زموږ ګران هېواد افغانستان، چې یو اسلامي هېواد او اکثریت وګړي یې د اسلام د مبارک دین پیروان دي، په علمي اجتماعي او اخلاقي ډګر کې ځلانده مخینه لري، ډېر محدثین، مفسرین او فقهایي په خپله غېږه کې پاللي او روزلي دي، د استوګنځی د مصؤنیت موضوع د افغانستان په قوانینو کې کومه نوې او تازه خبره نه ده، افغانان اریایان او د دې قوم د غیرت اوهمت په اړه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وړاندوینې شته، په افغاني خاوره میشته قومونه د افغان ملیت په نوم هغه قوم دی، چې د اسلام نه مخکې هم دې قوم خپل وطن کې داسې دودونه اوعنعانات لرل، چې د اسلام سره برابر او د انساني ټولنې مصلحت پکې خوندي و، د کوم وخت راهیسې چې په افغانستان کې د اسلام رڼا خپلې

پلوشي خپرې کړي، دې اصل ته د درناوي موضوع په افغانانو کې لاپسې قوت موندلې، د اسلامي اساساتو په رڼا کې زموږ د هېواد په قوانینو کې هم د استوګنځي د مصؤنیت اصل د رعایت او درناوي لپاره په ډېر تاکید سره یو سلسله اصول او قواعد وضع شوي، چې د افغانستان د اساسي قوانینو په تسلسل کې لومړنی اساسي قانون د شاه امان الله خان (نظامنامه اساسي دولت علیه افغانستان، د دې اساسې قانون په (۲۰) شلمه ماده کې د استوګنځي د مصؤنیت موضوع دارنګه راغلي: (کور او ځای د استوګنې د هر یوه د تابعانو د افغانستان له هر رازه لاس وهلو څخه ساتلی شوی دی، هېڅوک له لوري د حکومت او د بل چا نه، بې له حکمه د نظامنامو د هېچا کور ته جبراً بې له اجازې د خاوند، ننوی نه شي).[1]

د محمد نادرشاه اساسي قانون (د لوړ دولت د افغانستان کلیه اصول) چې په کال ۱۳۱۰هـ ش د عقرب میاشتې په ۸ نېټه توشیح شوې، د دې اصولو (۱۲) شپاړسم اصل د استوګنځي د خوندیتوب موضوع دارنګه تمثیلوي: (کور او ځای د استوګنې د ټولو رعیتو د افغانستان له هر رازه لاس وهلو څخه ساتلی دی، هېڅوک د حکومت یا د بل څوک له خوا بې له حکمه د شرعي او مقرره اصولنامو څخه د هېچا په کور بې له اخېستلي د اذن نشي ننوتی).[2]

د محمد ظاهرشاه د دورې د (۱۳۴۳) هـ ش اساسي قانون، چې د ۱۳۴۳هـ ش کال میزان په ۹ نېټه توشیح شوی، د دې اساسي قانون په (۲۸) ماده کې د استوګنځي د مصؤنیت موضوع دارنګه لیکل شوي: د هر چا ځای د بلوسی نه په امن دی، هېڅوک حتی دولت هم د اوسېدونکی د اجازې یا د یوې واکمنې محکمې له حکمه پرته او بې د هغو حالاتو او لارو چارو نه چې په قانون کې څرګندې ښودل شوي دي، د چا ځاېوېې ته ننوتلی او هغه لټولی نه شي.

د څرګند جرم په وخت کې مسؤل مامور د یو چا ځاېوېې ته بې د هغه یا د محکمې له مخکنۍ اجازې څخه په خپل مسؤلیت ننوتی شي اوهغه لټولی شي، خو دغه مامور په دې مکلف دی، چې د ورننوتلو یا لټولو نه پس د قانون لخوا په ښودلې موده کې دننه د محکمې فیصله لاس ته راوړي.[3]

[1]. عدلي وزرات ، دافغانستان داساسي قوانینو بشپړه ټولګه ، کال ۱۳۸۲ پاڼې ګڼه : ۲۸
[2]. عدلي وزارت ،دافغانستان داساسي قوانینو بشپړه ټولګه، کال ۱۳۸۲ مخ ۲۰
[3]. پورتنې ماخذ، مخ ۱۲۳

د سردار داودخان د جمهوریت د واکمنۍ اساسي قانون چې د ۱۳۵۵ هـ ش کال د حوت په پنځمه نېټه تصویب شوی، د دې اساسي قانون په (۳۵) پنځه دیرشمه ماده کې د استوګنځي د خوندیتوب په اړه دارنګه لیکل شوي: د هر چا کور د بلوسې نه په امن دی، هېڅوک حتی دولت هم د اوسیدونکي د اجازې یا د یوې واکمنې محکمې له حکمه پرته او بې د هغو حالاتو او لارو چارو چې په قانون کې څرګند ښودل شوي دي، د چا کورته ننوتلی اوهغه لټولی نه شي.[۱]

د ببرک کارمل د وخت اصول اساسي جمهوري دموکراتیک افغانستان، چې په ۱۳۵۹ د حمل په ۲۵ نیټه تصویب شوی اساسي قانون دی، په دې اساسي قانون کې د استوګنځي د مصؤنیت موضوع د ۲۹ مادې په ۸ بند کې دارنګه خوندي شوې ده: (د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اتباعو لپاره لاندنی دموکراتیک حقوق او ازادي تامین او تضمینېږي:

.....

۸. د کور مصؤنیت، د مراسلاتو، تیلفوني خبرو، تلګرافي مخابراتو او د مخابراتو د ټولو ډولونو محرمیت د هغو حالاتو نه پرته چې په قانون کې پیشبیني شوي دي.

د داکټر نجیب الله اساسي قانون په ۱۳۶۶ هـ ش کال د قوس په ۹ نیټه تصویب شوی، په دې اساسي قانون کې په (۴۴) ماده کې د کور یا د استوګنځي مصؤنیت د تضمین په اړه دارنګه صراحت کړی: د افغانستان په جمهوریت کې د کور مصؤنیت تضمینېږي، هېڅوک د دولت په شمول نه شي کولای چې د اوسېدونکي له اجازې او له هغو حالاتو او طرز څخه پرته چې په قانون کې تصریح شوی وي، د چا کورته ننوځي او یا هغه ولټي).

د داکټر نجیب الله د دورې د ۱۳۶۹ کال د اساسي قانون تعدیل کې د ۱۳۶۶ کال د اساسي قانون د (۴۴) مادې احکام د استوګنځي د تضمین په اړه په لږې تصحیح سره کټ مټ لیکل شوي.

دجهمور ریس کرزي دوخت ۱۳۸۲ کال اساسي قانون هم دکور دمصؤنیت موضوع تضمین کړی: ددې اساسي قانون ۳۸ ماده دا رنګه صراحت لري: دشخص استوګنځی له تیري څخه خوندي دی، هیڅوک ددولت په ګډون نشي کولی، داستوګن له اجازې یا دواکمنې محکمې له قراره پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، دچا کورته ور ننوزي یا یې ولټي.

---

۱. عدلي وزارت، دافغانستان داساسي قوانینوبشپړه ټولګه، کال ۱۳۸۲ مخ ۲۰۰

## درېيم مبحث: د استوګنځي د مصؤنیت موخې او ګټې

د انساني نسل بقا په کورنۍ پورې تړې ده، دا اداره نوی نسل زېږوي او د ټولنې په ګټه یې روزي، کورنۍ د انسان د لومړني روزنې مسؤلیت لري، انسان له کورنۍ سره ډېره خپلوي پالي، همدا د خپلوۍ احساس وروسته د ده په شخصیت کې څرک وهي، د همدې ځانګړنو له مخې کورنۍ په ټولنیزو ادارو کې تر ټولو مهمه ګڼل کیږي.[1]

دا چې د انسان د نسل بقا کورنې پورې وتړل شوه، نو یوه کورنۍ هغه وخت سالمه او خپل نسل سالم روزلی شي، چې مصؤن او خوندي ژوند او محفوظ ماحول ولري، د بشري پرګنو د نسلونو د دوام، بقاء او په خپل ژوند کې د رفاه او کفا لپاره د خوندي استوګنځي شتون لازمي او ضروري خبره ده.

مصؤنیت په لغت کې خوندیتوب، حفاظت او ساتنې ته وایي، د بشریت تاریخ او اسلامي تمدن ته په پاملرنه د استوګنځي مصؤنیت ځانګړي اهداف او ډېرې زیاتې ګټې لري،غواړم په دې مبحث کې په اول کې د مصؤنیت په اهدافو او بیا یې په ګټو باندې رڼا واچوم:

## لومړی مطلب: د استوګنځي د مصؤنیت موخې

که چېرته موږ د بشري ټولنې اړتیاو او مشاغلو ته توجه وکړو، انسان په خپل ژوند کې د ګڼو حقوقو لرونکی دی، چې په وضعي قوانینو کې ورته اساسي حقوق او په اسلامي شریعت کې ورته فطري یا طبیعي حقوق وایي، د دې حقوقو د ساتنې او ملاتړ په موخه اسلامي شریعت په خپلو نصوصو کې ډېر تاکید او سپارښتنه کړې، د وضعي قوانینو په وضع کې هم دغه حق د اساسي حق په نوم د نړۍ اکثرو هېوادو په قوانینو کې ځای پرځای شوی، د افغانستان اساسي قانون د اتباعو د اساسي حقوقو څخه د ملاتړ ګڼ احکام لري، د مسکن یا استوګنځي لرل د انسان د اساسي حقوقو څخه دي دا چې کور یا استوګنځی د انسان اساسي حقوقو له جملې یو دی، د استوګنځي مصؤنیت هم د اساسي حقوقو په جمله کې د اتباعو د حقوقو په نوم په اساسي قانون کې تسجیل شوی د دې حق خوندیتوب او ساتنه د ګڼو مقاصدو او اهدافو لرونکې ده، غواړم په څو مقاصدو یې رڼا واچوم:

---

[1]. ملک، محمد اصف، انجم، تمګین، ژباړن میراحمد یاد ،سیاسي ټولنپوهنه، دپاڼې ګڼه: ۱۴۸علمي خپرندویه ټولنه،دوهم چاپ، چاپ کال: ۱۳۹۵ هـ ش

**۱. سکون او اطمنان**

دا چې هر فرد د کور لرلو حق لري، کور یا استوګنځي ته مسکن او سکني هم ویل شوي، د استوګنځي د مصؤنیت څخه یو هدف هم امن، سکون او خوندیتوب دی، که چېرته د کورونو او استوګن ځایونو مصؤنیت او حرمت په قوانینو او شریعت کې نه و موجود، هېڅوک به په خپل کور کې ارام نه و، شپه او ورځ به خلک د خلکو په کورونو وردننه کېدل، د چا زړه به هم په ارام نه و، هر چا به د خپل مال اوعزت د ساتنې لپاره څوکیداري کوله، د کورونو د حرمت او مصؤنیت څخه هدف او مقصد همدا دی، چې استوګن او د استوګنځي خاوندان ډاډه او مطمن وي، چې هېڅوک د دوی له اجازې پرته د دوی په مال اوعزت تیری او تجاوز نه شي کولی.

وضعي قوانین باید د استوګنځي مصؤنیت حمایه کړي، ځکه الله جل جلاله مسکن یا استوګنځی د خلکو د تسکین او روحي اطمنان سبب ګرځولی:

**﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثًا وَمَتَاعًا إِلَى حِينٍ﴾**[1]

ژباړه: الله ستاسې لپاره ستاسې کورونه ارام ځایونه وګرځول، هغه د څارویو له پوستکو څخه ستاسې لپاره داسې کورونه پیدا کړل، چې تاسې هغه د کوچ کولو، (حمل ونقل کولو) او دیره کېدو په دواړو حالتونو کې سپک مومئ، هغه د څارویو له وړیو، اُون او وژغنو څخه ستاسې د اغوستلو او غوړولو د استفادې لپاره ډېر شیان پیدا کړل، چې د ژوند تر ټاکلې مودې پورې ستاسې په کار راځي.

امام قرطبي ددې قول: (سَكَنًا) په تفسیر کې لیکي: کورونه ستاسې د سکونت او ارام ځایونه دي، په کورونو کې ستاسې د بدن غړي ارام کېږي، الله جل جلاله د خپلو نعمتونو په جمله کې حساب کړ، که چېرته الله جل جلاله دغه پیروزنه او انعام نه وی کړی، نو انسان به ټول عمر سرګردان او اضطراب کې و. لکه دا نور فلکي اجسام چې همېشه په حرکت دي، یا ځمکه چې ټول عمریي ساکنه ګرځولې.[2]

[1]- النحل، ۸۰ ایت

[2] - قرطبي مخکنی ماخذ، ټوک ګڼه: ۱۰، پاڼې ګڼه: ۱۵۲

بناءً د پورته ایت د تفسیر او ترجمې نه ډېر واضح ده، چې د انساني پرګنو د سکون لپاره د الله جل جلاله ستره لورینه او انعام دی، هغه څوک چې کور نه لري او په لارو او بازارو کې بې سرپنا ژوند کوي، هغوی په ګڼو روحي، عقلي او دماغي امراضو اخته دي، ډېر خلک چې بې کوره شوي، کور او استوګنځی یې د مختلفو عواملو په اساس د لاسه ورکړی، هغوی خپل عقلي توازن د لاسه ورکړی، بیا یې درملنه او معالجه ډېره ستوزمنه ده، ډېر روغ او د سالم عقل خاوندان چې د خپلو فامیلونو د نه مراقبت او څارنې په اساس صحرایي شوي، هغوی بیا همداسې په صحرا او دښته کې خپل ژوند د لاسه ورکړی، د بېلګې په توګه یې د کابل او جلال اباد ښار په ځینو واټونو او پارکونو کې پراته ځوانان چې د یو خوا په نشو اخته او د بلې خوا د کور او استوګنځي د ارام څخه محروم دي، د دوی د ژوند پایله ډېره بده او دردونکې ده.

## ۲. د اسرارو او رازونو ساتنه او خوندیتوب

کور او استوګنځی د انساني پرګنو د شخصي احوالو د اسرارو او رازونو د خوندي ساتلو بهترینه وسیله ده، ځکه قرانکریم کې الله جلا جلاجله په سورت النور کې خپل بنده ګان په درې خاصو وختونو کې په اجازه اخېستلو مکلف کړي، الله تعالی فرمایي:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِّن قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُم مِّنَ الظَّهِيرَةِ وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَّكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُم بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۞ وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ** "[1]

ژباړه: ای مومنانو! لازمه ده، چې ستاسې مینځې، مریان او ستاسې هغه ماشومان چې لا تراوسه پورې د پوهې عمر ته نه دي رسېدلي، په درېیو وختونو کې دې د اجازې په اخیستلو سره تاسې در ته درځي: د سهار د لمانځه څخه مخکې اوغرمه چې کله تاسې جامې باسئ، او د ماسختن تر لمانځه وروسته، دا درې وختونه ستاسې لپاره د ستر وختونه دي، له دغو پرته که هغوی بې اجازې راشي، نو نه پرتاسې څه ګناه شته، نه پرهغوی، ستاسې یو بل ته بیا بیا راتګ

[1] - النور، ۵۸ او ۵۹ ایت

وي، په دې ډول الله ستاسې لپاره د خپلو ويناوو څرګندونه کوي او هغه د پوهې او حکمت څښتن دی.

## ۳. د شک او بدګمانيو مخنيوی

د استوګنځي مصؤنيت د ډېرو شکوکو او بد ګمانيو مخنيوی کوي. نبي کريم صلی الله عليه وسلم به چې کله د کوم سفر څخه بېرته راستنېده، نو خپل کور او فاميل ته به يې خبر ورکولو استوګنځي ته د ننوتلو پر وخت د اصولو او ادابو رعايت د ډېرو بدګمانيو مخنيوی کوي،ځکه که څوک پرته د استيذان او اجازت څخه د چا کورته ننوځي،د کورمالک په داخلېدونکي بد ګمانه کېږي، ډول ډول سوالونه او پوښتنې پيدا کېږي، چې د کومې اړيکې په اساس نوموړی زموږ کورته را داخل شو، که چېرته يوڅوک خپل کورته پرته د ټک ټک څخه داخل شي او خپله مېرمن په نامناسب حالت کې ووينې ډېرې پوښتنې، کرکه او نفرت پيدا کوي، د کورونو او استوګنځايونو د مصؤنيت هدف د شکونو او نفرتونو له منځه وړل او مخنيوی دی.

ډېر وخت پرته د استيذان څخه کورته داخليدل د زنا اسباب جوړوي، کله کله د قذف اسباب او کله د بې مورده اتهاماتو او شکونو باعث کېږي.

د الهي شريعت د حکم په اساس کورونو ته د استناس او سلام پرته داخليدل د همدې هدف په موخه منع شوي، ترڅو څوک نه د بې ځايه قذف تورن شي او نه څوک په زنا کې واقع شي.

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ، أَنَّهُ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ لَيْلًا، فَتَعَجَّلَ إِلَى امْرَأَتِهِ فَإِذَا فِي بَيْتِهِ مِصْبَاحٌ، وَإِذَا مَعَ امْرَأَتِهِ شَيْءٌ فَأَخَذَ السَّيْفَ، فَقَالَتْ امْرَأَتُهُ: إِلَيْكَ إِلَيْكَ عَنِّي ، فُلَانَةُ تُمَشِّطُنِي ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ: «فَنَهَى أَنْ يَطْرُقَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ لَيْلًا»**

په يو روايت کې د عبدالله ابن رواحه څخه په صحيح سند سره راغلي، چې نوموړی خپل د يو سفر څه د شپې راغی، خپلې ميرمن ته يې د تللو عجله وکړه، په کور کې يې رڼا وليدله، د خپلې ښځې سره يې څه وليده، توره يې راواخسته، د دې قصد وکړ، چې دغه ښځه ووهي، ښځې ورباندې غږ وکړ، پام وکړه، دا زموږ فلانۍ ګاونډۍ ده، زما ويښتان جوړوي، بيا رسول

---

[1]. مسند احمد ، ټوک ګڼه:۱۱،پاڼې ګڼه : ۲۵، حديث شميره: ۱۵۷۳۲

الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، هغه یې خبر کړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې څخه منع وکړه، چې سړی د شپې خپل کورته لاړ شي.

**وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَهَاهُمْ أَنْ يَطْرُقُوا النِّسَاءَ لَيْلاً قَالَ: فَطَرَقَ رَجُلاَنِ بَعْدَ نَهْيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلاً.[1] حكم الحديث: صحيح**

ابن عباس رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم، د شپې تګ څخه خپلو ښځو ته د ورتګ نه منع کړو، خو دوه صحابه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منع د امر سره سره بیا هم خپلو کور ته تللي ول، هر یو د دوی د خپلو مېرمنوسره بل کس لیدلی و.

## ۴. د شتمنیو ساتنه

د استوګنځي مصؤنیت خلکو ته دا ډاډ ورکوي، چې د دوی کورونه او استوګنځي له تیري او تعارض څخه خوندي دي، هېڅوک هم نه شي کولی، چې د دوی له اجازې پرته د دوی استوګنځي ته داخل شي، په همدې اعتبار او ډاډ سره خلک په خپلو کورونو او استوګنځایونو کې نغدې پیسې، طلاباب، جواهرات، غلې او دانې او نور ګڼ قیمتي شیان ساتي، که چېرته د استوګنځي د مصؤنیت او حرمت مسله یو لازمي امر نه وي، نو بیا خلکو په خپلو کورونو کې شتمنۍ نه شوی ساتلی، چا هم د اجراات نه شول کولی، چې په خپل کور کې نغدې پیسې، سره زر، سپین زر او نور ارزښتناک شیان وساتي، د کورونو او استوګنځایونو د مصؤنیت یوهدف او مقصد هم د خلکو د شتمنیو او اموالو ساتنه او خوندیتوب دی، که د یوې خوا کور د انسان د روح، عقل او معنویاتو د سکون، صحت او سالمیت تضمین کوي، د بلې خوا د انسان د مالونو، شتمنیو او نورو ارزښت لرونکو توکو د ساتنې تضمین کوي.

کور یا استوګنځي ته حرز بنفسه هم ویل شوی، د فقهاوو په نظر حرز هغه ځای او محل ته وایي، چې هلته قیمت لرونکي شیان او اموال ساتل کېږي، د سرقت د حدودو د تطبیق په موضوع کې د حرز کلمه ډېره مهمه ده، د حرزڅخه هدف د مال د خوندي اېښودلو د مکان څخه

[1]. سنن ترمیذي، ټوک ګڼه : ۴، پاڼې ګڼه: ۳۲۳ ، حدیث شمیره : ۲۷۱۲

ده، د فقهاوو په نظر په هغې غلا کې قطع واجبېږي، چې مسروقه مال په مکان محرز کې ایښودل شوي وي.

د نړۍ اکثره وګړي د عرف او عنعناتو په لحاظ خپل اموال او قیمتي توکي په خپلو کورونو، سرایونو، دوکانونو او بانکونو کې ساتي، کله چې ذکر شوي محلونه استوګنځایونه دي او د مالونو او شتمنیو د ایښودلو او ساتلو مراکز دي، باید د تیري او تجاوز څخه خوندي وي، خو که هر څوک دغه پولې ماتې او د دې سرحد نه اخوا پښه کېږي، بیا د اسلامي شریعت د احکامو مطابق یې لاس قطع کېږي.

که چېرته یو څوک د چا کورته داخل شي یو څه مال د ځان سره را واخلي، خو د کور خاوند پرې له کور څخه د وتلو مخکې خبر شي، غل د کور دننه وي، نو په دې حالت کې د غل لاس نه قطع کېږي، ځکه مسروقه مال د سارق په لاس کې موجود او ثابت نه دی.[1]

## ۵. استوګنځی ستره هستي او لوی نعمت دی

د قرانکریم په مبارکو نصوصو کې کور یا استوګنځی د الهی مهربانیو او سترو نعمتونو څخه یو نعمت بلل شوی، په بشري قومونو او قبایلو کې کور یا استوګنځی د سعادت نښه او لویه شتمني بلل کېږي.

الله جل جلاله فرمایي:

**وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنْبِيَاءَ وَجَعَلَكُمْ مُلُوكاً وَآتَاكُمْ مَا لَمْ يُؤْتِ أَحَداً مِنَ الْعَالَمِينَ (المایده۲۰)**

ژباړه: په یاد ولرئ کله چې موسی خپل قوم ته ویلي وو چې ' ای زما قومه! د الله هغه نعمت در په زړه کړئ چې هغه تاسې ته درپه برخه کړی و هغه په تاسې کې پېغمبران پیدا کړل، تاسې یې فرمان روایان وګرځولئ او تاسې ته یې هغه څه درکړل چې په نړۍ کې یې هېچا ته نه ول ورکړي.

د دې ایت د تفسیر او ترجمې نه دا مفهوم اخېستلی شو، چې موسی علیه السلام خپل قوم ته د نصیحت په ډول د الله جل جلاله د نعمتونو یادونه کوي، د الله د سترو نعمتونو په شمار کې ورته یو هم دا وایي، چې تاسو الله جل جلاله پاچاهان ګرځولي یاست، د (وَجَعَلَكُمْ مُلُوكاً) په تفسیر کې مفسرینو ډېر اقوال ذکر کړي، یو قول دا دی، چې په بني اسرایلو کې به چا کور،

[1]- بدائع الصنائع، الکاساني، علاالدین ابي بکر بن مسعود، کتاب السرقه، ټوک ګڼه: ۲، پاڼې ګڼه ۵ او ۲

ښځه او خادم لرلو، هغه ته به باچا ویل کېده، په یو حدیث کې هم ورته موضوع راغلې: جاء في صحیح مسلم:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ؟ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ: «أَلَكَ امْرَأَةٌ تَأْوِي إِلَيْهَا؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «أَلَكَ مَسْكَنٌ تَسْكُنُهُ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَأَنْتَ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ»، قَالَ: فَإِنَّ لِي خَادِمًا، قَالَ: «فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوكِ»[1]

دپورته حدیث دژباړې مفهوم داسې دی: عبدالرحمن حبلي وایي: دعبدالله ابن عمر ابن العاص نه مې اوریدلي، چې یو کس ورڅخه پوښتنه وکړه، ایا موږ دفقرا مهاجرو څخه نه یو؟ بیا عبدالله صاحب ورته وویل: ایا ته ښځه لرې، چې نژدې والی ورته وکړې؟ هغه ورته ځواب کې وویل: هو بیایې ورته وویل: ته کور لرې، چې پکې استوګنه وکړې؟ هغه کس ورته وویل:هو، نوعبدالله صاحب ورته وویل ته دغنیانو له جملې څخه یې ، بیا دې کس وویل: چې زه یو خادم هم لرم، بیا عبدالله ابن عمر العاص ورته وویل: ته خو باچا یې .

په دولتي قضایي او بانکي ادارو کې کور یا استوګنځی د اعتماد لویه وسیله ګڼل کېږي، ډېر بانکونه د خپلو قروضو په مقابل کې د کور یا استوګنځي قباله په تضمین کې اخلي، ډېر خلک د خپلو لوڼو لپاره هغه کورنۍ انتخابوي، چې هغوي خپل کور یا استوګنځي ولري، په ډیرو قوانینو کې د قضیې د څېړنې او د یو تورن د خوشې کېدو په برخه کې کوریا استوګنځی د اعتماد او باور ټکی دی.

د بېلګې په توګه د افغانستان جزایي اجراتو قانون د (۹۹) مادې د توقیف مشروعیت دلایل بیان کړي، د دې مادې په درېیمه فقره کې داسې راغلي دي : څارنوالۍ او محکمه په یوه له لاندې حالاتو کې د جنحې یا جنایت د مظنون یا تورن د توقیف قرار صادرولای شي:

۱. د جنایت د جرم د ارتکاب په اړه د اثبات د دلایلو د شتون په صورت کې.

۲. د مشهود جرم د ارتکاب په صورت کې.

۳. په هغه صورت کې چې د مظنون یا تورن هویت معلوم نه وي.

---

[1] صحیح مسلم، کتاب الزهد والرقائق،ټوک ګڼه : ۴، پاڼې ګڼه :۲۲۸۵، حدیث شمیره : ۲۹۷۹

۴. په هغه صورت کې چې په جرم کې د مظنون یا تورن د اخفا یا تېښتې وېره موجوده وي.

۵. په هغه صورت کې چې د جرمي مدارکو او سندونو د ضایع کېدو وېره موجوده وي.

٦. په هغه صورت کې چې مظنون یا تورن په اړونده حوزه کې، د دایمي مېشتې (اوسېدو) ځای ونه لري.

د قانون د پورته مادې دشپږمې فقرې احکامو کې د دایمي استوګنځي ارزښت او اهمیت ډېر واضح اوروښانه دی.[1]

## ۶. امن او خوندیتوب

**عَنْ سَلَمَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مِحْصَنٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ، آمِنًا فِي سِرْبِهِ، عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ، فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا»[2] حكم الحديث: حسن**

ژباړه: سلمة د عبید الله بن محصن انصاري او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي، نوموړی وایي، چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: چا چې له تاسې څخه په امن د خپلې کورنۍ او ډلې سره شپه سبا کړه او په بدني لحاظ روغ، جوړ او سالم و، د ورځې خرچه یې ورسره وه، دا شخص داسې دی. لکه ټوله دنیا چې د ده په تصرف کې وي.

د پورته مبارک حدیث څخه هم د امن اوهم د مسکوني محلونو د خوندیتوب ارزښت او اهمیت واضح او روښانه دی، ځکه په ارامه او اطمنان سره شپه سبا کول، په امن او امان محل کې کېږي، کله چې شپه ارامه تېره شي، بدن او نفس هم ارام او دمه شي، د نفس او روح د ارامۍ سره روغتیا او صحت مل وي، نو بیا دغه ډول اشخاص د دنیا پاچاهان دي.

په اسلامي شریعت او وضعي قوانینو کې هر څوک د کور او مسکن لرلو حق لري، ترڅو په ارامه او خوندي فضاء کې ژوند وکړي، امن او خوندیتوب د هر چا غوښتنه او مطلوب شی دی، د پوهانو وینا ده، چې (امن د ډار په مقابل ک داسې دی. لکه ډوډۍ د لوږې په مقابل کې) انسان په خپل ژوند کې امن ته داسې محتاج دی، لکه څنګه چې طعام او خوراک ته اړتیا لري، دولتونه او سیاسی رژیمونه مکلف دي، چې د خلکو د امنیت تضمین وکړي، په هر وخت او هره

---

[1]. عدلي وزارت، رسمي جریده،جزایي اجراتو قانون ، کال (۱۳۹۴) . ۹۹ ماده .

[2]. سنن ابن ماجه،کتاب الزهد ، ټوک ګڼه :۲ ، پاڼې ګڼه: ۱۳۸۷،حدیث شمره : ۴۱۴۱

دوره کې دولتونه مکلف دي، چې د خلکو د ازادۍ او حقوقو د خونديتوب لپاره هر اړخيزه اقدامات وکړي، د نړۍ ډېر هېوادونه ترهر څه زيات لګښت د امن د ټينګښت لپاره په امنيتي تدابيرو او وسايلو مصرفوي.

کور او استوګنځي تر بل هرځای د خونديتوب، استراحت او ستړياوو د رفع کولو مناسب محل او مکان دی، خو که چېرته د کور او استوګنځي مصؤنيت او خونديتوب تضمين نه شي، بيا په کور او استوګنځي کې هم د شخص روح او روان نا ارامه او متاثره وي، کور يا استوګنځی د انسان د پيدايښت نه تر زړښت او مرګ پورې د زياتو روحي او فزيکي ستړياوو د دمې ځای دی، خو که چېرته د کورونو لپاره د مصؤنيت اصل په شريعت او قانون کې نه وي، نو بيا د استوګنځي څخه مطلوب نتيجه نه ترلاسه کېږي، د استوګنځي د مصؤنيت هدف، امن او خونديتوب دی، ترڅو هر څوک په خپل کور کې په ارامه او مطمئنه فضاء کې ژوند وکړي، نه يې له کور څخه د وېستلو ويره وي او نه د غصب، نه يې د مال په اړه تشويش وي او نه د عزت په اړه، استوګن په دې ډاډه وي،چې هرڅه يې په امن کې دي .

## ۷ . د استوګنځي مصؤنيت او حرمت دالله جل جلاله امر دی

په قران کريم کې الله جل جلا جله د استوګنځي دمصؤنيت اوحرمت په اړه ګڼ هدايات او ارشادات لري: اسلام خپلو پيروانو ته د داسې اخلاقو تربيه ورکوي، چې په انسان کې د حيا او شرم خويونه وټوکوي، په قران کريم کې په سورت النور کې الله جل جلاله د کور د مصؤنيت او خونديتوب په اړه په پوره صراحت سره امر کړی، الله جل جلاله فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ)[١]

ای مؤمنانو! له خپلو کورونو څخه پرته نوروکورونو ته ترهغه پورې مه ننوځئ، ترڅو چې اجازه ترلاسه نه کړئ او پرکورنۍ باندې سلام وانه چوئ دا کړنلاره ستاسې لپاره ډېره ښه ده. ښايي چې تاسې به دې ته پاملرنه وکړئ.[٢]

---

١. النور سورت، ايت :٢٧

٢. داسلام جنايي تشريع ،عبدالقادر عوده، هدايت،عبدالهادی، ټوک ګڼه : اول، دوهم چاپ، پاڼې ګڼه: ١٣٥

## ۸. استوګنځی ځانګړی مقام لري

کور یا استوګنځی په اسلامي شریعت کې ډېر لوړ مقام او منزلت لري، ان تردې چې کور یې په هغه څه ځانګړی کړی، کوم چې مساجد پرې اختصاص او ځانګړتیا لري، په صحیح حدیث کې راغلي: **عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اجْعَلُوا مِنْ صَلَاتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ، وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا».**[1]

یو څه لمونځونه خپل په خپلو کورونو کې کوئ، دخپلو کورونو څخه قبرونه مه جوړوئ.

نورو امتونو ته په بل ځای د لمانځه اجازت نه و، خو د اسلام د مبارک دین محمدي امت په هرپاک ځای د عبادت اجازه ورکړه، کور یې ورته د مسجد سره برابر کړ،دخوږ نبي د پورته مبارک ارشاد څخه د کور منزلت او مقام په ډېره واضحه توګه ښکاره کیږي.

## ۹. استوګنځی لرل یو لازمي امر دی

د اسلام دین ټولنیز دین دی، تل یې اجتماعیت او ټولنیزتوب ته ترجیح ورکړې، د بشري ژوند د پرمختګ او خوندیتوب لپاره کور او استوګنځی لرل، یو اشد ضرورت دی، اسلام خپل پیروان هڅولي، چې د خپلې وسې او توان سره مناسب کور ولري، کور یې د ژوند د اساسي ضرورتونو او د انسان د عزت، کرامت او ابرو د خوندیتوب بهتره وسیله ګرځولې، د کور د پراخوالي او بهتروالي امر یې کړی، په لاندې حدیث شریف کې واضح امر دی، چې انسان بلید د خپلې کورنۍ او فامیل لپاره د یو مناسب او پراخه استوګنځي لټه وکړي. **عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا النَّجَاةُ؟ قَالَ: امْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ.**[2]

د پورته حدیث لنډ مفهوم داسې دی: عقبه بن عامر د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، خلاصون او نجات په څه کې دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ، ورته وفرمایل: خپله ژبه دې په واک کې وساته، د کور د پراخۍ کوښښ وکړه او په خپلو ګناهونو وژاړه .

---

[1]. صحیح مسلم، باب صلاة نافلة فی بیت،ټوک ګڼه: ۱ ، پاڼې ګڼه : ۵۳۸، حدیث شمیره:۴۲۵۳

[2]. سنن ترمیذي،ت بشار ،ټوک: ۴،پاڼې ګڼه :۱۸۳ ، حدیث شمیره: ۲۴۰۲

## ۱۰. استوګنځی د سعادت او نیکبختۍ لوی اصل دی

بشري ټولنه په وسايلو او تحسيناتو متکي ټولنه ده، انسان تل په دې هڅه کې دی، چې خپل ژوند او خپله کورنۍ خوندي کړي، د سيالانو سره خپله سيالي برابره کړي، په بشري ژوند کې کور او استوګنځی د سياليو او نيکبختيو يوه ستره وسيله ده، ځوک چې کور لري، هغه په ټولنه کې باور کسبوي، هغه د ټولنې د خلکو د اعتماد وړ شخص وي، خلک ورسره د قرض او نورو تجارتي معاملاتو لپاره زړه ښه کوي، په اوسني وخت کې ځينې بانکونه قرضې ورکوي، د هغوی د قرضو د ورکړې اساسي شرط کور يا ځمکه لرل دي، ترڅو يې د بانک سره په تضمين کې د دې کور يا ځمکې قباله قيد شي، کور د غنا، مالدارۍ او د اقتصادي وړتيا د باور نښه ده، لکه پدې لاندې مبارک حديث کې چې ورته څرګنده اشاره شوې.

**جاء في صحيح مسلم: حَدَّثَنِي أَبُو الطَّاهِرِ أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ سَرْحٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو هَانِئٍ، سَمِعَ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ؟ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ: «أَلَكَ امْرَأَةٌ تَأْوِي إِلَيْهَا؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «أَلَكَ مَسْكَنٌ تَسْكُنُهُ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَأَنْتَ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ»، قَالَ: فَإِنَّ لِي خَادِمًا، قَالَ: «فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوكِ»**[1]

د پورته حديث شريف مفهوم هم همداسې دی، ځوک چې ښځه لري، ځوک چې استوګنځی لري، هغه شخص مالدار او غني بلل کېږي او ځوک چې مزدوران او خادمان لري، نو بيا پاچا ګڼل شوی.

**عن ابنِ عمَرَ رضي الله عنهما قال: ذَكَرُوا الشُّؤْمَ عِنْدَ النَّبِيِّ صلّى الله عليه وسلّم، فَقَالَ النَّبِيُّ صلّى الله عليه وسلّم: (إِنْ كَانَ الشُّؤْمُ فِي شَيْءٍ فَفِي الدَّارِ، وَالْمَرْأَةِ، وَالْفَرَسِ)**[2].

ابن عمر رضي الله عنه وايي: د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په مخکې مو د شوم کلمه ياده کړه، بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که چېرته په کوم شي کې بد او شوم وي، نو په

---

[1] - صحيح مسلم ، کتاب زهد والرقائق ، ټوک : ۴، پاڼې ګڼه : ۲۲۸۵ ، حديث شميره : ۲۹۷۹

[2]. صحيح البخاری، باب مايتقی من شوم المراة ، ، ټوک ګڼه :۷،پاڼې ګڼه : ۸ ، حديث شميره: ۵۰۹۴

کور او استوګنځي کې شوم شته، په ښځه کې شومه او بدبخته شته اوپه اسونو کې هم شوم شته، شوم او بدکورهغه ده، چې تنګ وي. **عن نافع بن عبد الحارث رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (مِن سَعادةِ المرءِ المَسكَنُ الوَاسِعُ، والجار الصَّالح، والمَركَبُ الهَنِي )**[1]

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: د انسان د سعادت او نيکبختۍ له نښو څخه، پراخه استوګنځی، نيک ګاونډی او ښه سپرلۍ ده.

د رسول الله هره خبره د حقيقت او د واقيعتونو اثبات دی، د اوسني عصر پوهانو ثابته کړې، چې تنګ کورونو کې استوګنه د انسان د دماغي او روحي رنځونو لامل کېږي، هغه فاميلونه چې په تنګو کورونو او دنني عصر په اصطلاح په کواټرو کې استوګنه کوي، دا فاميلونه په ګڼو روحي اوعصبي ناروغيو اخته وي.

## دويم مطلب: د استوګنځي د مصؤنيت ګټې

د استوګنځي د مصؤنيت ګټې عبارت دي له:

### ۱. روحي سکون، عقلي او جسمي سلامتيا

سالم عقل په سالم بدن کې وي، د سالم بدن او سالم عقل لپاره مناسب استوګنځی او د تسکين محل يو مهم او ضروري ظرف دی.

کوم خلک چې د استوګنځي څخه محروم ژوند کوي، هغوی د ګڼوعقلي او روحي ستونزو لرونکي وي، د پوهانو له نظره د استوګنځي کيفيت او کميت د انسان په کړنو او چال چلند باندې ډېره اغېز لري، استوګنځی دی، چې انسان د اقليمي تغييراتو پر وخت د هلاکت څخه خوندي ساتي، استوګنځی دی، چې د طبيعي حوادثو لکه د باد، باران او طوفان په مقابل کې انسان په امن کې ساتي.[2]

کله چې يو انسان په روحي لحاظ نا ارامه او غيرمصؤن وي، دغه انسان په عقلي لحاظ متزلزل او هيجاني وي، د هېڅ کار او اقتصادي پروژې لپاره سم او مناسب اقدام نه شي کولی.

[1]. بخاری، کتاب الادب المفرد، ټوک ګڼه: ۱، پاڼې ګڼه: ۲۳۲، حديث شميره ۴۵۷

[2]. صافی، هجرت الله، دکريمنالوژي له نظره دجرم او مجرم څېړنه، پاڼې ګڼه: ۱۵۲ او۱۵۳، چاپ(۱۳۹۳هـ ش). خپروندوی ګودر کتابپلورنځی

استوګنځی د روحي سکون او ارام لپاره مناسب محل او ښه استراحتګاه ده، هغه څوک چې کور او سرپنا نه لري، د هغوی خوب هم نه وي، که وي هم، په مناسب انداز نه وي.

د بي بي سي راديو په حواله د برطانيې يو شمېر ډاکترانو د خپلو تحقيقاتو په نتيجه کې موندلې ده: چې مناسب خوب د انسان دروحي سکون، جسمي سلامتيا او د عمر د اوږدوالي سبب کېږي.

ډېرى څېړنو ثابته کړې، هغه څوک چې کم خوب کوي او يا د حده زيات خوب کوي،هغوی د ډول ډول ناروغيو ښکار شوي، د خوب لپاره مناسب ماحول ته ضرورت دی، مناسب ماحول مسکون محلونه او استوګنځايونه دي، څوک چې په خپل کور او استوګنځي کې ارام او مطمين خوب لري، هغوی په ذهني لحاظ ډېره ښه روغتيا لري، خو د علمي څېړنو په رڼا کې تجربو ثابته کړې، چېرته چې د استوګنځايونو خوا کې کارخانې او ماشينونه وي، شورماشور اوغالمغال وي، د دې استوګنځايونو خلک په دماغي او عصبي اختلالاتو اخته کېدای شي، په همدې اساس د چاپېريال ساتنې اصول او قوانين په ښاري مسکوني ساحو کې توليدلي فابريکو او دستګاوو ته اجازه نه ورکوي، ترڅو د خلکو د مسکوني چاپېريال فضا ککړه نه شي.

## ۲. د شخصيت وده او د استعدادونو پالنه

شخصيت له ماشوم سره يوځای نه زيږېږي، همدا کورنۍ، ټولنه او خپل منځي اړيکې دي، چې د انسان شخصيت ته وده ورکوي، مينه اوشفقت د ماشوم حق دی، که په ښه ډول ورکړل شي، نو پر شخصيت يې مثبته اغېزه کوي او ښه شخصيت يې سالمه وده کوي، د مور او پلار په مينه کې کمی او زياتی د ماشوم د شخصيت پر متوازنه وده منفي اغېزه کوي، ماشوم د محرومۍ احساس کوي او کرکجن کېږي، چې له امله يې شخصيت هم نيمګړی پاتې کېږي، په داسې حالت کې ماشومان او استوګنځي پرځای بهرني چاپېريال ته لېوالتيا ښيي، هلته ځان بوخت ساتي او بيا له هماغه ځايه ډول ډول ډلو سره اړيکې جوړوي، له همدې ځايه بيا د بېلابېلو فسادونوپه لاره روانېږي، په لومړيو کې واړه جرمونه کوي او وروسته ترې بيا لوی مجرمين جوړېږي.

څېړنې ښيي، چې په ډېرو خطرناکو مجرمانو کې زياتره يې هغه خلک وي، چې د کورنۍ مينه او خلوص يې نه وي ليدلی، يا د استوګنځي بهراوسېدلی وي.[1]

نو په خلص ډول ويلی شو، چې کور او استوګنځی د انسان په شخصيت جوړونه او استعداد پالنه کې د يوې صنعتي فابريکې په شکل مهم رول لوبوي، په دې شرط چې کورنۍ سالمه او اجتماعي اصولو ته پابنده کورنۍ وي، د يوې سالمې او مثقفې کورنۍ لپاره مصؤن او خوندي استوګنځي ته ضرورت دی.

## ۳. په ښوونيز بهير د استوګنځي اغېز

په لوړو او منځنيو اقتصادي کچو پورې لـه اړونـدو زده کوونکو سره د دوی د کورني ژوند شرايط هم مرسته کوي، ترڅو ښه درس ووايي.

د بېلګې په توګه زياتره دا ډول زده کووونکي ځانته خپله کوټه لري او د ارامه چاپېريال درلودونکي دي، زيات نفوس او شور ماشور نه يوازې د زده کوونکو د درس ويلو خنډ کېږي، بلکې دغه حالت له درسونو سره د زده کوونکو مينه او لېوالتيا کموي اوپه ټولګي کې يي غيرحاضري زياتېږي.[2]

د حقايقو نه سترګې نه پټېږي، په رښتيا هم هغه زده کوونکي او محصلان چې د زده کړې او تعليم په مرحله کې په مرفه او خوندي خونو کې درس وايي، په کور او ليليه کې هم ځانته مصؤنې او خوندي کوټې لري، د هغوی د زده کړې، لياقت او استعداد پايله مثبته او په لوړه کچه حسابېږي، خو هغه کوچنيان چې په مکاتبو کې مصؤن استوګنځی او خوندي درس خونې نه لري، تر شنه اسمان لاندې درس وايي، دا زده کوونکي د درس سره مينه نه لري، د درس پروخت يې توجه او پاملرنه متمرکزه نه وي، په جسمي ګڼو ناروغيو اخته وي، بلاخره د دغه ډول زده کوونکو په ښوونيز او روزنيز بهير ډېره منفي اغېزه پريوځي.

---

[1]. ملک، محمد اصف، انجم، تمګين، ژباړن مير احمد ياد ،سياسي ټولنپوهنه، علمي خپرندويه ټولنه، چاپ کال ۱۳۹۵ هـ ش دويم چاپ ، مخ ۱۲۰ او ۱۲۱)

[2]. کوئن،بروس، دټولنپوهنې بنسټونه، ژباړن،حسيب الله حيکمزی،لومړی چاپ،کال ۱۳۹۵ ، نوی مستقبل خپرندويه ټولنه مخ ۱۹۰

## ۴. د مال او شتمنۍ خوندیتوب

په ننني نړۍ کې قیمتي توکي او تجارتي اموال، د کورونو اساسیه او نقدې پیسې څوک په ډاک او صحرا نه شي پرېښودی؛ ځکه د سیانس او تکنالوژۍ د پرمختګ سره جرمي وسایلو او جرمي تکتیکونوهم پرمختګ کړی، اوس خلک خپل مواشي مالونه هم همداسې په تش میدان نه پرېږدي، که چېرته چا په لویه لاره د دمې لپاره هم خپل اموال او توکي دیره کړي، خوندي نه دي پاتې شوي، استوګن ځایونه: لکه کور، سرای دوکان، هوټل دا ټول د مادي او معنوي ملکیتونو د خوندیتوب لپاره مهم او ضروري ځایونه دي.

د بشر په تاریخ کې د ډېرو پخوا زمانو راهیسې خلکو د خپل مال او سرمایې د خوندیتوب لپاره په لویو تجارتي لارو کې کاروان سرایونه جوړ کړي ول، ترڅو د دوی مالونه او تجارتي توکي خوندي او محفوظ وي، اوس هم لوی او واړه سوداګر د خپلو مالونو او تجارتي توکو د خوندیتوب او ساتنې لپاره د سرایونو او ګدامونو څخه کار اخلي، د لویو لارو مسافرین هم د شپې تېرولو او د خپل ژوند او مال د ساتنې لپاره په هوټلونو او مسافر خونو دیره کېږي.

## ۵. د موسمي او اقلیمي بدلونونو په مقابل کې وقایه

هرکال څلور فصله اوهر فصل ځانګړی موسم لري، د الله جلاله په دې پراخه نړۍ کې هره وچه ځانته ځانګړی اب و هوا لري، په نړۍ کې مختلف هېوادونه مختلف اقلیمونه لري، ځینې ګرم او ځینې معتدله او ځینې سړه هوا لري، په ځینو سیمو کې ډېر وخت لمر وي، خو په ځینو هېوادو کې میاشتې میاشتې څوک د لمر څرک نهویني، په ځینو سیمو کې وچکالي او کله کله باران اوري، خو په ځینو هېوادو کې زیات وخت اوربښتونه وي، لمرنه وي، دا ټول د انسان په ژوند اغېز او تاثیر لري، د باد او باران څخه د خوندیتوب اود لمر د سوزنده شعاعو څخه د نجات په موخه سرپنا او مسکون ځای ته اړتیا حتمي او ضروري بریښي، د ژمي په سړه هوا او سخته یخنۍ کې استوګنځی د انسان د ژوند د ژغورنې ستره وسیله او د نجات ذریعه ګڼل کېږي، په سختو بادونو، بارانونو او واورو کې انسان د خپل ژوند، مال اوعزت د خوندیتوب لپاره کور او استوګنځي ته پناه وړي، په خپلو سترګو مو ډېر خلک ولیدل، چې د سختې یخنۍ له امله یې په بازارونو، کمپونو او پنډغالو کې ژوند د لاسه ورکړی، ډېرو خلکو د سختو واورو په مقابل کې د مناسب استوګنځي د نه لرلو له امله خپل کوچنیان، زاړه بوډا ګان دلاسه ورکړي،

خلاصه دا چې کور یا استوګنځی د انسان د مادي او معنوي ارزښتونو دخوندیتوب، حفاظت او وقایې مهمه وسیله او د الله جل جلاله د سترو نعمتونو او لورینو څخه لویه لورینه ده.

لکه چې الله جل جلاله په سورت نحل کې فرمایي: وَاللهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ سَكَناً وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتاً تَسْتَخِفُّونَهَا يَوْمَ ظَعْنِكُمْ وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ وَمِنْ أَصْوَافِهَا وَأَوْبَارِهَا وَأَشْعَارِهَا أَثَاثاً وَمَتَاعاً إِلَى حِينٍ ﴿﴾ وَاللهُ جَعَلَ لَكُمْ مِمَّا خَلَقَ ظِلالاً وَجَعَلَ لَكُمْ مِنَ الْجِبَالِ أَكْنَاناً وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ كَذَلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿﴾ }[1]

ژباړه: الله ستاسې لپاره ستاسې کورونه د آرام ځایونه وګرځول، هغه د څارویو له پوستکونه ستاسې لپاره داسې کورونه پیدا کړل چې تاسې هغه د کوچ کولو او دیره کېدو په دواړو حالتونو کې سپک مومئ، هغه د څارویو له وړیو، اون او وژغنو څخه ستاسې د اغوستلو اوغوړولو د استفادې لپاره ډېر شیان پیدا کړل چې د ژوند ترټاکلې مودې پورې ستاسې په کار راځي،هغه د خپلو پیدا کړیو زیاتره شیانو څخه ستاسې لپاره سیوري برابر کړل، په غرونو کې یې ستاسې لپاره پناه ځایونه جوړ کړل او تاسې ته یې داسې پوښاکونه درپه برخه کړي دي، چې تاسې له ګرمۍ نه ساتي او ځینې نور پوښاکونه چې په خپل منځې جګړو کې ستاسې ساتنه کوي، په دغه ډول هغه پرتاسې خپل نعمتونه بشپړوي ښایي چې تاسې امر منونکي شئ.

په پورته ایت کریمه کې الله جل جلاله د خپلو نعمتونو په خپلو بنده ګانو باندې احسان کوي، د کور او استوګنځي ګټې ورته بیانوي او ورته وایي، چې استوګنځی ستاسې د سکون او ارام ځای دی، په سفر او اقامت کې تاسې په کې دمه کېږي.

## څلورم مبحث: د اسلامي فقه پېژندنه

موږ د ژوند د ټولو مسایلو او معاملاتو حل په اسلامي شریعت کې لټوو، خو د اسلامي شریعت د بنسټونو او اصولو څخه په مستقیم ډول د ځینو مسایلو حل او اقتباس ستونزمن کار دی، اسلامي شریعت په رڼا کې د احکامو استنباط د فقهې د علم په لرلو سره اسانه کېدای شي، ددې لپاره چې اصل موضوع او عنوان مو په مسلسله توګه تعقیب کړی وي، بهتره به وي،

[1]. النحل، ایت ۸۰، ۸۱

چې اول کې د فقهې لغوي او اصطلاحي تعریف، د فقهې موضوع او د فقهې ځانګړتیاوې او سرچینه وپېژنو، بیا به د اسلامي شریعت پېژندنې په اړه بحث او څېړنه وکړو:

## لومړی مطلب: د فقه لغوي او اصطلاحي پیژندنه

دا چې اسلام او شریعت ځانګړي مفاهیم دي، غواړم په دې عنوان کې لومړی د اسلام په لغوي او اصطلاحي تعریف او بیا د شریعت لغوي او اصطلاحي تعریف باندې رڼا واچوم:

د فقه لغوي تعریف : فقه په لغت کې په یو شي پوهیدلوته او دهغې په اړه علم او فهم لرلو ته وایي، په اغلب شکل د اسلام د دین په اړه علم لرلو ته وایي .

د فقه اصطلاحي تعریف : په اصطلاح کې د اسلامي شریعت د تفصیلي دلائلو څخه په لاسته راغلو عملي احکامو پوهې لرلوته وایي . [1]

## د اسلام لغوي او اصطلاحي تعریف

حقیقت دا دی چې اسلام هم عقیده ده او هم شریعت، هم آند دی او هم چلند، اسلام، اداب او اخلاق دي، پلان او هدف دی، علم او تربیه ده، پوهه ده او احکام دی، نصوص او اجتهاد دي، دین او دولت دی.[2]

### الف: د اسلام لغوي معنی

دخضوع او قبول په معنی دی، قبولول دهغه څه دي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورباندې موږ ته امر کړی.

### ب: اسلام په اصطلاح کې

په دوو معناوو راغلی

۱. په عامه معنی

۲. په خاص معنی سره

۱. په عامه معنی د اسلام تعریف : په الله جل جلاله ایمال لرل او په عاجزۍ سره د الله د اوامرو منل او د نواهیو څخه ځان ساتل دي، دا هغه کار دی، چې ټولو اسماني دینونو ورته دعوی کړې.

۲. په خاصه معنی سره د اسلام تعریف : اسلام د یو داسې دین نوم دی، چې د دې دین په راتګ سره نورو ادیانو پای وموند. [1]

---

[1] - بحر المحیط للزرکشی جلد ۱ ، ص ( ۱۹، ۲۱ )

[2]. اکرم، احمد ابو وائل، من خصائص شریعتنا الاسلامیه ،WWW.ahmadamieur.com

## د اسلامي شریعت لغوي او اصطلاحي تعریف

غواړم په دې عنوان کې په لومړي کې د شریعت لغوي مفهوم او معنی باندې رڼا واچوم او بیا د شریعت په اصطلاحي تعریف باندې بحث وکړم.

### الف: شریعت په لغت کې

الشَّرْعُ ، وَالشَّرِيعَةُ ، وَالشِّرْعَةُ فِي اللُّغَة : الطَّرِيقُ الظَّاهِرُ الَّذِي يُوصَلُ مِنْهُ إِلَى الْمَاءِ ، يُقَالُ : شَرَعَتِ الإِبِلُ شَرْعًا
شرع په لغت کې مصدر شَرَعَ په تخفیف سره اود تشریع مصدر شرِع په تشدید سره.
شریعت: د اوبو هغې ښکاره لارې ته وايي،چې دهمدې لارې اوبو ته رسیږي .[2]

### ب: اسلامي شریعت په اصطلاح کې

وَالشَّرْعُ فِي الاصْطِلاحِ : مَا سَنَّهُ اللَّهُ لِعِبَادِهِ مِنَ الدِّينِ وَأَمَرَهُمْ بِاتِّبَاعِهِ
عبارت له هغه قواعدو، لارو او نظم څخه دی، چې الله جل جلاله د خپلو بنده ګانو د عقایدو، عباداتو، اخلاقو او معاملاتو د برابرۍ او سمون لپاره رالیږلی ترڅو د انسانانو د دنیا او د اخرت د سعادت او نېکبختۍ سبب شي.[3]

## پنځم مبحث: د ملي قوانینو پېژندنه

حقیقت دا دی، چې قانون د ټولنې د ستون فقرات حیثیت لري، کومه ټولنه چې قانون ونه لري، نو هغه ټولنه د مشکلاتو او ګډوډیو سره مخامخ کېږي، د دې لپاره چې په ټولنه کې ټولنیزې اړیکې او روابط منظم شي او هر شخص وکړای شي، چې خپل ضروریات او احتیاجات، حقوق او امتیازات په ښه شکل ترلاسه کړي، ټولنه او وګړي د هر ډول تعارض او تجاوز څخه په امن کې وي، په ټولنه کې سکون، ارامتیا ، اطمنان، نظم، پرمختګ او انکشاف موجود وي، د بې نظمۍ، ګډوډۍ او فساد مخه نیول شوې وي؛ نو لازمي ده، چې د اسلامي فقهې ترڅنګ وضعي قوانین یا د قدرت لرونکو مقاماتو احکام او دستور العملونه هم موجود وي، نوموړي قوانین باید په داسې ډول وضع شي، چې د خلکو د دین، مذهب عرف اوعادات، ملي افتخارات او ان تر جغرافیوي جوړښت پورې په نظر کې ونیول شي.[4]

---

[1]. د. جباري،المدخل لدراسة الشريعة الاسلامية ، www.google.com داخستنې نیټه : ۲۷- ۷- ۱۳۹۷
[2] - مختار الصحاح (ص: ۱۲۳)
[3] - مختار الصحاح (ص: ۱۲۳)
[4]. واثق، احمد ګل ، دافغانستان دجزا قانون تحلیل ، ( ۱۳۹۵ ل) یارخپروندویه ټولنه ، جلال اباد مخ ۱۲ ، ۱۷ ، ۲۰)

څرنګه چې وضعي قوانین په ټولنه کې د ټولنې د غوښتنې او اړتیا په اثرمنځ ته راځي، نو طبعي ده، چې په لومړۍ مرحله کې یې د ټولنې د احتیاجاتو د محدودیت له کبله قواعد محدود او ضعیف منځته راغلي دي، خو وروسته وروسته یې قواعدو د جوامعو د تطور او د ټولنو د فکري او حیاتي انکشاف مطابق تطوراو پرمختګ کړی او په تدریج سره کره شوي دي، د وضعي قوانینو مثال داسې دی. لکه ماشوم، چې ضعیف او وړکوټی زیږیږي، وروسته بیا کرار کرار وده کوي او لوئیږي، څو رشد او ځوانۍ ته ورسیږي.

د قوانینو تطور، ارتقاء او انکشاف د جوامعو په اجتماعي حل او فکري انکشاف پورې مربوط او تړلي دي، که یوه ټولنه په ګړندیتوب او سرعت سره تطور کوي او مخ په وړاندې ځي، په هماغه اندازه د هغې جامعې قوانین هم په سرعت تطور مومي او که د جامعې سیر او حرکت ضعیف وي، نو قوانین یې هم په سرعت سره تطور نه شي کولی.[1]

د افغانستان ټول موجوده وضعي قوانین زموږ ملي قونین دي، هو د افغانستان د قوانینو په سر کې اساسي قانون ځای لري.

ددې لپاره چې د قانون په اړه پوره او سم معلومات ترلاسه کړو، ښه به وي، چې د قانون د لغوي تعریف څخه یې شروع کړو.

## لومړی مطلب: د قانون لغوي او اصطلاحي تعریف

په دې مطلب کې په دوه موضوعاتو بحث کوو، لومړی د قانون په لغوي معنی او تعریف باندې، دویم د قانون په اصطلاحي تعریف باندې بحث کوو:

### دقانون لغوي تعریف

قانون د یوناني د (Kanun) کلیمې څخه اخیستل شوی چې مستقیم شي، معیار او قاعدې ته ویل کیږي، په فارسي ژبه کې په خپل حال او تلفظ پاتې، دوی اوس هم کانون وایي، خو کله چې عربي ته نقل شو، د کانون څخه قانون جوړ شو، عرب ورته قانون وایي، د دوې په وړاندې یې د مقیاس، قاعدې، نظام او اصل معنی غوره کوي.

[1]. عوده،عبدالقادر،داسلام جنایي تشریح او وضعي قوانین ،مخ ۱۲ او۱۷

۲. همدارنگه ځینې علما وايي: چې د قانون کلمه مفرده ده، چې جمع يې قوانين ده او دا د اصولو په معنی ده، نو د قانون لفظ د نظام معنی افاده کوي، چې مقصد يې ورځخه د يو مشخص امر تکرار دی، چې دا به په يو ډول او د ثابت نظام تابع وي.

۳. يا قانون يوه رومي کلمه ده، چې د هر شي د پرتله کولو واحد ته ويل کېږي، همدارنگه هغه کلي امرته وايي، چې په ټولو جزياتو تطبيق کېدلی شي.[۱]

د قانون د پورته لغوي تعريفونو ځخه سړی پوهېږي، چې قانون د بشري پرګنو د اعمالو تله او ترازو ده، چې د دوی ښه او بد اعمال ورته معلوموي، په دې تلې سره د نيکو او صالحو اعمالو او کړنو اساسي اندازه اومعيارټاکي.

د قانون د لغوي تعريف او پېژندنې وروسته، لازمه ده، چې د قانون اصطلاحي تعريف وکړو.

## د قانون اصطلاحي تعريف

قانون يوصريح او معقول تجويز دی، چې د دولت د ذيصلاح مقاماتو له خوا اتخاذ شوی وي، يانې دغه صريح تجويز چې د عامه ذهنيت نه يې سرچينه اخېستی او دولتي ذيصلاح مقامات هغو ته يو مکتوبه او تحريري بڼه ورکوي، يا په بل عبارت قانون هغه صريح او الزامي اوامر دي، چې په مکتوبه صورت د ذيصلاح مقاماتو له خوا وضع او تدوين شوي او موخه ورځخه د ټولنې د راتلونکي ژوند لارښوونه ده.[۲]

قانون د هغه قواعدو مجموعه ده، چې هدف يې په ټولنه کې د افرادو د سلوک تنظيمول وي، او د اړتيا په صورت کې د لوړو مقاماتو له خوا مخالفت کوونکي ته د مناسبې جزا ورکولو سره مل وي.[۳]

په عربي ژبه کې د قانون کلمه د يو شي د اصل او مقياس په معنی ده، د قانون پوهانو په اصطلاح کې د قواعدو مجموعه ده، چې په ټولنه کې د خلکو سلوک او چلند تنظيموي، خلک يې په منلو مجبورېږي.

---

[۱]. صافی، شمس الاسلام ، دقانون جوړونې اصول، پاڼې ګڼه: **۵**

[۲]. ستانکزی، نصر الله ،ژباړن، ګل رحمن رحماني،دحقوقو مبادي، پاڼې ګڼه: ۱۱۱ ،دريم چاپ ګودر خپرندوي ټولنه

[۳]. صافی، شمس الاسلام ، دقانون جوړونې اصول، پاڼې ګڼه: ۸

همدارنګه لکه څنګه مو چې مخکې وویل: قانون یوه مجموعه ده، چې د دولت له خوا وضع کېږي او یا لازمېږي، د خلکو اړیکې یو د بل سره ټینګوي، د دولت اجرایه قوه تنظیموي، ترڅو د قانوني قواعدو او احکامو د رعایت څخه څارنه وکړي.[1]

د قانون تعریف د قانون په ژبه: قانون د هغو الزامي حقوقي قواعدو مجموعه ده، چې د افغانستان اساسي قانون د څلورنویمې مادې د حکم مطابق د پړاونو څخه تېر شوی وي.[2]

## دویم مطلب: د قانون موخې

د قانون د موخو په اړه حقوق پوهان بېلابېل نظرونه لري، چې په لاندې توګه ورته اشاره کوو:

د ځینو حقوقپوهانو په نظر د قانون څخه هدف په ټولنه کې د واکمنې طبقې د منافعو او ګټو تامینول دي، د ځینو نورو په نظر د حقوقو او قانون هدف ټولنیز نظم او د خلکو امنیت ساتل دي، ځیني نور بیا دحقوقو اوقانون موخې د منافعو د تضاد له منځه وړل او ټولنیزو مرستو لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول ګڼي.

د مسلمانو حقوق پوهانو په نظر د حقوقو او قانون هدف د عدالت اجرا کول او د ټولنې وګړو ته د هغوي د حقوقو ورکول دي، چې د ټولنې په نظم او امنیت کې زیات کومک کوي، او انسانانو د اخلاقي او معنوي انکشاف لپاره د یو مناسب چاپېریال رامنځته کول دي، نو ځکه ویلی شو، چې په هغه ټولنه کې چې عدالت اجرا نه شي، نو د قانون موخې هم په صحیح ډول لاسته نه شي راتلی.

په لنډه توګه ویلی شو، چې د قانون سترهدف په ټولنه کې دعدالت اجراء کول او د انساني امنیت تامینول دي.[3]

## دریم مطلب: دقانون انواع ( ډولونه )

قانون دمختلفو اړخونو له مخې طبقه بندي کیږي، دقانون مشهوره ویشنه او تصنیف دمرتبو دسلسلې له حیثه دی، بل تصنیف یې دمتن او شکل له حیثه دی، دمراتبو دسلسلې او یا هم دقوت او ضعف په لحاظ قوانین په درې ډوله ویشل شوي، چې عبارت دي له : اساسي

---

[1]. عبدالکبیر،عبدالباقي، تقنین الشریعة الاسلامیة، چاپ کال ۲۰۱۰م دلان علمي او ثقافتي مرکز ، پیښور، مخ ۱۰،۹

[2]. تقنیني سندونودبرابرولو اول له پړاونوڅخه دتیرولو دډول مقرره ، پرلپسې شمیره(۱۰۸۱) رسمي جریده، عدلي وزارت ، مخ ۲

[3].صافی، شمس الاسلام ، دقانون جوړونې اصول ، مخ ۱۹او۲۰

قوانینو ، ارگانیکي قوانینو او عادي قوانینو څخه ، چې هریو یې اوس په جلا جلا ډول مطالعه کوو :

## لومړی جز : اساسي قانون

اساسي قانون دیو هیواد دملي حقوقو په سیستم کې دلوې اهمیت څخه برخمن قانون دی، ځکه چې اساسي قانون دهر هېواد دملي حقوقو اساسي او عمده وثیقه ده، چې دهر هېواد دټولنیزو ، اقتصادي ، سیاسي ، ملي جوړښت مناسباتو ته انعکاس ورکوي . [1]

**داساسي قانون تعریف** : هغه عام مقررات دي، چې دیوې ټولنې دلارښوونکو قواعدو په راس کې قرار لري او هدف یې ددولت دعمومي چارو تنظیم او دهغه متشکله عناصرو او بالاخره دخلکو حقوقو ازادي ، مکلفیتونه او وجائیب تثبیتوي . [2]

## دویم جز:ارگانیکي قوانین

ارگانیکي قانون ته په انګلیسي کې (Organic Law ) وایي او په فرانسوي کې (Loi Organique) ویل کېږي او په فارسي لیکنو کې ورته بنیادي قوانین یا سازماني قوانین ویل کېږي، تعریف یې په لاندې ډول دی.

هغه قوانین چې د عمومي قواوو د کړنو او سازمان او د خلکو د حقوقو سره اړیکه ولري، خو د اساسي حقوقو په څیر شمولیت او کلیت ونه لري،عبارت له اورگانیکي قوانینو څخه دي.

په همدې ډول ویل کېږي، چې ارگانیکي قوانین هغه قوانین دي، چې اساسي قانون په صراحت سره پارلمان د هغې په تصویب مکلف کړی وي او د هغه لپاره یې خاص تشریفات په پام کې نیولي وي.

د فرانسې د اساسي قانون د **۴۲** مادې له مخې اورگانیکي قوانین عبارت له هغو قوانینو څخه دي، چې په اساسي قانون کې پیش بیني، د خاصو تشریفاتو له مخې تصویب او الزاماً د اساسي قانون شورى ته د نظارت په منظور استول کېږي.

ددې توضیحاتو په نظر کې نیولو سره هرهغه قانون چې لاندې اوصاف ولري، اورگانیکي قانون ورته ویل کېږي:

[1] - مبادې حقوق، حکمت ، سید عبدالحکیم ، نهم چاپ، **۱۳۹۷**، مومند خپرندویه ټولنه ، مخ ۸۳او
[2] - مبآدي حقوق، ستانکزی، نصر الله ، مستقبل خپرندویه ټولنه ، کابل ، چاپ کال: ۱۳۹۰ ، مخ ۱۸۶

۱. د موضوع په لحاظ دغه قوانين د اساسي حقوقو، د نظام سياسي جوړښت، انتخاباتو، سياسي ګوندونو، ډليزه رسنيو، د افرادو حقوقو او وجايبو پورې اړه ولري.

۲. دا چې په اساسي قانون کې د ټولو موضوعاتو تفصيل راوړل ممکن نه دي، نو د نوموړو تفصيلاتو لپاره د اساسي قانون مقنن پارلمان ته دنده سپاري، چې په دې برخه کې نور قواعد وضع کړي، چې همدغه قواعد اورګانيکي قواعد دي.

۳. اورګانيکي قوانين له نورو قوانينو سره د تصويب په تشريفاتو کې توپيرلري، د بېلګې په توګه د تصويب پرمهال د مطلق اکثريت ترلاسه کول او داسې نور تشريفات ورته په پام کې نيول کېږي، يا په لنډيز سره ويلی شو، هغه قوانين چې د اساسي قانون متن تکميلوي، اورګانيکي قوانين بلل کېږي.[1]

## دريم جز : عادي قوانين

عبارت له هغه قوانينو څخه دي، چې د ايجاد لپاره په اساسي قانون کې غوښتنه نه کېږي، بلکې د دغه قانون د ايجاد غوښتنه خپله مربوطه ارګان يا عدليې وزرات او يا هم د پارلمان له خوا کېږي او د غوښتنې سره يوه خاکه هم ورته جوړوي، کله چې يې خاکه په عدلي وزارت کې اصلاح او تائيد او مسوده يې جوړه شي، بيا د تصويب لپاره د اساسي قانون په څير خاصو تشريفاتو ضرورت نشته.[2]

لنډه دا چې د افغانستان وضعي قوانين هم د اسلامي شريعت نه په پيروی ترتيب او وضع کېږي.

وضعي قوانين تل زيار باسي،دبشري ټولنو مصالح او ګټې خوندي کړي، که د شريعت هر اصل په دقيقه او ژوره توګه وڅېړل شي، غايه اوهدف يې د انسان خير اود جامعې مصلحت دی، په اسلامي هېوادونو کې د تقنين په برخه کې زيار ويستل کېږي، چې همدې اصل ته په پاملرنه د قانون احکام وضع شي،دافغانستان د وضعي قوانينو مراجع او مصادرهم اسلامي شريعت،عرف اودکتورين دي، داستوګنځايونو د مصؤنيت موضوع يوه عامه او انسان شموله موضوع ده، په ټوله دنيا کې دې ته اصل د درناوي احکام شته، ان شا الله ددې موضوع په څېړنه

[1]. هماغه عبدالحکيم حکمت ، مخ ۸۳او ۸۴

[2]. واثق، احمد ګل ، مبادي حقوق دويم چاپ (۱۳۹۳) مخ ۱۲۳

کې به واضح شي، چې د افغانستان قوانینو د اسلامي شریعت او د افغان ملت د قوي او منل شوي عرف په درناوي دې اصل ته ډېره توجه او ځانکړې پاملرنه کړې، د استوګنځي د حرمت او مصؤنیت په اړه په شکلي قوانینو کې د کشفي پولیسو د اجراتو د تنظیم په موخه ګڼ احکام لیکل شوي، همدارنګه د افغانستان پخواني جزا قانون او جزا کود هم د استوګنځي د حرمت موضوع روښانه کړې، سرغړونکو ته یې د حال او اوضاع سره سم مجازات پیشبیني کړي دي.

## دويم فصل

## د استوګنځی مصؤنيت په اسلامي فقه او ملي قوانينو

د استوګنځي د مصؤنيت موضوع ډېره مهمه اوپه نړيواله سطحه ډېرو هېوادونو په خپلو قوانينو کې دې اصل ته د اتباعو د اساسي حق په سترګه کتلي، په دې فصل کې د استوګنځي د مصؤنيت اهميت په اسلامي فقه، نړيوالو اسنادو او ملي قوانينو کې څېړو.

### لومړی مبحث: د استوګنځي د مصؤنيت اهميت په اسلامي فقه کې

استوګنځی يا مسکن د انسان د مال، نفس او عرض د خونديتوب لپاره معاصره وسيله ده.

هر ټولنيز نظام د ټولنې د اداري او رهبرۍ په موخه ځانګړو حقوقي قوانينو او احکامو ته اړتيا لري، ترڅو د همدې قوانينو او لارښوونو په رڼا کې عدالت او مساوات په ټولنه کې حاکم او برقرار شي، د ټولنې نظم اوامنيت خوندي او خلک د ټولنيزو ناامنيو، ستونزو او خطرونو (جناياتو او جرمونو) څخه په امن کې پاتې شي، د اسلام اجتماعي نظام هم د دې ځانګړتياوو څخه خالي نه دی، په دې برخه کې د اسلام اجتماعي نظام د هر اړخيزه او تفصيلي احکامو او قوانينو لرونکی دی، چې عبارت دي له قضايي حقوقی سيستم او جزايي حقوقي سيستم څخه.

اسلام د فرد او جامعې په جوړولو کې د اجتماعي نظام په حيث هم د فرد شخصيت او حيثيت محترم ګڼلی، هم يي د جامعې خير او مصلحت په نظر کې نيولی، کله چې د جامعې خير او مصلحت تر تهديد لاندې راشي، نو اسلام يي د خونديتابه په موخه يو لړ تدابير ښودلي دي، ځينې سپين سترګي خلک اسلامي شريعت تشريعي مجازاتو او حدودو ته په سپکه سترګه ګوري او ان تر دې چې په بشري حقوقو يي تيری او تجاوز بولي، دا خلک د اسلام څخه سم فهم نه لري او د اسلامي شريعت په عامو مقاصدو يي سر نه دی خلاص.

اسلام د ژوند د ټولو چارو لپاره يو داسې شامل او کامل دين دی، چې يوازې د عباداتو په بيان سره يي بس والی نه دی کړی، بلکې د دنيايي ژوند د ټولو چارو د تنظيم او سمون لپاره يي امر کړی دی، بشري نړۍ ته داسې تګلاره راليږلې، چې په همدې تګلارو باندې د تګ په نتيجه کې د کاميابۍ لار موندلی شي، چا چې د خپل رب په ليکه تګ وکړ، هدف ته ورسېده او خپل ځان يي وژغوره، چا چې د دې سمې ليکې نه غلط پل کېښود، بيا اسلام ددې ډول کج لارو او

ګمراه خلکو لپاره د دوی د اعمالو مطابق مجازات ټاکلي، مجازات فقط مجازات نه دي، بلکې د اسلام په مبارک دین کې دحدودو د تطبیق څخه مقصد ځانګړي اهداف دي، چې د همدې حدودو په واسطه اسلام ټولنه د خطر او رذیله وقایعو څخه وساتي، دا چې اسلامي شریعت عبارت دی له قران، سنتو، اجماع او قیاس څخه، بهتره به وي، چې د استوګنځي د مصؤنیت دلایلو لټه په اسلامي شریعت کې د اسلامي شریعت د لومړي مصدر قران کریم څخه پیل کړو:

## لومړی مطلب: د استوګنځي مصؤنیت دلایل په قران کریم کې

قرانکریم د اسلامي شریعت د لومړي مصدر او منبع په توګه د بشري ژوند د تنظیم او سکون لپاره بشپړ قواعد وضع کړي دي، کور ته د راتګ او دخول اصول او اداب، په کورکې دننه د ښځې، خاوند او بچیانو د ګډ ژوند اصول او قواعد يي په ډېره روښانه او واضحه توګه اسلامي امت او انسانیت ته ښودلي دي، ترڅو د خیر په طرف قدمونه واخلي او د مفاسدو څخه ډډه وشي.

کور او استوګنځی هم د هغو ځایونو څخه دی، چې د انسان رسمي مکلفیت او دندې وروسته، کورته په ستنیدو سره يي د دندې ټوله ستړیا ختمېږي، په فزیکي او روحي لحاظ تسکین او دمه کېږي.

نو د دې لپاره چې د انساني پرګنو د ستړیاوو او ستومانیو دغه تسکین کوونکې مرجع خوندي وي، اسلامي شریعت په خپلو مصادرو او نصوصو کې د استوګنځي د خوندیتوب ترڅنګ، استوګنځي ته د ننوتلو ادابو په خوا کې، د استوګنځي د حرمت او درناوي سپارښتنې کړي.

د قران کریم پیل په سورت فاتحې سره شوی، که دفاتحې سورت په دقیق ډول تفسیر او ترجمه شي، په فاتحه کې انسان ته لارښوونه کېږي، چې انسان او په ځانګړې توګه مسلمان باید دالله جل جلاله څخه په سمې او صراط مستقیم لارې باندې د برابر تګ سوال او دعا وکړي، سمه لاره هغه ده، چې الله پاک خپلو نیکو او صالحو بنده ګانو ته ښودلې ده، هغه بنده ګانو ته کوم چې الله جل جلاله ورته د دارینو سعادت په برخه کړی.

د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم حکم د قران له مخې هغه ستر او اوچت قانون( Supreme Law) دی،چې په مقابل کې يي د ایمان خاوندان یوازې د اطاعت لاره خپلولی شي، په کومو چارو کې چې الله جل جلاله او د هغه رسول حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پریکړه

کړې وي، نو په هغې هېڅ مسلمان د خپله ځانه د ازادې پرېکړې د کولو واک نه شته او د دغې پرېکړې څخه کوږ والی د ایمان ضد عمل دی.[1]

قران کریم د اسلامي شریعت لومړی مصدر او د بشري ژوند د ستر لارښود او اعلی قانون په توګه د انسانانو په ژوند کې د پيښېدونکو قضایاوو، وړو اوغټو مسایلو د حل لاره یې یا په اجمالي توګه او یا هم په تفصیلي توګه بیان کړې ده.

الله جل جلاله په سورت بقره کې فرمایلي:

﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْأَهِلَّةِ ۖ قُلْ هِىَ مَوَٰقِيتُ لِلنَّاسِ وَٱلْحَجِّ ۗ وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُوا۟ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٨٩﴾﴾[2]

ژباړه او تفسیر: خلک ستا څخه د سپوږمۍ د نرۍ کېدو او غټېدو په باب پوښتنه کوي، ورته ووایه (دا د خلکو لپاره د نېټو ټاکلو او د حج نښانې دي.) دا هم ورته ووایه: (دا ښه کار نه دی، چې تاسې خپلو کورونو ته د هغو د شا له لوري ننوځئ) اصلي نیکي (ښه کار) خو داده چې انسان د الله له خپه کولو څخه ځان وژغوري، نو تاسې خپلو کورونو ته د دروازې له لارې ورشئ، له الله څخه ویریدونکي اوسئ، ښایي چې بریالیتوب درپه برخه شي.

تفسیر: په تفاسیرو کې دا هم راغلي، چې ځینې عرب به له حج نه وروسته خپلو کورونو ته د دروازې له لارې نه ننوتل، یا به یې د شا له دیواله کورته دانګل، یابه یې نوې دروازه پرانیسته او کورته به داخل شول، دا یې د تقوی نښه ګڼله، په دې ایت کې له یوې خوا مومنانو ته لارښوونه شوې، چې هر کار له خپلې طبیعي لارې ترسره کړی، عجله مه کوئ، په یوه څه د پوهېدو لپاره له دروازې داخل شئ، نه له شا او غیرطبیعي لارې، د بلې خوا د سعادت او فلاح د عواملو په اړه د یو جاهل قوم انګېرنه او تصور معرفي شوی، دوی په داسې منحطو شکلیاتو کې دین خلاصه کړی، دېته یې د تقوی نوم ورکړی او په دې سره دنیوي سعادت او اخروي فلاح ترلاسه کول غواړي، د دین له روح نه غافل شي، د دین اساسي خبرې شاته وغورزوي، الله هیر

[1]. خلافت او ملوکیت، مودودي، سید ابواعلی، قریب الرحمن سعید، پاڼې ګڼه: ۲، ۲۹، چاپ: (۱۴۲۸) پیغام خپرندوی مرکز، قصه خوانی پېښور،

[2]- البقره (۱۸۹) ایت

کړي، د شرک مرتکب شي، منافقت او خیانت کوي، د یوه بل وینې توي، خو همدا دوی به د خپلو ټولو سترو سترو انحرافاتو سره سره په فروعي مسائلو سخت ټینګتیا وي او دا به د خپلې تقوی نښې ګڼي.[1]

﴿وَلَيْسَ ٱلْبِرُّ بِأَن تَأْتُواْ ٱلْبُيُوتَ مِن ظُهُورِهَا وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنِ ٱتَّقَىٰ ۗ وَأْتُواْ ٱلْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَٰبِهَا ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾[2]

د پورته ایت په تفسیر لیکل شوي: کله به چې انصارو حج لپاره احرام وکړ، نو د احرام تړلو وروسته به که کوم حاجي خپل کور ته د حج د مراسمو د بشپړتیا مخکې د تګ اراده وکړه، نو بیا به په دروازه کورته نه داخلېدو، بلکې د کورونو شا ګانې به یې نړولې او خپل کور ته به داخلیدل یا به د کورنو د چتونو د سوري کولو وروسته کور ته داخلیدل، د دوی عقیده داسې وه، چې د محرم شخص او د اسمان ترمنځ باید حایل واقع نه شي، الله جل جلاله د دوی دغه عرف او عادات جاهلیت بولي او دوی ته وایي، چې دا عبادت نه دی او نه نیک کار دی، بلکې له الله څخه ویره نیکي او عبادت دی، نیک کار کورونو ته د دروازو له لارې راتګ دی.[3]

دطبیعت تقاضا داده، چې استوګنځی دارام او سکون ځای دی ، استوګن پکې باید خوندي او مصون وي، داچې داسلام مبارک دین دفطرت دین او دسالم فطرت دخاوندانو ټولې غوښتنې په پام کې نیسي، نو کور او استوګنځي ته دورتلو احکام یې هم موږ ته بیان کړیدي .

په سورت النور کې الله جل جلاله د ایمان خاوندانو ته امر کوي، فرمایي:

یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُیُوتًا غَیْرَ بُیُوتِکُمْ حَتَّی تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَی أَهْلِهَا ذَلِکُمْ خَیْرٌ لَکُمْ لَعَلَّکُمْ تَذَکَّرُونَ

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مومنانو) مه ننوځئ تاسې (هغو) کورونو ته چې غیر وي، له کورونو د تاسې، ترهغه پورې چې (اجازه وغواړئ او) سره وغږېږئ (له بهره او

[1] - حکمتیار، مخکنی ماخذ مخ (۱۲۷)
[2] - البقره سورت، ۱۸۹ ایت
[3]. حسن خان، محمد صدیق، نیل المرام ، چاپ کال ۱۳۴۷ هـ ق اول جلد ، مکتبه رحمانیه، مصر، مخ ۲۵

اذن واخلئ) او سلام واچوئ پر اهل د دوی دغه (اخبار او استیذان) د تاسې خير بهتر دئ پر اوغوره دی تاسې ته ( له ننوتلو د بې اجازې څخه ) ښايي چې پند واخلئ تاسې (په دې سره).

تفسير: يعنې پرته د خپلې خصوصي هستوګنې له کوره د بل چا د هستوګنې په کور کې هم داسې په خپل سر بې خبره مه ننوځئ! ولې تاسې نه يې خبر چې هغه ستاسې د ننوتلو په وخت کې په څه حال دی؟ آيا دی په دغه حال کې د بل چا په ورتګ خوښيږي، که خفه کيږي، لهذا پخوا د ننوتلو څخه ښايي ورنارې کړئ او ځانته اجازت حاصل کړئ او له ګردو (ټولو) نارو څخه بهتره سلام اچول دي .

کورته داجازت نه غير دننوتلو دممانعت وجه داده، چې ترڅو دکور دننه زنانه ونه ليدل شي، يا دانسان دبدن هغه ځايونه چې دنورو څخه يي دحياء په وجه پټوي، ونه ليدل شي ، تنها دعوراتو ليدلو مسئله هم نده، بلکې دهغه شيانو ليدنه کوم چې عادتاً يي خلک نه خوښوي، چې نور يي وويني . [1]

په حديث کې راغلی دي، چې درې ځلې دې سلام واچوي او د ننوتلو اجازه دې وغواړي، که له درې ځله سلام اچولو سره هم اجازه ورنه کړه شي، نو بيرته دې وګرځي. [2]

د روائع البيان تفسير ليکوال شيخ محمد علي صابوني د پورته ايت په تفسير او شرحه کې ليکلي: (تَسْتَأْنِسُوا) په عربي ژبه کې د (تستاذنو) په معنی سره ده، په تفسير کې هم لکه چې له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل شوې ده، د تستاذنو په معنی سره ده، ( اِسْتِيْنَاسْ) په اصل کې له يو شي سره د انس او الفت پيدا کولو په معنی سره ده او معنی يي روحي او رواني ارامي او د وحشت د لرې کولو په معنی سره ده.

ځينې عالمان وايي: (اِسْتِيْنَاسْ) هماغه استعلام ده او د (اَنَسَ الْشئُ) څخه اخيستل شوې ده، د يوه شي په ښکاره او څرګنده سره ليدلو ته وايي، الله جل جلاله وايي: (ما أُور وليده ) په دې صورت کې د ايت معنی داسې ده، ترڅو چې تاسو پوه شی، چې د کور څښتنان ستاسو د داخليدو غوښتونکی دی او که نه؟ زمخشري رحمت الله عليه وايي: له (اِسْتِيْنَاسْ) څخه چې د استحاش ضد دی، اخيستل شوی دی، ځکه څوک چې د بل چا دروازه ټکوي، په دې نه

---

[1] - انوار التنزيل واسرار التاويل، بيضاوي، ټوک : ۴، پاڼې ګڼه : ۱۰۴

[2]. دقران کريم پښتو ترجمه او تفسير، ټوک ګڼه : ۲ ، پاڼې ګڼه : ۳۰۵ ، چاپ کال ( ۱۴۱۴ ق)

پوهېږي، چې آیا دته د داخلېدو اجازه ورکول کېږي او که نه؟ او دی د (مَسْتَوحشْ) (ډارېدونکی) کس په شان ده، که دته یې داخلېدو اجازه ورکړه، دی انس او اطمنان پیدا کوي.

طبري رحمه الله وايي: زما په نظر باندې صحیح دا ده، چې (اِسْتِیْنَاسْ) د استفعال له باب او له أُنس څخه ده او په دې معنی سره ده، چې یو کس کورته د ورتللو تکل لري، د کور له اوسېدونکو څخه اجازه اخلي، چې د هغوی کره ورشي او هغوی ته دا اعلانوي چې دی غواړي، چې د دوی کورته ورشي، نو دی د کور د اوسېدونکو په اجازه او هغوی د ده په اجازې اخیستلو سره الفت او انس او ارامي پیدا کوي.

(عَلَى أَهْلِهَا ) له اهل څخه د کورونو اوسېدونکي مطلب دی، عام له دې نه چې د ملکیت، اجارې او یا هم عاریت په توګه په کې اوسېږي، چې(غَيْرَ بُيُوتِكُمْ) په دې معنی دلالت کوي.

الوسي وايي: له دې څخه مطلب یواځې اوسیدل دي، یعنې هغه کورونه چې ستاسو د اوسېدلو له کورونو څخه پرته وي، ځکه اجاره ورکونکي اوعاریت ورکوونکي لکه د نورو پردیو خلکو په شان پرته د اجازې اخېستلو څخه منع شوي دي، چې دا د ملکیت د اختصاص په نه اراده باندې دلالت کوي، یعنې مطلب دا نه دی، چې د دې کورملکیت به له ده سره وي، بلکې د اوسیدلو حق به یې ورسره وي، نور دې ته اړتیا نشه، چې وویل شي، خبرې په حروف اوعدد باندې بنا دي.[1]

د قرطبي تفسیر لیکوال دسورت النور داستیذان د ایت په تفسیر کې لیکي: په دې ایت کې اولس (۱۷) مسایل او احکام ذکر شوي:

## کورته بې اجازې مه داخلیږی

### (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتاً)

الله جل جلاله انسان ته ځانګړی مقام ورکړی، د دې ځانګړتیاوو له جملې څخه یې یو هم د استوګنځي او کور لرلو عزت او فضل دی، چې الله جل جلاله پرې انسان عزتمند او د لویې مرتبې څښتن ګرځولی، د استوګنځي او کور په ذریعه یې د دوی عورتونه د سترګو څخه پرده کړې، استوګنځی له تیري څخه خوندي کړی او د هرډول مادي او معنوي تعارض څخه خلک

[1]. صابوني، محمد علي، روائع البیان ، ژباړه : مخلص، محب الله ، مکتبه فریدیه ، چاپ کال ۱۳۹۱دوهم جلد مخ ۱۳۲ او ۱۳۳

منع کړي، ترڅو خلک د کور د منځ د حال څخه هېڅ اطلاع لاسته نه راوړي، استوګنځي ته داخل نه شي، مګر د استوګن په اجازه، استوګنځي ته د ورتګ په ادب یې مسلمانان پوهولي، ترڅو هېڅوک هم د دوی په پټو مسایلو او ستر حالاتو خبر نه شي.

په صحیح مسلم کې ابي هریره د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، فرمایي، نبي کریم فرمایلي: څوک چې د بل چا کورته د استوګن د اجازې پرته دننه وګوري، د لیدونکي سترګې ړندول ورته مباح دي، د دې حدیث په تاویل کې اختلاف شته، ځینې علماوو ویلي: دا حدیث د ظاهر په څېر نه دی.

ځکه که چېرته یې د لیدونکي سترګې ړندې کړې، نو ضمان او تاوان پرې لازم دی، دوی وایي چې پورته حدیث منسوخ دی، دا د دې ایت د نزوول نه مخکې حالت و، ﴿وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا﴾ [النحل: ۱۲۲] ځنې وایي: په پورته حدیث کې د سخت وعید خبره ده، نه د سترګو د ړندولو دحتمي والي ،کله چې یو خبر د کتاب الله سره مخالف وي، په هغه باندې عمل جایز نه دی.

ځنې وایي: مقصد سترګو ویستلو څخه ممکن د داسې عمل مقصد وي، چې د هغې په کولو سره دا کس بیا د بل چا کورته ونه ګوري، ځینې علماء وایي، د سترګو په ړندولو کې نه تاوان شته او نه قصاص، همدا صحیح اوسمه خبره ده.[1]

## د غیر استوګنځي ته دداخلیدو پر وخت داجازې امر

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا﴾** ... الآية

د دې ایت کریمه د نزول سبب امام طبري د عدي بن ثابت څخه روایت کړی، دی وایي، د انصارو یوه مېرمن نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د خدای رسوله! زه په خپل کور کې په داسې حال کې اوسم، نه غواړم، چې څوک مې په داسې حال کې ووینې، نه پلار او نه زوی، پلارهم راځي او د کور خلک هم، هر وخت زه په دې حال کې یم، زه څه وکړم، په دې وخت کې پورته ایت کریمه را نازل شو.[2]

---

[1]. القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين، الجامع لأحكام القرآن، ټوک ګڼه : ۱۲پاڼې ګڼه: ۲۱۳، دوهم چاپ، کال ۱۳۸۴هـ ق ، دارالکتب مصریه

[2]. طبری ، ټوک ګڼه : ۹ ، پاڼې ګڼه : ۱۴۷

## پردي استوګنځي ته دننوتلو وخت او فرصت

الله سبحانه تعالی، پردیو کورونو ته د ننوتلو حرمت ترهغه وخت پورې حرام ګڼلی، ترڅو اجازه ترلاسه شي، ابن وهب (رح) وايي، امام مالک (رح) ويلي، (الِاسْتِئْنَاسُ) کې چې څه وينو، الله ښه پوهېږي، خو همدا استيذان دی، همدارنګه د ابن عباس او سعيد ابن جبير رض په قرات کې هم (" حَتَّى تَسْتَأْذِنُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا "راغلي، ځنې بيا وايي، چې د" تَسْتَأْنِسُوا " معنی د تَسْتَعْلِمُوا يعنې تر هغه پورې مه داخلېږئ، ترڅو چې د کور له منځ څخه پوه شئ، چې پدې کورکې څوک دی؟ امام مجاهد وايي: په غاړه تازه کولو يا ټوخي کولو يا په هروجه چې ممکن وي، ترڅو اطمنان حاصل کړئ، دومره انتظار به کوئ، چې خپله پوه شي، چې داخل کې شخص ما باندې پوه شوی، بيا به داخل شي.

په سنن ابن ماجه کې راغلي: عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذَا السَّلَامُ، فَمَا الِاسْتِئْذَانُ؟ قَالَ: «يَتَكَلَّمُ الرَّجُلُ تَسْبِيحَةً، وَتَكْبِيرَةً، وَتَحْمِيدَةً، وَيَتَنَحْنَحُ، وَيُؤْذِنُ أَهْلَ الْبَيْتِ»[1] ابي ايوب انصاري وايي، موږ وويل: يا رسول الله دا سلام خو سلام دی، نو استناس څه ته وايي؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم وويل: (سړی به تسبيح، تکبير او حمد وايي) او بيا به د کور د اهل څخه اجازه غواړي.[2]

## داستوګنځی دننوتلو داجازې (حَتّى تَسْتَأْنِسُوا) حقيقت :

د " حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا " نه مطلب " حَتَّى تَسْتَأْذِنُوا " دی، ځينو ويلي، د تستانسو کلمه خطا ده او حقيقت حتی تستاذنو ده، خو دا خبره صحيح نه ده، ځکه ابن عباس او نور صحابه وايي، د اسلام په ټولو مصاحفو او قرانکريمونو کې" حَتّى تَسْتَأْنِسُوا " ثابته ده او د حضرت عثمان رضي الله د وخت اجماع هم صحيح ګڼلې .

---

[1] - سنن ابن ماجه، ټوک : ۲، پاڼې ګڼه : ۱۲۲۱، حديث شميره : ۳۷۰۷ .

[2] قرطبي، مخکنی ماخذ، ټوک : ۱۲ ، باڼې ګڼه : ۲۱۴

## داستیذان یا اجازې کرات

په استیذان کې درې ځله سنت دی، تردې به زیادت نه کېږي، د استیذان طریقه دا ده، چې سړی به ووایي: السلام علیکم آیا زه داخل شم، که چېرته ورته اجازه وشوه، نو داخل به شي او که امر يې ورته د بېرته ګرځېدو وکړ، بېرته به وګرځي او که چېرته يې د ځواب نه چوپ پاتې شو، بیا به اجازه وغواړي.[1]

دروائع البیان مفسر محمدعلی صابوني لیکي:علامه ابن کثیر د الله جل جلاله د دې وینا (فَارْجِعُوا) په هکله وایي: یو کس له سفر کوونکو اوهجرت کوونکو څخه وایي:په خپل ټول عمر کې د دې ایت مصداق طلب کړ، خو زما په برخه نه شه، چې له یوه ورور نه مې اجازه وغواړم او دی ماته ووایي، چې بېرته لاړ شه او زه بیرته لاړ شم.[2]

## استیذان درې ځله دی

( السُّنَّةُ فِي الِاسْتِئْذَانِ ثَلَاثُ مَرَّاتٍ لَا يُزَادُ عَلَيْهَا. قَالَ ابْنُ وَهْبٍ قَالَ مَالِكٌ: الِاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ، لَا أُحِبُّ أَنْ يَزِيدَ أَحَدٌ عَلَيْهَا ):

ابن وهب رحمت الله علیه وایي: امام ملک صاحب فرمایلي: استیذان درې ځله دی،ښه خبره نده، چې تر درې ځلو زیات شي ، ځکه هر کلام چې درې ځله تکرار شي، اوریدل کېږي او خلک پرې پوهېږي .[3]

## داستوګنځي دننوتلو پر وخت د وردیدلو حکم

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه ویلي: استیذان د دې لپاره دی، چې هغه عمل خلک پرېږدي، کوم چې د خلکو پرې عادت و، علماوو ویلي: خلکو به دروازې نیولې او بیا به يې ټکولې، الله ښه پوهېږي.

٥١٨٦ - عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِذَا أَتَى بَابَ قَوْمٍ لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَابَ مِنْ تِلْقَاءِ وَجْهِهِ، وَلَكِنْ مِنْ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ، أَوِ الْأَيْسَرِ، وَيَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ» وَذَلِكَ أَنَّ الدُّورَ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا يَوْمَئِذٍ سُتُورٌ .[4]

---

[1]. پورتنی ماخذ ، پاڼې ګڼه : ۲۱۳او ۲۱۴

[2].صابوني ، مخکنی ماخذ ،پاڼې ګڼه : ۱۳۷

[3] - قرطبي ، ټوک ۱۲، پاڼې ګڼه : ٢١٤

[4] - سنن ابي داود،ټوک : ٤، پاڼې ګڼه : ٣٤٨ دحدیث شمیره : ٥١٨٦

. سنن أبي داود (٤/ ٣٤٨)

ابو داود دعبدالله بن بُسر نه روایت کوي، فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله د روازې ته لاړه، نو مخامخ به دروازې ته نه ودرېده، مګر په ښي خوا او یا به چپه خواکې درېده، بیا به یې ویل: السلام علیکم ، السلام علیکم )

که چېرته دروازه تړلې او بنده وي، نو چېرته چې دربري خوښه یې، بیا به اجازه وغواړي او که یې خوښه شوه، دروازه به ټک ټک کړي.

## د اجازې پر وخت دټک ټک کولو شرعي حکم

د دروازې د ټک ټک کولو طریقه داده، چې په ډېر کرار سره به ټک ټک کېږي، تر دې اندازې چې واوریدل شي، د ډېر زور او شدت نه به کار نه اخلي.[١]

دا چې دا مسایل به استوګنځي ته د ننوتلو او وتلو اداب په اسلامي شریعت کې تکرارېږي، نو دلته په همدې اکتفا کوو.

امام صابوني په خپل تفسیر ایت الاحکام «روائع البیان» کې د دې ایت

**(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا)**

په تفسیر کې لیکي: د ایت ظاهر په دې دلالت کوي، هر څوک چې د یو ځای د داخلیدو اراده لري، عام له دې نه که نر وي او که ښځه وي، لیدونکی وي او ړوند وي، په هغه باندې اجازه اخیستل واجب دي.

جمهور علماء هم په دې رایه باندې دي او په دې باندې یې دلیل نیولی ده، چې د ځینې عورتونو ادراک په اوریدو سره هم کېدای شي، د ړانده په داخلیدو سره هم د کور د څښتنانو د ازار لامل کېږي، ځکه ښځه دا نه خوښوي، چې د دوی ترمنځ خبرو باندې دې څوک خبر شي.

دا حدیث چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: **(إِنَّمَا جُعِلَ الاستيذان مِنْ أَجْلِ النظر)** یعنې اجازه ددې لپاره ده، چې څوک د بل چا عورت ونهویني) په غالبو حالاتو باندې حمل کېږي، دا یې مطلب نه ده، چې د اجازې حکمت یوازې د نظرحفاظت ده او په همدې کې حصر ده.

زمخشري رحمه الله وایي: د اجازې غوښتلو حکم د دې لپاره ده، په هغو حالاتو او کارونو باندې څوک خبر نه شي، چې د کور څښتنان نه غواړي چې په هغو دې له دوی څخه پرته څوک

[١]. قرطبي ،مخکنی ماخذ ، مخ ٢١٧

خبر شي او دا حکم د دې لپاره ده، يو څوک د بل چا په عورت باندې خبر نه شي او د ده سترګې دې هم په هغه څه باندې ونه لګېږي، چې کتل ورته حرام وي.

د اجازت غوښتلو د حکم حکمت او راز په نرانو او ښځو دواړو کې موجود ده، چې له همدې امله عالمانو ويلي دي د الله جل جلاله په دې وينا (**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا**) کې يې په اسم موصول مذکر سره تعبير کړی ده، چې د مذکر تغلب په مونث باندې شوی ده. لکه قرانکريم په نورو امرونو او نواهيو کې په همدې ډول سره راغلي دي او همداسې تغليب پکې شوی ده او يا له دغه ډول خطاب څخه په ايمان باندې موصوفول او د ايمان لرل دي، په دې صورت کې د ايت معنی داسې ده: ای هغو کسانو چې لرئ او په ايمان موصوف ياست چې په دې تعبير کې بيا نران او ښځې يو شان داخل دي، د هغو دليلونو له جملې څخه چې په دې باندې دلالت کوي، چې ښځه هم بايد لکه د سړي په شان اجازه واخلي، له اُم اياس رضي الله تعالی څخه يو روايت شوی ده، چې نومونړې ويلي دي، ما له څلورو ښځو سره يوځای بي بي عايشې څخه اجازه وغوښتله او داسې مې وويل: آيا زه داخله شم، بي بي عايشې وويل نه ، يوې بلې ښځې وويل، سلام عليکم ايا کولی شو، چې داخلې شو؟ بي بي عايشې وويل: داخلې شئ، او له دې نه وروسته يې دغه ايت ولوسته.[۱]

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا**

د نيل المرام مفسر صديق حسن خان د دې ايت په تفسير کې ليکي: الله جل جلاله په دې ايت کې کورونو ته د اجازې پرته د ننوتلو څخه منع کړې، ځکه د اجازې پرته ننوتلو کې د نرانو او ښځو ترمنځ اختلاط او ګډون راځي، ډېر وخت دغه ډول ننوتل په زنا او يا قذف منتج کېږي.

انسان همېشه په خپل کور کې او د خلوت په محل کې په داسې حال کې وي، چې نه غواړي بل څوک يې په دې حالت کې ووينې، نو الله پاک خلک منع کړل، کورونو ته د ننوتلو څخه تر هغې پورې، چې ننوتونکي په دې پوه شي، چې په داخل کې څوک دي، يعنې داخليدونکې په دې علم پيدا کړي، چې د کور خاوند پرې پوه شوی، بيا ځان په دې پوه کړي، چې هغه ورته د ننوتلو اجازه وکړه کله چې په دې پوه شو، چې د کور دننه شخص د ده په ورتګ خبر دی او دې ته يې اجازه د داخليدو وکړه، نو بيا دې داخل شي، په دې خبره کې د اهل علماوو اختلاف دی،

[۱]. صابوني، مخکنی ماخذ مخ ۱۴۲، ۱۴۳

چې سلام مخکې شي او استناس یا اجازه اخېستل؟ ځینې وایي، چې اول به اجازه غواړي او بیا به سلام تقدیموي، ځکه په ایت کریمه کې استیناس اول راغلی او بیا سلام، خو ډېر فقهاء په دې نظر دي، چې اول سلام دی او بیا اجازه.[1]

**فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَداً فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتاً غَيْرَ مَسْكُونَةٍ فِيهَا مَتَاعٌ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٢٩﴾**[2]

د پورته ایت په تفسیر کې امام بیضاوي لیکي: که چېرته مو هېڅوک په دې کور کې پیدا نه کړ، چې تاسو ته اجازه د داخلیدو وکړي، نو تاسو مه داخلېږئ، ترڅو چې تاسو ته اجازه وشي، ترڅو چې هغه کس راشي، چې تاسو ته اجازه درکوي، د داخلیدو مانع یوازې د خلکو عورتونه نه دي، بلکې ډېر داسې شیان دي، چې خلک یې د عادت په لحاظ پټوي، بله دا چې په پردي ملکیت د اجازې پرته تصرف کول شرعاً منع دي.

هو ځینې استثنایي حالات شته، چې بیا اجازه اخېستل لازم نه دي، لکه د اور لګېدو په وخت یا د غرق کېدو او یا نور شرعي منکرات وي، بیا د منکر دله منځه وړلو لپاره داخلیدل لازم دي.

که چېرته تاسو ته وویل شو، وګرځه، بېرته وګرځئ، اصرار او زاري مه کوئ، بېرته ګرځېدل ستاسو د پاکۍ او تزکې سبب دی.

د بل په دروازه کې درېدل، د دخول لپاره عذر، زاري او اصرار کول، بد کار او د مردانګۍ خلاف عمل دی، په بېرته ګرځېدو کې مو د دین او دنیا ښېګنه ده.

الله جل جلاله په هغه څه باندې پوه دی، کوم څه چې تاسې یې کوئ، په کومه خبره چې الله جل جلاله تاسې مخاطب کړي یئ، الله جل جلاله پوهېږي په هر هغه څه چې تاسې یې کوی او هر هغه څه چې پرېږدي، تاسو ته یې عوض او بدله درکوي.

---

[1]. حسن خان، مخکنی ماخذ، دوهم جلد مخ ۲۹۲

[2]. النور سورت، ایت ۲۸، ۲۹

ګناه نشته، چې تاسې غیر مسکون کورونو ته ننوځې. لکه، دوکانونو، سرایونو، د اهل کتابو عبادت ځایونو ته او نورو غیر مسکونه محلونو ته، چېرته چې ستاسو مالونه او سامان ایښي وي.

د سختې یخنۍ څخه د ځان ژغورنې لپاره یو غیرمسکوني محل ننوتل جایز دي، د سختې ګرمۍ څخه په دې ځایونو کې سر دننه کول او ځان خوندي کول او له دې محلونوکې منع نه دي.

که چېرته څوک د کومې معاملې د حل وفصل لپاره کېناستل منع دي، دا ټول د مخکنې حکم (لاتدخلو بیوتاً مسکونة اوددې په څیر نوروځایونو) څخه مستثناء دی.[1]

**وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ**

ژباړه: الله جل جلاله په هغه ټولو شیانو پوهېږي، کوم چې تاسو یې ښکاره کوئ او کوم څه چې په پټه یې کوئ.

**فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَداً فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَى لَكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ (٢٨)**[2]

امام قرطبي د پورته ایت په تفسیر کې لیکي: په دې کې څلورو مهم مسایل ذکر دي:

**غیر مسکون ځای ته دننوتلو حکم**: د الله جل جلاله دا قول دی: "**فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَداً**" په "**تَجِدُوا فِيهَا**" ضمیر او اشاره هغه کورونو ته ده، کوم چې د بل چا ملکیت او استوګنځی دی.

امام طبري د امام مجاهد رحمه الله علیه نه حکایت کړی، هغه وایي:

د دې قول: "**فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَداً**" معنی دا ده: په دې ځای کې ستاسو څه متاع او سامان نه وي، امام طبري دا تاویل کمزوری او ضعیف بللی.

داسې ښکاري، چې امام مجاهد پدې نظر و، چې یو شخص غیرمسکون استوګنځي ته پرته د اجازې څخه، ننوتلی شي، کله چې په داخل کې سامان وي.

---

[1]. بیضاوي ، ټوک ګڼه : ۴، پاڼې ګڼه : ۱۰۴
[2]. النور سورت ، ایت ۲۸

د پورته ایت خلاصه مفهوم او هدف دا دی: که چېرته د داخلېدو اجازه وشوه، نو داخل شئ، که اجازه ونه شوه، نو بېرته وګرځئ.

ځکه نبي کريم صلی الله علیه وسلم د سعد رضي الله عنه سره همداسې کړي ول، ابو موسی د حضرت عمر سره همداسې کړي ول.

امام طبري په خپل سند سره د قتاده رضی الله عنه څخه روایت کړی، فرمايي: د مهاجرینو څخه يو کس وويل: په خپل ټول عمر کې مې دا هیله درلوده، چې د دې ایت مصداق شم، چې د خپلو ورونو څخه اجازه د داخلیدو وغواړم او هغه راته ووايي، بېرته وګرځه، زه وګرځم، خو زه خوشحاله او نیک بخته اوسم، د الله د دې قول په بنسټ: لِقَوْلِهِ تَعَالَىٰ: "هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ".

**اجازه اخستل داخلاقي پاکوالی نښه ده:** که چېرته دروازه خلاصه یا مفتوحه وي او که تړلې یا بنده وي، اسلامي شریعت کور ته د ننوتلو په حرمت سره په خپل حکم سره دروازه وتړله، یعنې که دروازه خلاصه هم وي، خو شرعاً او حکماً تړلې ده، اجازه نشته، ترڅو د استوګنځي د داخل میشتي شخص او د کور د خاوند او مالک څخه اجازه ونه شي.

په زیارت کوونکي لازمه ده، چې د کور یا استوګنځي دروازې ته په داسې شکل راتګ وکړي او په داسې شکل د اجازې غوښتنه وکړي، چې د کوردننه خلک پرې هېڅوک پوه نه شي، نه په مخامخ کېدو، نه په ګرځېدو کې.

يو شمېرعلماوو روایت کړی: دوی وايي: چې حضرت عمر رضی الله عنه وايي: د چا چې د چا د کور په منځ او فضاء باندې سترګې ډکې شوې، دې شخص ګناه او فسق وکړ. [1]

تبصره: زیارت کوونکي او راغلي مېلمه ته په کار ده، چې د استوګنځي دروازې ته مخامخ ونه دریږي او نه يي د ټک ټک په وخت د کوردننه سترګې داخلې شي، که چېرته يو شخص د استیذان او اجازت پر وخت د کور منځ په نښه کړ، د استوګنځي د داخلي وضعیت څخه پوره علم او خبر ترلاسه کړ، د حضرت عمر صیب د پورته وینا په اساس، ګناه يي وکړه.

کله چې ثابته شوه، چې کور ته د داخلېدو پر وخت اذن شرط دی، نو بیا اذن د صغیر او کبیر جایزدی.

[1]. قرطبي ، ټوک ګڼه : ۱۲، پاڼې ګڼه : ۲۱۹، ۲۲۰

تبصره: د پورته مسئلې نه دا هدف لاسته راځي، چې که د کور د داخل څخه نابالغ شخص د داخليدو اجازه وکړي، دا اجازت صحيح دی او که نه؟ په دې برخه کې امام قرطبي صيب دا دليل نيولی، انس ابن مالک نابالغ کوچنی و، د رسول الله زيارت راتلونکو ته به يې د داخلېدو اجازه ورکوله.

**تجسس او څارګري منع ده:** يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ د الله جل جلاله دا قول: **(وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ)** په دې کې الله د هغو خلکو لپاره وعيد بيانوي، کوم چې د استوګنځي تجسس او څارګري کوي، يا د خلکو کورونو ته د داخليدو څخه يې هدف په ناخبري د ګناه کول وي او يا هغه څه ته کتنه وي، چې ده ته روا او حلاله نه ده او بل چا ته هم څوک چې په دې ناروا کې پريوځي.[1]

د فی ظلال القران مفسر شهيد سيد قطب رحمه الله ليکي: اسلام په خپله ټولنه او سپيڅلی محيط کې په مجازاتو باور اواعتماد نه لري، اسلام تر هرڅه دمخه په وقايه باور او اعتماد لري، اسلام د فطرت او طبيعت سره مبارزه نه کوي، مګر اسلام د طبيعت او فطرت غوښتنې تنظيموي، اسلام د طبيعت د غوښتنو لپاره داسې مناسبه فضاء او ماحول تضمينوي، چې د هيچا پرې احسان او اثر نه وي.

د اسلام تربيوي منهج د يو داسې فکر په تنظيمولو باندې زيار باسي، چې ولسونه رهبري کړي، په همدې اساس يې د استوګنځي لپاره حرمت وګرځولو، هېچا ته اجازه نشته، چې دې حرمت ته لاس ور وړاندې کړي او دا حرمت نقض کړي، ترڅو هېڅکله نا اشنا څوک د چا کور او استوګنځي ته په يو ناڅاپي ډول داخل نه شي.

هو که څوک داخلېږي، په اجازه او استيذان او نرمۍ به داخلېږي، ترڅو د کور د خلکو په ناخبرۍ کې د هغوی په اسرارو اوعوراتو يې سترګې ونه لګېږي.

د زنا د مخنيوي د وقايې تدابيرو په لړ کې يې نارينه وو او زنانه وو ته د سترګو د ښکته اچولو امر يې کړی، ښځو ته يې د خپل سينګار او ښکلا د نه ښکاره کولو امر وکړ، ترڅو د خلکو شهواني غريزې ونه پاروي.

---

[1]. قرطبي ، ټوک ګڼه :۱۲، پاڼې ګڼه : ۲۱۹، ۲۲۰

د زنا د مخنیوي وقایوي تدابیرو لپاره یې بېوزله سړیو او ښځو ته واده اسانه کړ، احصان او واده کېدل له زنا څخه یو حقیقي تضمین دی.

نور ډېر واقعي اوږده او تفصیلي ضمانتونه او د مخنیوي وقایوي تدابیر لیدلی شو، چې اسلام پرې د عمل امر کړی.

**«یا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُیُوتاً غَیْرَ بُیُوتِکُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلى أَهْلِها، ذلِکُمْ خَیْرٌ لَکُمْ لَعَلَّکُمْ تَذَکَّرُونَ. فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِیها أَحَداً فَلا تَدْخُلُوها حَتَّى یُؤْذَنَ لَکُمْ. وَإِنْ قِیلَ لَکُمْ: ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْکى لَکُمْ، وَاللَّهُ بِما تَعْمَلُونَ عَلِیمٌ. لَیْسَ عَلَیْکُمْ جُناحٌ أَنْ تَدْخُلُوا بُیُوتاً غَیْرَ مَسْکُونَةٍ فِیها مَتاعٌ لَکُمْ. وَاللَّهُ یَعْلَمُ ما تُبْدُونَ وَما تَکْتُمُونَ»**

الله جل جلاله استوګنځی ارام او مسکون ګرځولی، خلک کورته پناه وړي، ترڅو یې روح او نفس مطمن او ارام وي، عورتونه او محرمات یې خوندي وي، خپله فکري او بدني ستړیا د ځان نه لرې کړي.

کور هغه وخت د دې صفاتو جوګه وي، چې کله په امن او امان کې یو خوندي حرم وي، هېڅ ته د دې اجازه نه وي، چې د کور دننه خلکو د علم او اجازې پرته داخل شي.

په داسې وخت کې داخل شي، چې د کور خلک یې غواړي، په داسې حالت کې داخل شي، چې د کور خلک یې خوښ ګڼي.[1]

که چېرته کور ته ننوتل پرته د اجازې څخه جایز او مباح شي، حتمي خبره ده، چې د داخلېدونکي شخص به سترګې په کور دننه په عورتونو ولګېږي، د شهواني فتنو سره به خامخا مخامخ شي، بیا به د دې شهواني لیدنې او کتنې څخه د را ولاړ شوي بغاوت او سرکشۍ لپاره لاره لټوي، بیا بیا به په قصدي ډول ګوري، د دې بیا لیدلو انګېزه او تحریک به هماغه لومړنې تصادفي لیدنه وي، همدغه تصادفي لیدل، چې د پرته اجازې ننوتلو نتیجه ده، بیا د ګناهونو لاره پرانېزي.

ډېر وخت ډېر حیاناک او د پردې خلک د خپلو نژدې دوستانو په یو ناڅاپي راتګ سره سخت هیجاني شوي، خپلې نژدې دوستی او خپلولۍ ته یې نه دي کتلي، خو د اجازې پرته یې

---

[1]. حسین الشاربي، سید قطب ابراهیم، فی ظلال القران، ټوک ګڼه: ۴، پاڼې ګڼه: ۲۵۰۷

استوګنځي ته داخلیدونکي شخص سخت رټلی، هغه ته یې ستوغې او سپورې کړي، ان تردې چې ډېر سکه او نژدې خپلولې یې پرې د ډېر وخت لپاره قطع شوې، په کار ده، ورور د ورور کورته داخلېدو پر وخت هم د استیذان اصول مراعت کړي، د هر نژدې قریب کورته پرته د استیذان څخه داخل نه شي، که خپل کور ته هم داخلېږي، باید د کور دننه خلک په ځان خبر کړي، چې څوک را دننه شو، مسلمان باید د اسلام دغه ټولنیز اداب مراعت کړي.

امام قرطبي لیکي: د جاهلیت په زمانه به خلک همداسې د هجوم او حملې په شکل د خلکو استوګنځي ته ننوتل، ملاقات کوونکی به د دوست کور ته داخل شو، بیا به یې وویل: زه داخل شوم، دا به په داسې حال کې و، چې د کورخاوند به د خپل فامیل او مېرمن سره په داسې حالت کې، چې بل هېڅا ته به یې لیدل جایز نه و، ډېر وخت داسې وي، چې ښځه به لوڅه او بربنډه وي، یا به یې عورت لوڅ وي، یا به نارینه په دې ډول وي، نو په دې وخت کې راننوتل، انسان ته سخت ضرر رسوي، انسان په معنوي لحاظ زخمي کوي، د کورونو امن او مسکنت یې ځکه حرام وګرځولو، که ښځه لوڅه ولیدل شي او که نارینه د دواړو ناحیو څخه د انسان نفس په فتنه کې پریوځي، حقیقت دا دی چې د سترګو په لګیدو کې حتماً تاثیر وي.

د همدې فتنو او خطرونو د دفع په موخه او د همدې احتمالي ضررونو د مخنیوي لپاره الله جل جلاله مسلمانانو ته د دې اوچتو ادابو تربیه ورکړه، استوګنځي ته د ننوتلو د اجازې ادب او تربیه یې ورکړه، د سلام اچولو تربیه یې ورکړه، ترڅو د کور په خلکو سلام واچوي، چې هغوی د ده راتګ ته لېوالتیا پیدا کړي، د ننوتلو او داخلیدو دمخه د سلام په اچولو سره د کور د خلکو وحشت او ډار له منځه ځي.[1]

**أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ قَبْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيَابَكُمْ مِنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ** ﴿٥٨﴾ سورة النور[2]

---

[1]. سید قطب، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۲۵۰۸

[2]. النور سورت، ایت ۵۸

ژباړه: ای مومنانو! لازمه ده، ستاسې مینځې او مریان او ستاسې هغه ماشومان چې لا تر اوسه پورې د پوهې عمر ته نه دي رسېدلي، په درېیو وختونو کې دې د اجازې په اخېستلو سره تاسې ته راځي: د سهار د لمانځه څخه مخکې اوغرمه چې کله تاسې جامې وباسئ او د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته، دا درې وختونه ستاسې لپاره د ستر وختونه دي، له دغو پرته که هغوی بې اجازې راشي، نو نه پر تاسې څه ګناه شته، نه پرهغو، ستاسې یوبل ته بیا بیا راتګ و، په دې ډول الله جل جلاله ستاسې لپاره د خپلو ویناوو څرګندونه کوي اوهغه د پوهې او حکمت څښتن دی.[1]

په پورته ایت کریمه کې د الهي قدرتونو او د هغه د طاعت د وجوب د احکامو او د الهي اوامرو څخه د سرغړونې د مجازاتو او د اطاعت په صورت کې د مکافاتو د بیان وروسته، د تېرو احکامو اکمال ته رجوع ده، په دې ایت کې نارینه او ښځینه وو ته خطاب دی، خو نارینه وو ته پکې غالب دي، ځکه په دې باره داسې روایت کې دی، چې د اسماء بنت ابي مرثد غلام د دې کورته په داسې وخت کې داخل شوی، چې نوموړې بد ګڼلي ول او خفه کړې و، نو بیا دا ایت نازل شو.

داسې هم ویلي شوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدلج بن عمر رضی الله عنه چې د انصارو یو ماشوم و، حضرت عمر پسې یي لېږلی و، چې عمر صاحب را وبولي، مدلج په حضرت عمر صاحب په داسې وخت کې ورننوتی و، چې هغه ویده و،جامې یې ورڅخه لرې شوې وې، حضرت عمر بیا وویل: د الله نه غواړم، چې په داسې وخت کې زموږ پلرونه، زامن او خدمتګاران زموږ په وړاندې دراتللو نه منع کړي، ترڅو بې له اجازې داخل نه شي،حضرت عمر بیا ددې ماشوم سره د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په لور روان شو، کله چې د رسول الله څنګ ته ورسېده، دا ایت کریمه رانازل شوی و.[2]

صدیق حسن خان په خپل تفسیر نیل المرام کې د پورته ایت په تفسیر کې لیکي: د یا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا: خطاب ټولو مومنانو ته دی، نارینه مومنان او ښځینه ټول شامل دي.

علماء وایي: د دې ایت حکم ځینو وختونو پورې ځانګړی دی، د ﴿لِيَسْتَأْذِنكُمُ﴾ د قول په مقصد او مراد کې اختلاف دی، دا اختلاف په لاندې ډول دی.

---

[1]. روائع البیان ، ټوک ګڼه : ۲، پاڼې ګڼه: ۲۰۹

[2]. بیضاوي ، ټوک ګڼه :۴ ، پاڼې ګڼه: ۱۱۳

أول:سعيد بن مسيب وايي، چې د ايت منسوخ دی.

سعيد بن جبير وايي: په دې ايت کې امر مندوب دی، نه امر د وجوب.

ځينې وايي: دا امر واجب دی، ځکه دوی دروازې نه لرلې، کله چې حال له همدې ډول وي، نو وجوب هم د ابن عباس څخه روايت دی، وايي په دې ځای کی امر د وجوب دی، ايت ثابت دی، منسوخ نه دی، حکم يي هم په نارينه او ښځينه وو باندې ثابت دی.

**الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ**: د قول څخه مراد مريان او مينځې دي.

**وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ**: ازاد کوچنيان

**ثَلاثَ مَرَّاتٍ**: معنى داده: په شپه او ورځ کې درې وختونه، دلته داوقات تعبير په مرات شوی، ځکه د استيذان وجوب په دې وختونو کې د مستاذنينو د تگ راتگ سره نژدې دی.

د ثلاثه نه هدف د وخت او زمان ظرفيت دی، يعنې په دې درې وختونو کې، مِنْ قَبْلِ صَلاةِ الْفَجْرِ، د سهار لمانځه نه د مخکې استيذان : دا وخت د خوب نه د ويښېدو وخت دی، د خوب جامې خلک وباسي او د بيدارۍ جامې اغوندي، ډېر خلک لوڅ څملي يا په داسې حالت کې وي، چې په دې حالت کې د بل کس له خوا ليدل ځانته بد گڼي.

دويم: بل وخت د مصؤنيت او خونديتوب او استيذان د ماسپښين وخت دی، په دې وخت کې ځنې خلک خپل هغه لباس چې د ورځې د سختې گرمې د دفع لپاره اغوستی وي،هغه وباسي او بيا د قيلولې خوب کوي.

تبصره: عربي ټاپو وزمه گرمه او د اوړي موسم يې ډېر سخت گرم وي، د ډېرو گرمو سيمو خلک د گرمۍ د دفع لپاره قوي او درانه لباسونه کاروي، خو کله چې دغرمې د قيلولې وخت راشي بيا د ځان سپکولو او ښه استراحت لپاره دغه جامې د ځان څخه لرې کوي، په دې وخت کې الله پرته د اسيذان داخليدل مسکن او استوگنځي منع کړي.

بيا الله سبحان وتعالى په ايت کريمه کې دريم وخت ذکر کړی: وَمِنْ بَعْدِ صَلاةِ الْعِشَاءِ: دا وخت هم د انسان د لباس څخه د لرې کېدو او د خپل اهل سره د تنهايي وخت دی.[1]

په اخر کې الله جل جلاله دا ټول وختونه د **(ثَلاثُ عَوْرَاتٍ)** په ښايسته نوم ياد کړل.

---

[1]. نيل المرام ،ټوک گڼه :اول، پاڼې گڼه :۴۰۷

**لَيْسَ عَلَيْكُمْ**: نشته په تاسو ای د کور خاوندانو

**وَلا عَلَيْهِمْ**: اونه په مريانو او نه په مينځو ستاسو

جُناحٌ: ګناه په داخليدو کې بې له اجازې (بَعْدَهُنّ) له دې درې وختونونه غيرپه نورو وختونو کې، ځکه په دې مخالفت د امر نشته او سترماتيدل هم نه وي، د دوی کارونه او ناسته پاسته سره شريکه وي.[1]

**أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلاثَ مَرَّاتٍ مِنْ قَبْلِ صَلاةِ الْفَجْرِ وَحِينَ تَضَعُونَ ثِيابَكُمْ مِنَ الظَّهِيرَةِ وَمِنْ بَعْدِ صَلاةِ الْعِشاءِ ثَلاثُ عَوْراتٍ لَكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلا عَلَيْهِمْ جُناحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلى بَعْضٍ كَذلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآياتِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴿٥٨﴾**

امام صابوني په روايع البيان کې د دې ايت په اجمالي معنی کې دارنګه ليکلي دي: الله جل جلاله داسې وايي: ای مومنانو! د الله جل جلاله او د الله د رسول صلی الله عليه وسلم تصديق کوئ او د الله جل جلاله په شريعت باندې د نظام او قانون په توګه د روښانه لارې يقين او باورلرئ، بايد چې ستاسو مريان، مينځې او ازاد ماشومان چې د بلوغ عمر ته نه وي رسيدلې ستاسو په وړاندې د راتللو پر مهال باندې له تاسو اجازه واخلي او د سهار، ماسپښين او ماسختن په وختونو کې پرته ستاسو له اجازې څخه ستاسو کوټو او د اوسېدو ځايو ته داخل نه شي، ځکه دا ستاسو د خوب او ارام کولو وختونه دي او په دې وختونو کې پوښلي نه ياست، غالباً له ټول او يا هم د بدن د يوې برخې له بربنډولو څخه چاره نه لرئ، خپلو مريانو، خادمانو او نابالغو ماشومانو ته دا ښودنه وکړئ، چې په داسې حالتونو کې ستاسو په وړاندې پرته له اجازې څخه رانه شي او يواځې د اجازې اخېستلو په صورت کې ستاسو د اوسېدلو ځايونو ته داخل شي، خو پرته دې درې وختونو څخه د دوی بې اجازې داخليدل ستاسو او د دوی لپاره کومه ګناه نه لري او منع نه دی، ځکه دوی ستاسو خدمت کوي، الله جل جلاله تاسو په داسې څه باندې نه مکلف کوي، چې ستاسو د تکليف او په سختۍ کې د اچولو لامل شي، د الله جل جلاله

[1]. نيل المرام، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۴۰۷

د تشريع او امر ستاسو د مصلحت د ساتنې لپاره ده، د پوهې او حکمت لرونکې ده، دا هماغه اسلامي ادب ده، چې مناسب ده، مومنان پرهغه باندې منګولې ټينګې کړي او په هغه باندې عمل وکړي، خو زړې او بوډۍ ګانې ښځې چې د ډېرعمر لرلو له امله د نکاح شوق نه لري او نران هم دوی ته ميلان نه لري او د شهوت او فتنې راپارولو اسباب په دوی کې له منځه تللي وي، په دوی باندې ګناه نشته، چې ځينې کالي لکه لوی ټيکري (پړونی) او حجاب لرې کړي او په عادي کاليو کې دخلکو په وړاندې راځرګندې شي، خو که د حجاب او پړوني په پسر کولو کې يې ډېره هڅه وکړه او لکه د ځوانو ښځو په شان يې پړوني پسر کړل د الله جل جلاله په وړاندې دا د دوی لپاره ترټولو غوره او پاکۍ ته نږدې ده، الله جل جلاله اوريدونکی او د انسانانو په پټو کارونو باندې خبر او پوه ده او هرچاته د هغه څه په بنسټ چې کړي وي، جزا او بدله ورکوي، له الله جل جلاله څخه وويرېږي او تقوی وکړي او د الله جل جلاله له غوسې او عذاب څخه ځان وژغوري.[1]

## د پورته ايت شرعي حکمونه

لومړی حکم: په دې ايت کې څوک مخاطب دي؟ د الله جل جلاله د دې وينا (أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا) ظاهر په دې دلالت کوي، چې خطاب نرانو ته مخامخ دی، خو مفسرين وايي، ايت د اسماء بنت ابي مرسد په هکله نازل شوی ده، چې په ايت کې نران او ښځې دواړه مطلب دي .

دويم حکم: د (الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ) له دې څخه مريان او منځې مطلب دي او د الله جل جلاله د دې وينا (الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ) ظاهر د دې بيان کوي، چې دا حکم تر نرانو پورې خاص او ځانګړی دی، عام له دې څخه چې لوی او بالغ وي او که نابالغ، ابن عمر رضي الله عنه او مجاهد د دې ايت د ظاهر په شان وينا کړې ده، جمهورعالمان په دې عقيده دي، چې ايت عام ده او ټولو مريانو او مينځو ته بالغان وي او که نابالغ شاملېږي، دا صحيح رايه ده، هغه رايه ده، چې امام طبري او جهمورو مفسرينو غوره کړې ده، نو لکه څرنګه چې د وړو او نابالغو نجونو او هلکانو د لويانو کوټو او د اوسېدلو ځايونو د هغوی د ارام په وخت کې داخليدل ښه نه دي، همداسې د خدمت کوونکې ښځې داخليدل ښه نه دي، ځکه په دې وختونو کې غالباً څوک کالي نه اغوندي.

[1]. روائع البيان، ټوک ګڼه : دوهم ، پاڼې ګڼه: ۲۱۴

دریېیم حکم: په ښکاره خطاب کوچنیو ماشومانو او نابالغو انجنو ته مخامخ ده، خو له دې څخه بالغ کسان مطلب دي، ځکه الله جل جلاله نرانو ته امر کړی ده، چې خپلو مینځو، مریانو، خدمت کوونکو او وړو ماشومانو ته ور وښيي، چې د دوی د خوب او ارام په وخت کې د راتللو او داخلیدلو پر مهال اجازه واخلي، د اخطاب په ښکاره صغیرانو او وړو ته مخامخ ده، خو په حقیقت کې لویانو او مکلفو کسانو ته مخامخ ده.

څلورم حکم: د الله جل جلاله د دې وینا (**لِيَسْتَأْذِنكُمُ**) ظاهر او ښکاره په دې دلالت کوي، چې امر د وجوب لپاره ده او ځینې عالمان هم په دې عقیده باندې دي، خو جمهورعالمان په دې عقیده باندې دي، چې دغه امر د استحباب او د نیکو ادبونو د تعلیم او ښودنې لپاره ده.

د جمهورو د رايې مطابق دغه ایت د قرانکریم له محکمو ایاتونو څخه ده اوهغه هېڅ شي هم نه ده منسوخ کړی، ځینې عالمان بیا په دې عقیده چې هغه منسوخ ده، ځکه صحابه کرامو او تابعینو د اسلام په لومړیو شېبو کې د دې ایت په خلاف باندې عمل کاوه.[1]

یوه بله ډله بیا وايي: دا حکم د اسلام تر لومړنۍ زمانې پورې اړه لري، ځکه دوی په هاغه زمانه کې دروازې نه لرلې، چې تړل شي او پردې يې نه لرلې چې په دروازو باندې را وځړول شي، دغې ډلې د عکرمه رضي الله عنه په روایت باندې دلیل نیولی دی، چې د عراق ځینې خلکو ابن عباس رضي الله عنه ته وویل: ای ابن عباس رضي الله عنه، دغه (**أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنكُمْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ**) په هکله چې په دې ایت کې مونږ ته د اجازې اخیستلو حکم شوې ده او هېڅوک هم په هغه باندې عمل نه کوي، څه رایه لري؟ ابن عباس رضي الله عنه ورته وویل: الله جل جلاله په مؤمنانو مهربانه ده او پرده کول خوښ ګڼي او په دغه زمانه کې د خلکو کورونو دروازې او پردې نه لرلې، ډېر ځله به داسې کېدل، چې د یو چا خادم ، زوی او یا هم لوربه د ده په وړاندې په داسې حالت کې راغله، چې دی به د خپلې بي بي سره په یوه پالنګ کې ملاست و، الله جل جلاله هغوی ته امر وکړ، چې اجازه واخلي، خو له دې وروسته الله جل جلاله د فتحو او بریاوو له امله دوی ته د ډېر مال ورکړ، دپردو اودروازو څښتنان يې کړل، ما نور څوک نه دي لیدلي، چې په هغه باندې عمل کوي.[2]

---

[1]. صابوني مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۲۲۰

[2]. صابوني، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۲۲۰

د ایتونو لارښووني:

۱. د خوب او ارام په وخت کې د مریانو، مینځو او بالغو ماشومانو اجازه اخیستل ضروري دي.

۲. باید د اسلامي ادابو نه چې د هغو په لړ کې د خوب او ارام کولو په وخت کې د اجازې اخیستل هم داخل دي، باید ماشومانو ته ور وښودل شي.

۳. له خدمت کوونکي ځخه دا نه غوښتل کېږي، چې په ټولو وختونو کې به اجازه اخلي، ځکه د خپلو مشرانو او مالکانو خدمت یو ضروري کار ده.

۴. واړه ماشومان چې د بلوغ عمرته ورسېږي، په دوی باندې واجب دی، چې په ټولو وختونو کې مخکې له داخلیدو ځخه اجازه واخلي.

۵. کله چې خدمت کوونکي او مریان بالغ شي، د مسلمانې ښځې لپاره دا روا نه دي، چې خپل ځان د هغوی په وړاندې ښکاره او بربنډ کړي.

۶. په زړو او بوډۍ ګانو ښځو باندې په پرده کولو مبالغه او د حجاب او چادري اغوستل واجب نه دي، ځکه له دوی ځخه تکلیف پورته شوې ده.

۷. د پردیو نارینه وو په وړاندې باندې د زینت په ښکاره کولو کې زړې او ځوانې ښځې یو شان دي، چې ښکاره کول ورته حرام دي.

۸. د الله جل جلاله شریعت له حکمت ځخه ډک او اسلامي نظام د مهرباني نظام ده، په مومنانو باندې واجب چې په هغه باندې عمل وکړي.[1]

## خلاصه

د اسلام دین د انسانیت لپاره اصلاح کوونکی، قوي پیغام او د ټولنیزو ادبونو او د انسانیت لپاره تر ټولو لوړه نمونه ده، په ټولو دینونو او قوانینو کې تر ټولوغوره او د لوړو اخلاقو نمونه او بېلګه ده، د هغه ترقي قوانین کمال ته بلنه ورکوي او د انساني بنسټونو اصلاح او سمون یې موخه او هدف ده، ویلی شو، چې اسلام د فضایلو او ادبونو قانون ده، بلکې د ټول ژوندون لپاره پیغام او قانون ده، په دې ایتونو کې خلک انساني ادبونو ته دعوت شوی، چې هغه ادبونه د کورونو په اړوند دي او امت دا ورښيئ چې په لوړو اسلامي اخلاقو باندې منګولې ولګوي، خپلو ماشومانو او خدمت کوونکو ته دا ستایل شوي ادبونه وروښيي، ترڅو اسلامي

[1]. صابوني، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۲۲۲

کورنۍ او ټولنه له هاغو مفاسدو څخه چې نورې کورنۍ او ټولنې له هغو څخه شکایت او نالښت کوي، لرې وي، له ټولینزو ادبونو څخه لومړنۍ ادب چې انسان یې په دې ایتونو مومي، هغه کورونو ته د داخلېدو په مهال باندې د اجازې اخېستل دي، چې په مخکنیو ایتونو کې یادونه وشوه:

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا**

ژباړه: ای مومنانو! پردیو کورونو ته ترهغو چې له هغوی څخه اجازه وا نه اخلئ او په هغوي باندې سلام وانه چوئ، مه داخلېږئ.

له دې وروسته د کور په منځ او داخل کې د اجازې اخېستلو ادب ذکر کېږي او د هغه خطاب خادمانو او ماشومانو ته متوجه دی، چې له عورتونو څخه خبر نه شي او هغه ونه ویني، ځکه دا مکان لري، چې انسان دې په داسې حالت کې وي، چې دا ښه نه ګڼي، چې څوک دی په هغه حالت کې وویني او امکان لري، چې خپلې بي بي او مېرمنې سره په داسې حالت کې وي، چې د ده کوټې او اوسېدلو ځای ته د یو چا داخلیدل او راتلل صحیح نه وي، په همدې دلیل باندې اسلام په درې وختونو کې په وړو ماشومانو او خادمانو باندې هم اجازه اخېستل واجب کړی دی، له دې امله چې په دې وختونو عورتونه څرګندېږي، دغه وختونه یې په عورتونو سره نومولي دي، په دغو ردې وختونو کې خادمان او نابالغ ماشومان چې د بلوغ عمر ته نه وي، رسېدلي، هم باید اجازه واخلي، چې د خپلې کورنۍ عورتونه ونه ویني، دغه داسې یو لوړ او اوچت ادب ده، چې ډېر کسان په خپل ژوندون کې له دې ادب څخه غافل او ناخبره دي او د هغه روحي او اخلاقي اغېز یې د پام وړ نه بولي او ګمان کوي، چې د خادم سترګې د خپل بادارپه عورت باندې نه لګېږي او ماشومان د بلوغ څخه ترمخه عورتونو ته په کتلو باندې نه پوهېږي، سره له دې نه چې د روح پوهنې عالمان په دې عقیده دي، چې ځینې کتنې چې ماشومان یې ترسره کوو او په سترګو باندې یو څه ګوري، د دوی په راتلونکي ژوندون باندې اغېز لري، د دې امکان هم شته، چې هغوی په روحي او یا هم اخلاقي ناروغیو باندې اخته کړي او داسې عصبي ناروغي په دوی کې پیدا کړي، چې علاج او درملنه یې ناشونې وي.

دغه لوړ اسلامي اداب په نورو دينونو کې او له مسلمانانو څخه پرته په نورو خلکو کې نه شو موندلی او د اسلام د دين د افتخار او وياړ لپاره دا بس ده، چې د ادب، پردې، پت اوعزت دين دی.

ځکه د خلکو له عورتونو څخه د سترګو په ټيټولو باندې امر کوي او دغه درې وختونه يې ځکه خاص کړي دي، دغه درې وختونه دعورتونو د بربنډوالي د احتمال وختونه دي.

ګمان کېږي، چې په دې وختونو کې به عورتونه بربنډ شي، له خادمانو او کمکيانو څخه د رخصتۍ او تکليف د پورته کولو له امله له دوی څخه نه غواړي، چې په ټولو وختونو کې اجازه واخلي.

ځکه خادمان د خدمت کولو له امله او ماشومان د عمر د کموالي له امله خپلې کورنۍ ته ډېر تګ راتګ کوي، چې په دې ترتيب سره د عورت پټولو ته هڅونه او د تکليف له منځه وړل دواړه يې سره يوځای کړي دي، په پای کې له ښځو څخه غواړي چې خپل زينت او ښايست پټ کړي، چې د خلکو د فتنې او شهوت راپارونې لامل نه شي، هغوی ته د کاملې او پوره پردې په لحاظ کولو باندې امر کوي، زړې او بوډۍ ښځې چې د شهوت راپارونکي نه دي، او فتنې لامل نه کېږي له دغو ښځو څخه يې استثنا کړې دي، هغوی ته اجازه ورکړې ده، چې د خپل مخ حجاب او لوی څادرونه او ټکري لرې کړي، خو په دې شرط باندې چې عورت او زينت څرګند نه شي، خو د دوی د زوړوالي سره سره د دوی لپاره دا غوره ګڼي، چې په پرده کې دې وي، په لويو او پراخو کاليو سره چې په بدن پورې نښتې نه وي، خپل پت اوعزت وساتي، دا د اسلام په نظر باندې د مومنې او پاکې ښځې هغه ادب او پاک لمنې ده، چې د خپل ځان عفت او پت ساتنه يې په کې نغښتې ده او اسلام هغه په (استعفاف) سره نومولې ده، دا پدې خاطر باندې دي، چې د تبرج (بربنډوالي) او فتنې او د پردې د لحاظ کولو او عفت ترمنځ تړاو او رابطه شتون لري، د اسلام شريعت هدف او موخه د انسان پاکي، عزت او فکري لوړوالی دی، د اسلامي شريعت د اوچتوالي لپاره همدا بسنه او کفايت کوي.[1]

---

[1]. روائع البيان، ټوک ګڼه :دوهم ، پاڼې ګڼه : ۲۲۷ او ۲۲۸

**دویم مطلب: د استوګنځي مصؤنیت دلایل په نبوي احادیثو کې**

د استوګنځي د مصؤنیت او خوندیتوب په اړه مو د قراني احکامو په رڼا په ګڼو مسایلو د مختلفو تفاسیرو څخه یو څه راواخیستل، اوس غواړم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مبارکو ارشاداتو په رڼا کې د دې موضوع اهمیت او ارزښت باندې بحث او څېړنه وکړو:

د چا د کور منځ ته د اجازې پرته کتل منع دي:

**عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: اطَّلَعَ رَجُلٌ مِنْ جُحْرٍ فِي حُجَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرًى[1] يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ، فَقَالَ: «لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْظُرُ، لَطَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنِكَ، إِنَّمَا جُعِلَ الِاسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ البَصَرِ»[2]**

په پورته حدیث کې سهل ابن سعد رضي الله عنه وایي: یوه سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم، کوټې ته د یو سوري نه پرته له اجازې ور وکتل، رسول الله په داسې حال کې چې په لاس یې یوه نری اوسپنه وه، چې په هغې باندې به یې سر ګراوه، دغه سړي ته داسې وویل: که زه په دې پوهېدای چې ته کوټې ته راګورې، دا اوسپنه به مې ستا په سترګو کې سیخ کړې وه، بیا رسول اکرم د استیذان په اهمیت او ارزښت رڼا اچوي، وایي: په رښتیا چې اجازه غوښتل یواځې ناجایزو شیانو ته د کتلو لپاره تاکل شوې ده.

د پورته حدیث نه واضح ده، چې د اسلام په مبارک دین کې د کور حرمت او د استوګنځي مصؤنیت ډېر اهمیت لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم دې کس ته د دومره سخت وعید خبره د کورونو او استوګنځایونو د حرمت او د خوندیتوب د اهمیت په اساس کړې ده.

امام مسلم په خپل کتاب صحیح مسلم کې دا حدیث د بخاري سره په لږ توپیر او زیاتونې سره روایت کړی:

**عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ، أَخْبَرَهُ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ فِي جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرًى يَحُكُّ**

---

[1]. اوسپنپزه میله ده، چې خلک پرې دسر ویښتان برابروي، دشانې او ږمنز په معنی هم راغلې.

[2]. صحیح بخاري ،کتاب الاستیذان،ټوک: ۸ ، دپاڼې ګڼه : **۵۴**،حدیث شمیره : **۶۲۴۱**

**بِهِ رَأْسَهُ، فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْتَظِرُنِي لَطَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنِكَ» وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا جُعِلَ الْإِذْنُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ»[1]**

په پورته حديث کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دروازې د يو سوري څخه د يو کس د ليدو خبره شوې، په مخکني حديث کې د حجرې د سوري خبره شوې، دلته د دروازې د سوري نه ليدل نه اصل مقصدي خبره د پرديو کورونو د راز د اخېستلو منع والى دى، که د دروازې د سوري او ياد ديوال د چاود نه او يا د دروازې د لارې نه څوک د چا کورمنځ ته په معنوي شکل ورننوځي، دا کار حرام او منع دى، ځکه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: الله پاک د استيذان امر د همدې سترګو د دخول د مخنيوي لپاره کړى.

**عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، أَنَّ بُسْرَ بْنَ سَعِيدٍ، حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، يَقُولُ: كُنَّا فِي مَجْلِسٍ عِنْدَ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، فَأَتَى أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ مُغْضَبًا حَتَّى وَقَفَ، فَقَالَ: أَنْشُدُكُمُ اللهَ هَلْ سَمِعَ أَحَدٌ مِنْكُمْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الِاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ، فَإِنْ أُذِنَ لَكَ، وَإِلَّا فَارْجِعْ» قَالَ أُبَيٌّ: وَمَا ذَاكَ؟ قَالَ: اسْتَأْذَنْتُ عَلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَمْسِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي فَرَجَعْتُ، ثُمَّ جِئْتُهُ الْيَوْمَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ، فَأَخْبَرْتُهُ، أَنِّي جِئْتُ أَمْسِ فَسَلَّمْتُ ثَلَاثًا، ثُمَّ انْصَرَفْتُ. قَالَ: قَدْ سَمِعْنَاكَ وَنَحْنُ حِينَئِذٍ عَلَى شُغْلٍ، فَلَوْ مَا اسْتَأْذَنْتَ حَتَّى يُؤْذَنَ لَكَ قَالَ: اسْتَأْذَنْتُ كَمَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: فَوَاللهِ، لَأُوجِعَنَّ ظَهْرَكَ وَبَطْنَكَ، أَوْ لَتَأْتِيَنَّ بِمَنْ يَشْهَدُ لَكَ عَلَى هَذَا، فَقَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ: فَوَاللهِ، لَا يَقُومُ مَعَكَ إِلَّا أَحْدَثُنَا**

[1]. صحيح مسلم ، كتاب الادب ،باب تحريم نظر فى بيت غيره،ټوک :۳دپاڼې ګڼه :۱۲۹۸،حديث شميره : ۲۱۵۲

سِنًّا، قُمْ، يَا أَبَا سَعِيدٍ، فَقُمْتُ حَتَّى أَتَيْتُ عُمَرَ، فَقُلْتُ: قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ هَذَا "[1]

ابي سعيد الخدري رضی الله عنه فرمايي: د ابی ابن کعب سره موږ په يوځای کې ناست و، ابوموسی اشعري په غصه او قهر راغی، ودريده او بيا يې وويل: الله جل جلاله دې ستاسې ملاتړی شي، ايا له تاسې څخه کوم يو د رسول الله څخه دا نه دي اوريدلي، چې ويل به يې: اجازه درې ځله ده، که چېرته درته اجازه وشوه، ښه او که نه، نو بيا بېرته وگرځه؟ نوابی بن کعب رضي الله عنه ورته وويل: نو دا څه خبره ده؟ اشعري صاحب وويل: پرون مې د حضرت عمر په وړاندې درې ځله اجازه ووغوښتله، اجازه يې رانه کړه، نو بېرته واپس شوم، نن ورته ورغلم، وردننه شوم، بيا مې د پرون څخه خبر کړ، چې زه پرون ورغ راغلی وم، درې ځله مې سلام واچولو، بيا بېرته وگرځېدم، حضرت عمر وويل: موږ ستا اجازه غوښتل اوريده، خو موږ په يو کار کې مشغول و، تا به ترهغې اجازه غوښتله، ترڅو چې درته اجازه شوې وه، ابو موسی وويل: ما داسې اجازه وغوښتله، لکه څنگه چې مې د رسول الله نه اوريدلي دي، عمر وويل: قسم په خدای چې خيټه او ملا به دې يو کړم، يا به خامخا په دې خبره يو څوک شاهد راولې، ابی ابن کعب وويل: سوگند په خدای تاسره به داسې څوک نه ځي مگر هغه چې موږ کې کشر وي، جگ شه يا ابي سعيده! ابا سعيد وايي: زه پاڅيدم، ترڅو چې حضرت عمرته راغلم، بيا مې ورته وويل: چې ما د رسول الله نه اوريدلي، داسې يې ويل.

په پورته حديث کې واضح شوه، چې نبي کريم د اجازه اخيستونکي لپاره درې ځله قيد کړې، تردې زيات بايد د کور او استوگنځي خاوند مجبور نه کړي، چې راغلي کس ته دې حتماً اجازه ورکړي، حضرت عمر رضي الله عنه د ديني مسايلو او اصولو په کره کولو کې د څومره جديت او ټينگارڅخه کار اخېسته، (فَوَاللهِ، لَأُوجِعَنَّ ظَهْرَكَ وَبَطْنَكَ) دا ډول کلمات د حضرت عمر رضي الله عنه له خولې نه ابو موسی اشعري ته د ډېر جديت په معنی دی، د دې نه دا درس هم اخېستلی شو، چې د دين په احکامو او مسايلو کې هېڅوک هم بايد د ځان څخه څه جوړ نه کړي، بلکې د ديني اصولو د ذکر ترڅنگ د هغه په توثيق اواستنادهم پوه شي.

---

[1] . صحيح مسلم، کتاب الادب، باب الاستيذان، ټوک : ۳ دپاڼې گڼه : ۱۲۹۴ دحديث شميره: ۲۱۵۳

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، فَقَدْ حَلَّ لَهُمْ أَنْ يَفْقَئُوا عَيْنَهُ» عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ عَلَيْكَ بِغَيْرِ إِذْنٍ، فَخَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ، فَفَقَأْتَ عَيْنَهُ مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ»

د قرنکریم تفسیر په نبوي ارشاداتو شوی، د کورونو او استوګنځایونو د حرمت او مصؤنیت موضوع د قرانکریم په مبارکو ایتونو کې وڅېړل شوه، څرګند اوصریح احکام مو ولیدل، چې په پوره صراحت سره الله جل جلاله پردیو کورونوته دننوتلو څخه د منع حکم کړی و، خود دې قبیح او بد عمل (داجازې پرته استوګنځي ته ننوتلو ) په مقابل کې دمجازاتو په اړه څه ونه لیدل شول، خو په نبوي مبارکو ارشاداتو کې د دې قبیح عمل او د دې ستر جنایت په مقابل کې د عمل په مقابل کې د عکس العمل اجازه باندې صراحت شوی، په پورته نبوي مبارکو ارشاداتو کې د کوراو استوګنځي د حرمت موضوع ډېره مهمه او ارزښتناکه بلل شوي، تر دې پورې چې که یو څوک د چا کور د منځ ځان بیدون د استیذان څخه خبرکړي، یعنې د خارج څخه د کور منځ ته کوښښ کوي، چې د کور منځ څخه ځان خبراو اګاه کړي، کور خاوند ته اجازه شته، چې ددې شخص سترګې ړندې کړي.

زموږ خلک دې شرعي مسئلې ته هیڅ پاملرنه نه کوي، ډېر وخت د خلکو دروازه خلاصوي، سوالګر او یا میلمه د کور منځ په خپلو سترګو معاینه کړي، بیا وروسته ټک ټک او یا د اجازې غږ کوي، دغه ډول کړنې د اسلامي شریعت د اصولو خلاف کړنې دي، همدې ته د استوګنځي د مصؤنیت نقض او یا هتک حرمت وایي، د قراني احکامو او نبوي ارشاداتو په رڼاکې حرام عمل دی.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَوْتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ هَذَا؟» قُلْتُ: أَنَا، قَالَ: فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُولُ: «أَنَا أَنَا»

[1]. صحیح مسلم ، باب تحریم نظر فی بیت غیره، ټوک:۳،دپاڼې ګڼه : ۱۶۹۹، دحدیث شمېره: ۲۱۵۸
[2]. صحیح مسلم، کتاب الادب،ټوک : ۳، پاڼې ګڼه: ۱۶۹۷،حدیث شمیره: ۲۱۵۵

په پورته حدیث شریف کې د جابربن عبدالله رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، نوموړی وایي: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خوا ته لاړم، غږ مې وکړ نبي صلی الله وفرمایل: دا څوک دی؟ ما وویل: زه یم، جابر رض وایي نبي صلی الله علیه وسلم راته وویلي زه زه، ددې حدیث نه دا مفهوم اخیستلای شو، چې هر څوک د چا کور ته ورځي او د داخلیدو اجازه اخلي، باید ځان معرفي کړي، تنها په دې اکتفا ونه کړي، چې زه یم، بلکې د کور دننه شخص د اجازه اخیستونکي معرفي ته ضرورت لري، باید اجازه اخیستونکی او داخلېدونکی کس ووایي السلام علیکم، زه فلان یم، داخل شم.

**عن أبي هريرة رضي الله عنه فِيمَنْ يَسْتَأْذِنُ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ قَالَ: لَا يؤذن له حتى يبدأ بالسلام**[1]

څوک مجلس او یا استوګنځي ته د سلام پرته داخلېږي، په دې برخه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي، دې خلکو ترهغې اجازه مه ورکوئ، چې ترڅو سلام وړاندې نه کړي.

**عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: إِذَا دَخَلَ وَلَمْ يَقُلِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقُلْ: لا حتى يأتي بالمفتاح السلام**[2]

سلام وړاندې کول مجلس ته د داخلېدو کونجې ده، څوک چې پرته له سلام څخه مجلس ته داخل شو، هغه ته باید د دخول اجازه ور نه کړل شي، ترڅو سلام وړاندې نه کړي.

**أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، أَخْبَرَنَا صَفْوَانُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي؟ قَالَ: «نَعَمْ» ، قَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ، قَالَ: «اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا» ، قَالَ: إِنِّي أَخْدُمُهَا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً؟» قَالَ: لا ، قَالَ: «فَاسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا»**[3].

---

[1]. صحیح بخاري، کتاب الادب المفرد ،ټوک :اول، حدیث شمیره : ۱۰۶۶

[2]. ............................ حدیث شمیره: ۱۰۶۷

[3]. موطا، مالک ، بروایة محمد بن الحسن الشیبانی، ټوک ګڼه : اول، پاڼې ګڼه ۳۲۰،حدیث شمیره: ۹۰۲

د نبي کريم صلی الله علیه وسلم نه یو کس پوښتنه وکړه، دې کس وویل: ای د خدای رسوله، آیا زه له خپلې مور څخه هم کور ته د ننوتلو په وخت اجازه وغواړم؟ نبي کریم صلی الله ورته وویل: هو، دغه کس ورته وایي، زه ورسره په کور کې استوګن یم، رسول الله ورته وایي، اجازه ترې وغواړه، بیا دغه صحابي ورته وویل، زه یې خدمت او پالنه کوم، رسول الله ورته وویل: ته دا خوښښ ګڼې، چې هغه بربنډه ووینې؟ دغه کس ورته ځواب کې وویل: نه ، نو بیا ورته رسول الله وویل پس د هغې نه اجازت وغواړه.

هر مسلمان ته په کار ده، چې د انسانیت سترلارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په لارښوونو عمل وکړي، خپل کورته د داخلیدو او ننوتلو پر وخت د استیذان اداب مراعت کړي، ترڅو د داسې حالت سره مخامخ نه شي، چې د ده د روحي رنځورتیا سبب شي، علماوو ویلي، هر انسان ته په کار ده، چې د هر هغه چانه اجازه وغواړي، چې د چا عورت ته لیدل پرې حرام وي.

**حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّمْلِيُّ، وَابْنُ عَوْفٍ، وَهَذَا لَفْظُهُ قَالَا: حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ ثَوْرٍ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّكَ إِنِ اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ النَّاسِ أَفْسَدْتَهُمْ، أَوْ كِدْتَ أَنْ تُفْسِدَهُمْ» فَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: «كَلِمَةٌ سَمِعَهَا مُعَاوِيَةُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ نَفَعَهُ اللَّهُ تَعَالَى بِهَا»[1]**

حضرت معاویه رضي الله عنه څخه روایت دی، دی وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اوریدلي، ویل یې: که چېرته ته د خلکو پټو رازونو او اسرارو پسې ګرځې، دوی به فساد کې اخته کړې، یا نژدې ده، چې دوی به فاسد شي، بیا ابو درداء وویل: دا خبره چې معاویه د رسول الله څخه اوریدلې، الله جل جلاله دې ورته پرې خیر ورکړي.

د دې حدیث په شرحه کې علماوو لیکلي: هدف د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د فساد د اخته کیدو نه دا و، چې که ته چېرته د خلکو عیبونو پسې ګرځې، خلک به بې حیا شي، بیا جرات پیدا کړي، هر ډول د بې حیایي کارونه به کوي.

---

[1]. ابی داود، کتاب الادب، باب فی النهی عن التجسس، ټوک:۴، پاڼې ګڼه: ۲۷۲، حدیث شمیره: ۴۸۸۸

## دريیم مطلب: د استوګنځي مصؤنيت د فقهاوو له نظره

استوګنځي ته په عربي کې سکنی هم ويل شوی، سکنی لفظ د سکون نه وتلی دی، يعنې کورته په راتلو يو بنده سکون او ارام محسوسوي، ځکه ورته د سکون ځای يا مسکن وايي، د يوې مسلمانې ښځې لپاره د دې دومره اهميت دی، چې کله نبي صلی الله عليه وسلم، مدينې منورې ته تشريف يوړ، نو د مسجد نبوي له تعمير نه هغوی دويم کار دا وکړ، چې د پاکو بيبيانو د سر پټولو لپاره يې د مکان د تعمير وفرمايلو، تردې چې هغوی طلاقو شوو ښځو ته هم ترعدته پورې نفقه او اوسېدو ځای ورکړ.[1]

اسلامي فقه د اسلامي شريعت لويه او مهمه برخه ده، واضح خبره ده، چې د دين ډېر مسائل په اسلامي فقه کې روښانه اوبيان شويدي، ځکه په مستقيم ډول د قران او حديثو نه دځينو مسائلو استنباط او پوهه حاصلول ستونزمن وي، اسلامي فقهې د دين مسايل د دين پيروانو ته ساده او اسانه کړي دي، د دې لپاره چې د استوګنځي د مصؤنيت او خونديتوب موضوع مو د امکان تر حده په ښه توګه څېړلې وي، ښه به وي، چې د استوګنځي د خونديتوب موضوع په ارزښت او اهميت د فقهاوو نظرونه هم راجمع کړو:

**فَقَدْ رَوَى عُلَمَاؤُنَا عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ قَالَ: (مَنْ مَلأَ عَيْنَيْهِ مِنْ قَاعَةِ بَيْتٍ فَقَدْ فَسَقَ.)[2]**

حضرت عمر رضي الله عنه وينا ده: چې د چا سترګې د يو کور دننه په ليدو ډکې شوې، يعنې په ډکو سترګو يو څوک د چا د کور منځته وګوري، دغه شخص ګناه وکړه، مسلمان ته پکار ده، چې په لاره د تګ پر وخت هم د خپلو نظرونو حفاظت وکړي، د خلکو د کورونو په د دروازو سترګې ښخې نکړي، په خپله لاره لاړشي، که څوک د چا کورته د ورتګ نيت لري، بايد د دروازې ښي يا چپ اړخ ته ودرېږي، بيا اجازه وغواړي.

د فقهې عالمان ددې مهمې موضوع په هکله چې پردي کورته له اجازې اخيستلو پرته کتل روا دي اوکنه؟ په خپل منځ کې سره اختلاف لري، چې که د کور له اوسېدونکو څخه يوڅوک

[1]. ندوي،محب الله،خويشکی،فرهاد محمد غالب ترين،اسلامی فقه،پاڼه ګڼه:۳۹۸
[2]. قرطبی، ټوک: ۱۲، پاڼې ګڼه: ۲۲۰

څوک ووينې، چې د دروازې له سوري څخه دننه کورته ګوري اوهغه په سترګه چوخ کړي اوسترګه يې ور ړنده کړي، آيا قصاص پده باندې واجب دی اوکه نه؟

۱. امام شافعي اوامام احمد رحمت الله عليهمان پدې عقيده دي چې که سترګه يې ور ړنده کړه، سترګه يې هدرده، قصاص او ديت نلري .

۲.امام مالک اوامام ابوحنيفه حمه الله عليهمان پدې عقيده دي، چې دا کار جنايت شمېرل کېږي، تاوان او قصاص پکې واجب ده .

د شافعيانواو حنبليانو دليلونه : د ابوهريره رضی الله تعالی عنه حديث:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، فَقَدْ حَلَّ لَهُمْ أَنْ يَفْقَئُوا عَيْنَهُ»**[1]

ژباړه:هرڅوک چې پرته له اجازې څخه د يو چا کورته ورګوري اوهغوی د ده سترګه ړنده کړه، د ده سترګه هدر ده، تاوان ( ديت او قصاص) نه لري .

۲. له سهل ابن سعد رضي الله تعالی عنه روايت شوی دی، چې نوموړي ويلي دي : يوه سړي د رسول الله صلی الله عليه وسلم له کوټو څخه يوې کوټې ته پرته له اجازې ور وکتل، رسول الله صلی الله عليه وسلم پداسې حال کې چې په لاس کې يې يوه نری وسپنه وه، چې په هغې باندې به يې سر ګراوه، دغه سړي ته داسې وويل: که زه په دې پوهيدای چې ته کوټې ته راګورې، دا اوسپنه به مې ستا په سترګو کې داخله کړې وه، په رښتيا چې اجازه غوښتل يوائې ناجايزو شيانو ته دکتلو لپاره ټاکل شوي دي .

دمالکيانواو حنفيانو دليلونه:دالله جل جلاله د دې قول عموم چې وايي:

﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ﴾ ۲

دغه ايت پدې دلالت کوي،چې هرڅوک داسې اقدام کوي، هغه جنايت کوونکی دی، که قصداً يې دا کار کړی وي، په ده باندې قصاص واجب دی اوکه په خطا باندې دا کار ورڅخه شوی وي ديت ورباندې واجب دی .

---

[1]. صحيح مسلم ، ټوک ګڼه :۳، پاڼې ګڼه : ۱۶۹۹دحديث شمره: ۲۱۵۸

[2]. المائده سورت، ايت ۴۵.

عالمانو پدې اجماع او اتفاق کړی دی، چې که یو څوک د چا کورته پرته له اجازې څخه ور داخل شو، او د کور اوسیدونکو د ده سترګه ړنده کړه داجنایت ګڼل کیږي او قصاص په دوی باندې واجب ده، همداسې وايي: لکه څرنګه چې پرته له اجازې څخه اوپه خپل سر د یو چا کورته داخلېدل او د کور داخلي شیانو ته کتل د یو چا د سترګې ړندول نه روا کوي، یوازې د دروازې له سوري نه دکور داخل ته کتل خوبیې په طریق اولی سره دسترګې ړندول نه روا کوي.

په کوم حدیث باندې چې شافیعانو اوحنبلیانو دلیل نیولی دی،په هغه کې داسې تاویل کوي، چې که یو چا د بل چا کورته ور وکتل اود کور ښځو او نورو محارموته یې نظر وکړ او هغوی دی لرې او منع کړ، خوده لاس وا نه خیسته او جګړه یې پیل کړه، چې د جګړې او دفاع پر مهال دده سترګه ړنده شوه، پدې حالت کې دده سترګه هدر ده.

ابو بکررازي چې مشهور په جصاص اود حنفي فقهې له امامانو څخه ده په ۳۷۰ هـ ش کې وفات شوی ده، وايي:د فقهې عالمان دحدیث د ظاهرپه خلاف دي او د ابوهریره دغه حدیث دهغو حدیثونو له جملې څخه ده چې داصولو سره دمخالفت له امله رد کړی شوی.

امام صابوني وايي: زما په نظر باندې د دلیلونو دقوت له امله دشافعیانو اوحنبلیانو رایه غوره ده، والله اعلم.[1]

مجلة الاحکام چې دحنفي فقهې په جمله کې دمعتبرو کتابونو له جملې څخه ده، په خپلو فقهي قواعدو کې داستوګنځي دمصؤنیت او حرمت په اړه ګڼ قواعد لري،دمجلة الاحکام اصول زموږ په مدني او جزایي محاکمو کې داعتبار او استناد وړدي، پدې اساس ضروري ده چې د دې معتبر فقهي کتاب داصولو څخه هم یو څو قاعدې داستوګنځي دمصؤنیت اړوند توضیح او تشریح شي.

**كُلٌّ يَتَصَرَّفُ فِي مِلْكِهِ كَيْفَ مَا شَاءَ. لَكِنْ إِذَا تَعَلَّقَ حَقُّ الْغَيْرِ بِهِ فَيُمْنَعُ الْمَالِكُ مِنْ تَصَرُّفِهِ عَلَى وَجْهِ الِاسْتِقْلَالِ. مَثَلًا: الْأَبْنِيَةُ الَّتِي فَوْقَانِيُّهَا مِلْكٌ لِأَحَدٍ وَتَحْتَانِيُّهَا لِآخَرَ فَبِمَا أَنَّ لِصَاحِبِ الْفَوْقَانِيِّ حَقُّ الْقَرَارِ فِي التَّحْتَانِيِّ وَلِصَاحِبِ التَّحْتَانِيِّ حَقُّ السَّقْفِ فِي الْفَوْقَانِيِّ أَيْ حَقُّ التَّسَتُّرِ**

[1] - ایت الاحکام (روائع البیان) ټوک ګڼه: دوهم ، مخ : ۱۴۴، ۱۴۵، ۱۴۲

وَالتَّحَفُّظِ مِنْ الشَّمْسِ وَالْمَطَرِ فَلَيْسَ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَعْمَلَ عَمَلًا مُضِرًّا بِالْآخَرِ بِدُونِ إذْنِهِ وَلَا أَنْ يَهْدِمَ بِنَاءَ نَفْسِهِ[1]

په پورته قاعده کې د ګاونډيانو لخوا يو د بل استوګنځی د مصؤنيت اوخونديتوب موضوع پداسې شکل ذکر شويده، چې که چېرته په يودوه پوړيزه استوګنځي کې څوک داسې استوګنه کوي، چې لاندې پوړ يې د يو کس ملکيت وي اوپاسنۍ برخه يې د بل کس ملکيت وي، د پاسنې برخې خاوند په چت باندې داستقرار او استوګنې حق لري، دلاندينې پوړخاوند ددې حق لري، چې د چت په ذريعه د لمر، باران او نور ضرري شيانو څخه خوندي وي، يوهم ددې حق نلري، چې دبل د استوګنځي مصؤنيت او خونديتوب ته صدمه وارده کړي، د پاس پوړ مالک اواستوګن نشي کولی، چې چت سوری اويا يې تخريب کړي، دلاندې پوړ اوسيدونکی هم نشي کولی، چې د پورتني پوړ اوسيدونکي له اجازې پرته دکورپه لاندې منزل کې داسې عمل وکړي،چې پورتني شخص ته ضرر وي، هر يو د دوی چې يو مضرعمل ترسره کوي دبل اجازه پکې شرط ده .

الْمَادَّةُ ( ١١٩٥) لَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يُبْرِزَ رَفْرَافَ غُرْفَتِهِ الَّتِي أَحْدَثَهَا فِي دَارِهِ عَلَى دَارِ جَارِهِ فَإِنْ أَبْرَزَهُ يَقْطَعُ الْقَدْرَ الَّذِي جَاءَ عَلَى هَوَاءِ تِلْكَ الدَّارِ.[2]

دپورته فقهي قاعدې مفهوم داسې دی، چې هيڅوک حق نلري، د خپل کور او ياکوټې چجه او يا رفک دځنګ ګاونډي ترکوره وباسي، که چېرته يوداسې کار وکړي،چې د خپل کوراو کوټې چجه يي دبل چا دکورد هوا په حريم باندې سوره کړه، نودغه چجه او رفک به د ګاونډي دکور د حريم په اندازه قطع کېږي.

محمد خالد اتاسي په خپله شرحه کې ليکلي: اګرکه دغه چجه اورفک ګاونډي ته ضررنه وي، خو بيا هم بايد قطع شي، ځکه داپه پردي ملک له اجازې پرته تصرف دی،همدا ډول شريکان هم په شريکه هوا کې يود بل له اجازې پرته رفکونه اوچجې نشي ويستلی .

---

[1].مجلة الاحكام العدليه،نورمحمد کتب خانه،کراچي ارام بآغ، ټوک ګڼه :١ ، ماده : ١١٩٢

[2]. مجلة الأحكام العدلية، ټوک: ١ ،پاڼې ګڼه:٢٣١، ماده :١١٩٥

هرڅوک په خپل کوراو استوګنځي کې د واک اواختیار خاوند دی، لنډمري جوړوي او که خام، خو پدې مکلف دی، چې خپل دېوال، خپله چڅه اورفک په خپل قلمرواوخپله فضا کې تعمیراوابآده کړي، که چیرته یوچا دخپل کوراوکوټو چڅه دومره حدته دبآندې ویستلې وې،چې دګاونډي هوايي حریم باندې واقع وي، د کور د مالک د حریم څخه وتلې چڅه باید قطع شي، تر څو د ګاونډي د کورمصؤنیت اوملکیت یې خوندي شي.

(لَا يُمْنَعُ أَحَدٌ مِنْ التَّصَرُّفِ فِي مِلْكِهِ مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ ضَرَرٌ فَاحِشٌ لِلْغَيْرِ[1]): هیڅوک په خپل ملکیت له تصرف څخه نه منع کېږي، ترڅو چې د ده د تصرفاتو څخه بل چاته ښکاره ضرر ونه لیدل شي.

شرحه :استوګنځی هم ملکیت دی او ملکیت له تعارض څخه مصؤن دی،هیڅوک حق نلري چې د چاپه خپل استوګنځي کې دتصرفاتومانع اوخنډشي، خو په هغه صورت کې چې داستوګن دتصرفاتو په نتیجه کې بل کس ته او یاعام ولس ته فاحش ضرر متوجه وي، پدې صورت کې بیا دمتصرف شخص په تصرفاتو کې مداخله کیدای شي.

### فاحش ضرر څه شی دی؟

مَا يَضُرُّ الْبِنَاءَ أَيْ يُوجِبُ وَيُسَبِّبُ انْهِدَامَهُ أَوْ يَمْنَعُ الْحَوَائِجَ الْأَصْلِيَّةَ أَيْ الْمَنْفَعَةَ الْأَصْلِيَّةَ الْمَقْصُودَةَ مِنْ الْبِنَاءِ كَالسُّكْنَى هُوَ ضَرَرٌ فَاحِشٌ[2]

فاحش ضرر ديته وايي: کوم شیان چې داستوګنځي دضرر او نړیدو سبب کیږي، یا داستوګنځي او آبادۍ داصلي ضرورتونو اومقصودي ګټو په وړاندې خنډ جوړیږي، لکه د استوګنځي اوسیدلو په وړاندې خنډونه،دېته ضررفاحش وايي.

دپورته فقهي قاعدې شرحه اومثال په لاندنې فقهي قاعده کې روښانه کیږي:

الْمَادَّةُ (١) يُدْفَعُ الضَّرَرُ الْفَاحِشُ بِأَيِّ وَجْهٍ كَانَ مَثَلًا لَوْ اتَّخَذَ فِي اتِّصَالِ دَارٍ دُكَّانَ حَدَّادٍ أَوْ طَاحُونٍ وَكَانَ يَحْصُلُ مِنْ طَرْقِ الْحَدِيدِ وَدَوَرَانِ الطَّاحُونِ وَهَنٌ لِبِنَاءِ

[1]. مجلة الاحکام العدلیه، ماده: ١١٩٧

[2]. مجلة الاحکام العدلیه، ماده : ١١٩٨

تِلْكَ الدَّارِ أَوْ أَحْدَثَ فُرْنًا أَوْ مَعْصَرَةً بِحَيْثُ لَا يَسْتَطِيعُ صَاحِبُ الدَّارِ السُّكْنَى فِيهَا لِتَأَذِّيهِ مِنَ الدُّخَانِ أَوِ الرَّائِحَةِ الْكَرِيهَةِ فَهَذَا كُلُّهُ ضَرَرٌ فَاحِشٌ فَتُدْفَعُ هَذِهِ الْأَضْرَارُ بِأَيِّ وَجْهٍ كَانَ وَتُزَالُ. وَكَذَا لَوْ كَانَ لِرَجُلٍ عَرْصَةٌ مُتَّصِلَةٌ بِدَارِ آخَرَ وَشَقَّ فِيهَا قَنَاةً وَأَجْرَى الْمَاءَ مِنْهَا لِطَاحُونِهِ فَحَصَلَ وَهَنٌ لِحَائِطِ الدَّارِ أَوِ اتَّخَذَ أَحَدٌ فِي أَسَاسِ جِدَارِ جَارِهِ مَزْبَلَةً وَأَلْقَى الْقِمَامَةَ عَلَيْهَا فَأَضَرَّ بِالْجِدَارِ فَلِصَاحِبِ الْجِدَارِ طَلَبُ دَفْعِ الضَّرَرِ، وَكَذَلِكَ لَوْ أَحْدَثَ أَحَدٌ بَيْدَرًا فِي قُرْبِ دَارِ آخَرَ وَتَأَذَّى صَاحِبُ الدَّارِ مِنْ غُبَارِ الْبَيْدَرِ بِحَيْثُ أَصْبَحَ لَا يَسْتَطِيعُ السُّكْنَى فِي الدَّارِ فَيُدْفَعُ ضَرَرُهُ، كَمَا أَنَّهُ لَوْ أَحْدَثَ أَحَدٌ بِنَاءً مُرْتَفِعًا فِي قُرْبِ بَيْدَرِ آخَرَ وَسَدَّ مَهَبَّ الرِّيحِ فَيُزَالُ لِأَنَّهُ ضَرَرٌ فَاحِشٌ. كَذَلِكَ لَوْ أَحْدَثَ أَحَدٌ مَطْبَخًا فِي سُوقِ الْبَزَّازِينَ وَكَانَ دُخَانُ الْمَطْبَخِ يُصِيبُ أَقْمِشَةً وَيَضُرُّهَا فَيُدْفَعُ الضَّرَرُ. وَكَذَلِكَ لَوْ انْشَقَّ بَالُوعُ دَارِ أَحَدٍ وَجَرَى إِلَى دَارِ جَارِهِ وَكَانَ فِي ذَلِكَ ضَرَرٌ فَاحِشٌ فَيَجِبُ تَعْمِيرُ الْبَالُوعِ الْمَذْكُورِ وَإِصْلَاحُهُ بِنَاءً عَلَى دَعْوَى الْجَارِ.

ضرربايد دفع اورفع شي، هغه که په هره ممکنه وسیله وي :

دمثال په توګه : که چیرته یوکس د بل چا د کور متصل د لوهاری (اهنگری) دوکان جوړ کړي او یا ژرنده جوړه کړي، طبیعي خبره ده چې داهنګر په دوکان کې داوسپنې د ټکولو اوژرندې دګرځیدو په وجه د کور دېوالونه کمزوري کېږي، یا د کور خوا کې هندو سوزان جوړ کړي اویا ګاڼۍ (د میووشربت ویستلوتولیدي دستګاه) جوړکړي، د هندو سوزان د دود د ضرراوبد بویۍ له وجهې، د کور اوسیدونکي سکونت په خپل کورکې مشکل شي، دا ټول په ضرر فاحش کې راځي، باید په هره ممکنه وسیله دفع اولرې شي او که چیرته یوکس د بل چا دا ستوګنځي ترخنګ ځمکه ولري او په خپله ځمکه کې دژرندې د اوبو لپاره ویاله وباسي اوبه پکې ژرندې ته جاري کړي؛ خود دې اوبو په وجه د کور دېوال کمزوری اوزیم واخلي، یا داچې یوکس دخپل

ګاونډي د دېوال په بيخ کې ډېران جوړکړي اوښځلې اوفضله شيان پکې واچوي، د دې ډېران څخه د ګاونډي دېوال ته ضرر ورسيده، نود دېوال خاوند د ضرر د دفع غوښتنه کولی شي، که چيرته څوک دچا د کور خواکې درمند جوړکړي، ددرمند دغُباراو دوړو څخه د کورخاوند په تکليف شي، په خپل کور کې ورته سکونت ستونز من شي، نوضرر به دفع کوي؛ همدارنګه که چيرته يوڅوک د چا د درمن يا خرمن په خواکې داسې لوړه اومرتفع ابادي وکړي، چې د درمن په مخ دبآد مانع شي، دغه ضرر به لرې کيږي،همدارنګه که چيرته يوڅوک په خپل کورکې د بدرفت اوګنده اوبولپاره ګټراويا ذخيره جوړه کړي، ددې ذخيرې او ګټر اوبه دګاونډي کورته جريان پيداکړي، پدې صورت کې دا فاحش ضرردی، که چيرته ګاونډي شکايت اودعوی وکړي، د ګټرپه مالک باندې لازمه او واجب ده، چې خپل ګټراوذ خيره تعميراوجوړکړي، دزيم ضد مواد پکې استعمال کړي .

په پورته قاعده په څوموارد و کې داستوګنځي د مصؤنيت اوخونديتوب موضوع ته ډيراهميت ورکړل شوی، استوګنځي ته متوجه ضرر يې فاحش ضرربللی اودهغې د دفع اولرې کولوامريې کړی، دا داستوګنځي دمصؤنيت اوخونديتوب نور بعدونه دي.

**مَنْعُ الْمَنَافِعِ الَّتِي لَيْسَتْ مِنْ الْحَوَائِجِ الْأَصْلِيَّةِ كَسَدِّ هَوَاءِ دَارٍ أَوْ نَظَّارَتِهَا أَوْ مَنْعِ دُخُولِ الشَّمْسِ لَيْسَ بِضَرَرٍ فَاحِشٍ. لَكِنَّ سَدَّ الْهَوَاءِ بِالْكُلِّيَّةِ ضَرَرٌ فَاحِشٌ فَلِذَلِكَ إذَا أَحْدَثَ أَحَدٌ بِنَاءً فَسَدَّ بِهِ نَافِذَةَ غُرْفَةِ جَارِهِ الَّتِي لَهَا نَافِذَةٌ وَاحِدَةٌ فَصَارَتْ مُظْلِمَةً بِحَيْثُ لَا يُسْتَطَاعُ قِرَاءَةُ الْكِتَابَةِ مِنْ الظُّلْمَةِ فَيُدْفَعُ الضَّرَرُ حَيْثُ إنَّهُ ضَرَرٌ فَاحِشٌ، وَلَا يُقَالُ فَلْيَأْخُذْ الضِّيَاءَ مِنْ بَابِهَا لِأَنَّ بَابَ الْغُرْفَةِ يَحْتَاجُ إلَى غَلْقِهِ مِنْ الْبَرْدِ وَلِغَيْرِهِ مِنْ الْأَسْبَابِ وَإِنْ كَانَ لِتِلْكَ الْغُرْفَةِ نَافِذَتَانِ فَسُدَّتْ إحْدَاهُمَا بِإِحْدَاثِ ذَلِكَ الْبِنَاءِ فَلَا يُعَدُّ ضَرَرًا فَاحِشًا[1]**

---

[1]. مجلة الاحكام العدليه، ماده: ۱۲۰۱

د اصلي حوائجونه غیرد ځینې منافعو منع کیدل فاحش ضرر نه ګڼل کېږي لکه: کور ته دهوا بندېدل، یا د کور د لیدلو مانع، یا د لمرد وړانګو مانع، مګر کله چې هوا په صورت کل بنده شي، فاحش ضرر ګڼل کیږي، که چیرته یو څوک داسې آبادي وکړي، چې د ګاونډي د داسې کوټې کړکۍ پرې بې فایدی شي، چې داکوټه همدا یوه کړکۍ ولري، ددې کړکې دمخې بندیدوسره کوټه داسې توره تیاره شي، چې پکې کتاب لوستل نه کیږي شي، دا ضرر فاحش دی باید لرې اودفع شي، متضرر شخص ته داسې نشي ویل کیدی، چې د کوټې د دروازې نه رڼا واخلي، ځکه د کوټې دروازه دیخنۍ له وجهې بندیدو ته اړتیا لري؛ خو که چیرته دغه کوټه دوه کړکۍ ولري، یوه یې د دې نوې ابادۍ په وجه بنده شي، پداسې حالت کې بیا دا ضرر فاحش نه بلل کیږي.

په پورته فقهي قاعده کې داستوګنځي دمصؤنیت مختلف حالتونه او مختلف صورتونه ذکر شوي، د کور د مصؤنیت او خوندیتوب اصل کې دانسان عزت، کرامت او دژوند اصلي ضرورتونه دي، اسلامي فقهې دغه ټول ضرورتونه په نظر کې نیولي او د هغې د خوندیتوب لپاره یې مختلف تدابیر وړاندې کړي، په کوټه کې رڼا د تلاوت او عامې مطالعې لپاره ضرورت دی، بل ګاونډي ته ددې اجازه نشته، چې د خپل ګاونډي د کوټې رڼا ته داسې مانع کوونکې ابادي وکړي، چې دغه کوټه توره تیاره شي، داټول مسائل موږ د کور او استوګنځي د مصؤنیت اوخوندیتوب په اهمیت او ارزښت تعبیرولی شو.

(لاضرر ولاضرار) : دغه قاعده دنبوي مبارک حدیث الفاظ دي، دا قاعده په دوه حکمونو مشتمله ده:

**اول حکم** : (لاضرر) هیچاته روا نه ده، چې دبل کس، نفس، عزت اومال ته زیان ورسوي، ځکه ضرر رسول بل چاته ظلم دی، ظلم په اسلام کې منع او ناروا دی.

ټول هغه ضررونه چې په اسلامي فقه کې منع راغلي، هغه په مطلق ډول فاحش ضررونه دي.

د دې قاعدې دویم حکم :لاضرار: د ضرر مقابله او دفع په ضرر باندې روا نده، متضرر ته لازمه ده، چې عدلي اوقضایي مقاماتو ته مراجعه وکړي، ترڅو دقضایي مقاماتو لخوا د ده په تعویض حکم وشي، کوم چې متضررته رسیدلی.[۱]

---

[۱]. زیدان،عبدالکریم،الوجیزفی شرح القواعد الفقیة، پاڼې ګڼه : ۸۳ اول چاپ، چاپ کال: ۱۴۳۲ق

رُؤْيَةُ الْمَحِلِّ الَّذِي هُوَ مَقَرُّ النِّسَاءِ كَالْمَطْبَخِ وَبَابِ الْبِئْرِ وَصَحْنِ الدَّارِ يُعَدُّ ضَرَرًا فَاحِشًا، فَإِذَا أَحْدَثَ أَحَدٌ فِي دَارِهِ نَافِذَةً أَوْ بَنَى مُجَدَّدًا بِنَاءً وَفَتَحَ فِيهِ نَافِذَةً عَلَى الْمَحِلِّ الَّذِي هُوَ مَقَرُّ نِسَاءِ جَارِهِ الْمُلَاصِقِ أَوْ جَارِهِ الْمُقَابِلِ الَّذِي يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا طَرِيقٌ وَكَانَ يَرَى مَقَرَّ نِسَاءِ الْآخَرِ مِنْهُ فَيُؤْمَرُ بِرَفْعِ الضَّرَرِ وَيَكُونُ مَجْبُورًا عَلَى دَفْعِ هَذَا الضَّرَرِ بِصُورَةٍ تَمْنَعُ وُقُوعَ النَّظَرِ إِمَّا بِبِنَاءِ حَائِطٍ أَوْ وَضْعِ سِتَارٍ مِنَ الْخَشَبِ لَكِنْ لَا يُجْبَرُ عَلَى سَدِّ النَّافِذَةِ عَلَى كُلِّ حَالٍ كَمَا إِذَا عَمِلَ حَائِطًا مِنَ الْأَغْصَانِ الَّتِي يَرَى مِنْ بَيْنِهَا مَقَرَّ نِسَاءِ جَارِهِ فَإِنَّهُ يُؤْمَرُ بِسَدِّ مَحَلَّاتِ النَّظَرِ وَلَا يُجْبَرُ عَلَى هَدْمِهِ وَبِنَاءِ حَائِطٍ مَحِلَّهُ[1]

د پورته قاعدې هدف اومفهوم داسې دی، د يوچا د استوګنځي منځ کې د ښځو او سياسرو د ناستې ځای ليدل، لکه اشپزخانه، داوبوکوهی، يا د کورمنځ داتول فاحش ضررشمېرل کيږي، که چېرته يوڅوک دخپلې آبادۍ يوه کړکۍ اوباسي، يانوې ابادي وکړي، په نوې آبادۍ کې يوه کړکۍ پداسې ځای کې اوباسي، چې په هغې ځای کې د پيوسته ګاونډي دښځومقراود ناستې ځای وي او که دهغه ګاونډي کور ته کړکۍ وباسي، چې د دواړو په منځ کې لاره وي، خو بيا هم د ګاونډي د کور منځ او د زنانه و دناستې ځای لدې کړکۍ ښکاري، د ضرر په رفع به ورته امر کيږي، مجبوريږي به ترڅو دا ضرر دفع کړي، چې د ګاونډي په کور دننه د نظرمانع شي، که دا کار د دېوال په واسطه کېږي اوکه د خښتو په پرده ديوال، خود کړکۍ په بندولونه مجبوريږي، په هرحال که چيرته يو څوک د ونو د شاخونو او يا ددرمو د چجکې ديوال وکړي، خود دې له منځ څخه دښځو مقر ښکاريده، بياهم دا کس دهغه ځايونو په بندولو مکلف کېږي،چې د ګاونډي کور ترې ښکاري، خوپه نړولو يې نه مجبوريږي.

[1]. مجلة الاحكام العدليه، ماده: ۱۲۰۲

اذا انهدم حایط بین دارین فصاریری احدی الدارین مقرالنساء الاخری واراد صاحب احدالدارین تعمیرالحایط المشترک وامتنع صاحب الاخری فلایجبر لکن یجبرمن الحاکم علی اتخاذ سترة بینهما بالاشتراک من دف اوشئ غیره ۱

شرحه: که چیرته ددوه کورونو مشترک دیوال ونړیده،د یو کور د زنانه و د ناستې ځای بل ته ښکاریده، ددې کورونو دخاوندانو څخه یوقصد وکړ،چې دغه مشترک دیوال جوړ کړي،خو ددې بل کورخاوند یې ممانعت کولو، ممانعت کوونکي باندې زورنه کیږي،مگر دقاضي په حکم، پردې کولوته مجبوریږي، ترڅوپه شریکه په مناسب شي پرده وکړي.

شرحه : په پورته ټولو فقهي قواعدو کې د کورونو د مصؤنیت اوخوندیتوب مسائل بیان شوي، د کور منځ کې د ښځو د مقرښکاره کېدل، د ښځو په عوراتو باندې اطلاع حاصول ضرر فاحش بلل شوی د کوټې منځ ته د لمر د وړانگو او رڼا په صورت کل بندیدل ټول فاحش ضررونه بلل کیږي.

خلاصه داچې په اسلامي شریعت کې د کور داستوگنځي د خوندي توب موضوع ته په هر اړخیزه توگه پاملرنه شوې، هغه که په مادي لحاظ ده اوکه په معنوي لحاظ، آن تر دې چې کله یو مسلمان دشپې ویده کیږي اسلامي شریعت دده د کور، سراو مال د خوندیتوب لپاره دېته امر کوي، چې په خپلو کورونو کې شته اورمړکړي، پدې باره کې دنبي کریم څرگند امردی.

## دویم مبحث: د استوگنځي د مصؤنیت دلایل په ملي قوانینوکې

واضح ده، چې داستوگنځي د مصؤنیت موضوع ډېره مهمه اواسلامي شریعت د نصوصوپه رڼا کې د دې اصل ساتنه او رعایت یو لاژمي امردی، په فردي توگه د هر وگړي او په ټولنیزه توگه د دولتونو او سیاسي رژیمونو مکلفیت دی، چې د دې اصل د رعایت لپاره د خپلو قوانینو لپاره ځانگړې پاملرنه او توجه وکړي، دا چې زموږ هیواد اسلامي هیواد او وگړي یې ۹۹ سلنه مسلمانان دي؛ نود افغانستان داساسي قانون ددویمې اودریمې مادې د حکم په اساس د افغانستان ټول قوانین داسلامي شریعت په پیروئ مکلف دي،په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولی چې داسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

---

۱. اتاسی، خالد ،شرح المجلة الاحکام العدلیه، ټوک ۴، پاڼې گڼه : ۲۴۰ ماده : ۱۳۱۷

د اساسي قانون د پورته حکم په اساس د افغانستان دټولو قوانينو دتقنين پر وخت قانونګذار داسلام اساسات اومعتقدات په نظر کې نيسي .

داستوګنځي دمصؤنيت موضوع دومره ارزښتناکه او دمزاياو ډک اصل دی، چې په ټولو انساني پرګنو او دولتونو کې دې اصل ته دبشر د طبيعي او اساسي حق په سترګه کتل کېږي .

په افغانستان د ۱۳۵۷ کال دثورد کرغېړنې کودتا وروسته سياسي ثبات رنګ او د قانونيت د اصل موضوع له منځه لاړه، د کورونو د مصؤنيت موضوع په ډېره لوړه کچه خلقي اوپرچمي کودتاچيانو د سرداراداود خان د کور په رنګولو اود هغه په شمول د هغه د کورنۍ ګڼ تعداد کسانو په شهيدانولو يې د کورونو د حرمت اومصؤنيت د نقض لړۍ داسې وغزوله، چې دهر افغان او مسلمان کور او استوګنځی دروسي وحشي لښکرو او ورسره افغان روسي ملګرو يې څخه خوندي پاتې نشو، د اسلام د مقدس جهاد مجاهدينوهم د دې اصل درناوی ونکړ، په ډېرو مواردوکې يې د خلکو د کورونوحرمت نقض کړ،دزکات، صدقې اوچندې په نوم يې دخلکو کورونه تلاشي او د خلکود کورونو اموال يې په غيرقانوني توګه دځان سره وړي، دالړۍ تراوسه دوام لري، د ۱۳۸۲کال داساسي قانون د۳۸ مادې له مخې د استوګنځي دخونديتوب د حکم سره سره دولتي قواو دهېواد په ګوټ ګوټ کې د خلکو کورونه بمبار کړي، کوچنيان، ميرمنې اوبوډاګان يې شهيدان کړي، د خلکو د کورونو دروازې په انفجاري موادو تخريب اوپه نيمه شپه کې يې دملي او بين المللي ټولواصولو خلاف داستوګنځي حرمت اومصؤنيت نقض کړی، د دولت مخالف جنګيالي هم پدې برخه کې د دولتي قواوو نه کم ندي، هغوی هم په ډېرو ځايونو کې د خلکو کورونونه د سپرپه توګه ګټه پورته کړي، داستوګن له اجازې پرته په کوررننوتي، د دولتي قواوو په وړاندې يې ترې دمورچل استفاده کړې، ډېروځايونو د خپلوشخصي غوښتنو اوشخصي ګټو په غرض د خلکو په کورونو بيدون داستيذان اواجازې ورننوتي، دتورسرواوماشومانو د کړولو ترڅنګ يې د کورمشراويا کشريه يونوم ويستی، کله يې د کور په غولي، کله په دروازه او کله په لرې مصافه کې وژلی، داسې ډېرې ترخې واقعې به د دې څېړنې په وروستۍ برخه کې په مستند ډول ذکر کړو، چې دولتي قواوود اسلامي شريعت اوداساسي قانون اود هېواد د نورو قوانينو حکمونه نقض او پايمال کړي، چا يې تر دې دمه ترې پوښتنه نه ده کړې، د دې لپاره چې موږ پدې پوه شو چې دافغانستان قوانينو ددې اصل درعايت په اړه څه ډول سپارښتنه کړې، بهتره به وي چې په اول کې دافغانستان د ۱۳۸۲ کال داساسي قانون

په منځ کې داستوګنځي د خوندیتوب او مصؤنیت موضوع ولټوو بیا به یې ورپسې په نورو قوانینو کې په وار سره وڅېړو.

## لومړی مطلب: د استوګنځي مصؤنیت په اساسي قانون کې

دافغانستان د ۱۳۸۲هـ ش کال اساسي قانون ۳۸ ماده د استوګنځي د مصؤنیت موضوع دارنګه تمثیلوي: د شخص استوګنځی له تیري څخه خوندي دی، هیڅوک ددولت په ګډون نشي کولی داستوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قراره پرته اوبې له هغوحالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، دچا کورته ورننوزي یا یې وپلټي، نومړی مامور مکلف دی، کورته له ننوتو یا پلټنې وروسته په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې قرار ترلاسه کړي.

ددې لپاره چې داستوګنځي دمصؤنیت دحق دنقض موارد وپېژنو او داساسي قانون داحکامو دنقض څخه مو وقایوي تدابیر نیولي وي، باید داستوګنځي دحق اساسي عناصر وپېژنو.

### الف: د استوګنځي دحق اساسي عناصر

داستوګنځي حق درې اساسي عناصرلري، چې په لاندې ډول یې بیانوو:

### اول: داستوګنځي دلرلو حق

داستوګنځي د لرلو حق معنی داده، چې هرکس حق لري، چې د خپل ځان او د خپلې کورنۍ دغړو د اوسیدنې لپاره شخصي او یا هم کرایي کور ولري او له دې حق څخه څوک، هیڅوک نشي بې برخې کولی، همدارنګه داوسېدنې د ځای انتخاب هم د همدې حق برخه ده، یعنې کولای شي چې هرځای وغواړي هماغلته استوګنه اختیار کړي.

### دویم: داستوګنځي دخوندیتوب حق

داستوګنځي دویم عنصر دادی، چې کله یو چا داستوګنځي حق ترلاسه کړ او په یوځای کې یې استوګنه اختیار کړه؛ نو بیا دده استوګنځی د هرډول تعارض او تجاوز څخه خوندي دی، پدې معنی چې هیڅوک نشي کولی د ده استوګنځي ته بې اجازې داخل شي، البته پدې برخه کې یوڅه استثناءت وجود لري.

**درییم : داستوګنځي د تغیرحق**

وروستی عنصر چې داستوګنځي حق یې لري، دادی چې شخص وکولی شي خپل استوګنځي ته تغیر ورکړي، یعنې دا دشخص حق دی چې سهولتونو او امکاناتو ته په کتو د ځان لپاره یوځای انتخاب کړي او هملته استوګن شي .[1]

دافغانستان داساسي قانون دحکم په اساس هر افغان دهېواد په هر ګوټ کې کولی شي، استوګن شي ، استوګنځی او داستوګنځي مصؤنیت دهر افغان اساسي حق دی، باید داستوګنځي دنقض موارد هم موږ واضح او ښکاره وي .

**ب : د استوګنځي د حق د نقض موارد**

واضح شوه، چې داستوګنځي مصؤنیت داتباعو اساسي او قانوني حق دی، ددې حق نقض او ماتول قانوني جرم دی، ددې لپاره چې دقانون داحکامو دنقض او جرمي عمل څخه مخنیوی وشي، باید داستوګنځي دمصؤنیت دحق نقض موراد وپیژنو، ترڅو مسؤل مقامات داتباعو اساسي حقوقو مصؤنیت ته زیاته پاملرنه وکړي .

داستوګنځي دمصؤنیت حق د نقض موارد په لاندې ډول دي :

اول: داستوګنځي د خاوند له اجازې پرته د هغه کورته داخلیدل .

دویم په زور او جبر سره د یو شخص په استوګنځي کې تصرف کول .

دریم : داستوګنځي تخریبول دښاري نقشو، سرکونو او نورو مواردو په نوم پرته له دې چې دهغې بدل او یایې قیمت ورکړل شي .

څلورم : د جنګ پرمهال د شخصي استوګنځي ویشتنه او تخریبول .

پنځم : دشپې او ورځې لخوا شخصي استوګنځي ته دمسلحو افرادو داخلیدل اوداستوګنځي دمالونو لوټول او دافرادو عزت ته صدمه رسول .

شپږم :دغاییبنو او مهاجرینو د شخصي استوګنځي غصبول .[2]

---

[1]. مبارز ،عبدالصبور ، داساسي قانون تحلیل.

[2]. مبارز ، مخکنی ماخذ ، پانې ګڼه :

**دویم مطلب: په نړیوالو میثاقونو او اعلامیو کې د استوګنځي د خوندیتوب احکام**

د افغانستان د اساسي قانون داومې مادې د حکم په اساس دولت د ملګروملتونو دمنشور، د بین الدوله معاهدو، د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي، همدا راز داساسي قانون د۵۸ مادې د حکم په اساس دولت په افغانستان کې د بشر حقوقو درعایت دڅارنې ، ښه والي اوملاتړ لپاره دافغانستان د بشرحقوقو خپلواک کمیسون جوړوي.

د اساسي قانون داومې مادې د حکم په اساس نړیوالې اعلامیې او میثاقونه زموږد هېواد دملي قوانینو یوه برخه بلل کیږي، ښه به وي چې دنړۍ والواعلامیو او میثاقونو په رڼا کې داستوګنځي دمصؤنیت او خوندیتوب موضوع هم وڅیړل شي .[۱]

**الف: دبشرحقوقو نړیواله اعلامیه**

د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې په دولسمه ماده داستوګنځي دخوندیتوب په اړه دارنګه راغلي : د هیچا په محرمیت، کورنۍ ، د اوسیدو ځای او لیکونو کې لاسوهنه نه کیږي اونه یې په نوم اوحیثیت تیری کیدای شي، هرڅوک د دې ډول یرغل یا لاس وهنې په وړاندې د قانوني ساتنې حق لري. (۱۲) ماده

**ب: د مدني اوسیاسي حقونو بین المللي میثاق**

د هیچا په خصوصي او کورني ژوند ، داوسیدو په ځای او لیکونو کې (له قانوني اجازې پرته) په خپل سر مداخله ونه شي او همدارنګه د هغه په عزت او حیثیت باندې غیر قانوني تیری ونشي.

**ج: د ماشومانو د حقوقو تړون**

۱. په کورني خصوصي حریم، کور اولیکونو کې په خپل سراوپه ناقانونه توګه اوهمدارنګه د ماشوم په شرف اوحیثیت باندې باید تیری ونکړل شي .

۲. ماشوم حق لري چې د دا ډول تېریواولاسوهنواو یرغلونو په وړاندې د قانون د ننګې او ملاتړ څخه برخمن شي .

---

۱. رسمي جریده،اساسي قانون، ۷ او ۵۸ مادې

**هـ: د بشرحقوقو نړیواله اسلامي اعلامیه**

ددې اعلامیې په ۱۸ماده کې راغلي: هرانسان حق لري، چې په یوه مطمئنه فضا کې ژوند وکړي، د دې ډول شرایطو اماده کول د دولتونو مکلفیت دی.

**دریم مطلب: داستوګنځي مصؤنیت په عادي متني اوجزایي شکلي قوانینوکې**

په تیرو بحثونو کې واضح شوه چې د افغانستان قوانین داسلامي شریعت سره په مطابقت او اسلامي معتقداتو ته په درناوي وضع کیږي، داساسي قانون د دریمې مادې حکم په اساس: (په افغانستان کې هیڅ قانون نشي نافذیدلی، چې داسلام د سپیڅلي دین او په دې اساسي قانون کې د راغلو ارزښتونو مخالف وي) نوخبره چې تردې حده په اسلامي معتقداتود ټینګښت ده ښه به وي، چې دافغانستان دجزایي شکلي اومتني قوانینو په احکامو کې د استوګنځي د مصؤنیت اوخوندیتوب مسائلو ته نظروکړو، بیا که چیرته مناسبه وه نورو عادي قوانینوکې به هم د دې شرعي اوبشري حق د خوندیتوب احکام وګورو.

**لومړی جز: د افغانستان د جزایي اجراتو قانون**

دافغانستان په محاکمواوعدلي ارګانو کې د۱۳۴۴ هـ ش نه راپدیخوا درې دجزایي اجراتو قوانین نافذ اوتطبیق شوي، چې یویې د۱۳۴۴ کال د جزایي اجراتو قانون له تعدیلونوسره و، چې د طالبانو د اسلامي امارت ترسقوط اود جمهور ریس کرزي د موقت حکومت دمنځته راتګ سره، د جزایي اجراتود موقت قانون په نوم بل شکلي قانون په ۴- ۱۲- ۱۳۸۲هـ ش نیټه نافذ شوی، دغه قانون دجزایي اجراتو په نوم لنډ مهالی قانون و، چې دډېروکلونو لپاره نافذ و، پدې قانون کې داستوګنځي دمصؤنیت په اړه ډېراحکام نشته، خود ۳۲مادې داولې فقرې د حکم په اساس قضایي ضبط مامورینو ته یې اجازه ورکړې، چې دعاجلو اجراتو د ترسره کولو لپاره دمظنون شخص داوسیدنې کوراو نورمربوط ځایونه تلاشي کړي.

په ۱۳۹۲هـ ش کال کې دجزایي اجراتوموقت قانون لغوه، دجزایي اجراتو یو بل قانون تصویب شو، چې د دې مخکنیو جزایي اجراتود قوانینو ځای ناستی شو، پدې قانون کې د موقت قانون ټولو نواقصو اونیمګړتیاوو ته پاملرنه وشوه، په زیات حجم او پراخه ساحه کې احکام لري.

د۱۵- ۳- ۱۳۴۴هـ ش نیتي په (۲۲) ګڼه رسمي جریده کې خپورشوی د جزایي اجراتو قانون، ۳۸ ماده داستوګنځي د مصؤنیت په اړه دارنګه صراحت لري:امنیه افراد شخصي کورونوته د ننوتلوحق نلري، مګر هله چې د کاله استوګن یا د مربوطه محکمې قاضي ورته اجازه ورکړي اویا دا چې د کاله د داخل له پلوه تري کومک وغوښتی شی، یا اورلګیدلی وي یازلزله یا سیلاب یا د دې امثال پیښ شوي وي. (۳۸ماده)

دهمدې قانون ۳۹ ماده صراحت لری: دقضایي ضبط مامورد مشهودجرم په حالت کې جنایت وي که جنحه دتورن کورته پورتنی ماده کې دراغلوشرطونوله مراعته پرته ننوتلی اوهغه لټولی شي، هاغه شیان اوپاڼې چې دقضایي ظبط مامورته دحقیقت موندلو لپاره د هغوښنو ښنانوله مخې چې پکې دي مفید ښکاره شي اخیستلای شي، دمشهود جرم په حالت کې د ښارنوالۍ غړي کورته د ننوتلو اولټولو نه پس په یوه میاشت کې دننه د دغه اقدام د صحت په باب د ابتدایه قاضي حکم حاصلوي. (۳۹) ماده

دکور پلټنه حتی الامکان دتورن یا دهغه د قایم مقام په مخکې کېږي، که چیرې دتورن یا دهغه دقایم مقام حضور ممکن نه وي، نود کور پلټنه د دوه تنو عیني شاهدانو په مخکې کیږي او تر ممکن حده پورې په کار دی چې شاهدان دتورن خپلوان یا د تورن سره دیوه کاله استوګن او یا ګاونډیان وي، د دې موضوع جریان په رپوټ کې ثبتیږي. (۴۲) ماده

دافغانستان د جزایي اجراتو وروستی قانون چې اوسمهال نافذ اودتیرونورو قوانینو په نسبت غني اود حال د مقتضا سره برابرقانون دی، پدې قانون کې هم داستوګنځي د مصؤنیت موضوع ته پاملرنه شوې، کشفي اوعدلي مسؤلین یې داستوګنځي د حرمت اومصؤنیت موضوع متوجه کړي، دکورد تلاشۍ اود مشهود جرم د ارتکاب په صورت کې د مظنون شخص د تعقیب اونیونې پروخت یې امنیتي مسؤلین دخاصواجراتو په مراعت اودرناوي مکلف کړي، جزایي اجراتوقانون پدې برخه کې لاندې سپارښتنې لري:

## دویم جز: دکور او استوګنځي پلټنه او تالاشي

داستوګنځي دپلټنې اوتالاشۍ په اړه د جزایي اجراتو قانون دارنګه صراحت لري:

(۱) پولیس، د ملي امنیت مؤظف اوڅارنوال نشي کولای داوسېدونکي (ساکن) له استغاثې یا اجازې یا د واکمنې محکمې له مخکنې قرارپرته د شخص مسکن (کور) یا داوسېدنې ودانۍ ته ورننوزې اوهغه وپلټي.

(۲) که چېرې د کور یا د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه اړینه تشخیص شي پولیس، د ملي امنیت مؤظف او څارنوال مکلف دي د هغې د پلټنې وړاندیز واکمنې محکمې ته وړاندې کړي، د پلټنې داجازې وړاندیز د لاندې مطالبو لرونکي وي:

۱. د جرم ډول.

۲. د پلټنې موخه اوموضوع.

۳. د پلټنې نېټه،ساعت اوځای.

۴. د پلټنې داجراء موده(۱۱۹ماده) [1]

## داستوګنځي دپلټنې اجازه

دافغانستان دجزایي اجراتو قانون دضرورت پر وخت دامنیتي مسؤلینو لخوا د استوګنځي د پلټنې داجازې په اړه په یوسلو شلمه ماده کې دارنګه حکم کوي:

واکمنه محکمه کور یا داوسېدنې ودانۍ ته ننوتل اودهغو پلټل په لاندې حالاتو کې اجازه ورکوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې شخص د احضار له امر یا د واجب التنفیذ حکمونو له اعمال څخه تمرد وکړي او د پام وړ کور یا د اوسېدنې په ودانۍ کې اوسېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د شخص د نیونې امرصادراوشخص د پام وړکور یا د اوسېدنې په ودانۍ کې پټ وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د جنایت یا جنحې جرم د ننه په کور یا د اوسېدنې په ودانۍ کې ارتکاب شوی وي او د جرم د ځای کتنې، هلته ورننوتل ایجاب کړي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې په پام وړکور یا داوسېدنې په ودانۍ کې د مظنون یا تورن د پټېدو یا ممنوعه شیانویا د جنایت یا جنحې پورې داړوندو شیانو د پټېدو په اړه قاطعه (پرېکنده) قرائن موجود وي.

د استوګنځي دپلټنې شکلیات: دجزایي اجراتو قانون دامنیتي مسؤلینو لخوا داستوګنځي شکلیات په یوسلو یوویشتمه ماده کې دارنګه تمثلیوي:

(۱) د کوریا د اوسېدنې د ودانۍ د پلټنې په وخت کې د ښځینه پولیسې حضورشرط ګڼل کېږي.

---

[1] . عدلي وزرات، رسمي جریده،

(۲) کور یا د اوسېدنې ودانۍ ته ننوتل د پولیسو او څارنوال دهویت د کارت اود واکمنې محکمې د اجازه لیك په وړاندې کولو سره د دروازې له لارې صورت مومي، د ممانعت په صورت کې پولیس د اقل حد ځواك په استعمالولو سره کور یا د اوسېدنې ودانۍ ته ورننوزي.

(۳) د کور یاد اوسېدنې د ودانۍ پلټنه یوازې په هغۀ جرم پورې د مختصو شیانو د لټولو لپاره چې په هکله یې کشف او تحقیق روان وي، د دلایلو د راټولولو لپاره صورت موندلای شي.

(۴) که چېرې پولیس، د ملي امنیت مؤظف او څارنوال د پلټنې په وخت کې داسې شیان ووینې (وګوري) چې ساتل یې د قانون په حکم جرم ګڼل شوی وي یا نوموړي شیان د بل ارتکاب شوي جرم په کشف کې اغېزمن وي کولای شي هغه ضبط کړي.

په مشهود جرم کې کور یا استوګنځي ته دورننوتلو جواز: په فقه کې یوه قاعده ده چې ضرورتونه محظوراومنع شوي شیان مباح کوي بله قاعده داسې حکم کوي، کله چې کار سخت شي، نو پراخه شي.

دکور یا استوګنځي مصؤنیت اوحرمت یو شرعي امردی، خو د ضرورت پر وخت بیا قانون د خاصو شرایطو په مراعت سره مسولو مقاماتو ته اجازه ورکوي، ترڅود یو چا کور ننوځي، د جزایي اجراتو قانون یوسلوڅلوریشتمه ماده پدې برخه کې دارنګه حکم کوي:

(۱) پولیس، دملي امنیت مؤظف اوڅارنوال کولای شي د جنایت یاجنحې د مشهود جرم د ارتکاب په حالت کې د دې قانون په یوسلو یوویشتمه ماده کې د درج شوي حکم په پام کې نیولو پرته د شخص کوریا د اوسېدنې ودانۍ ته ورد ننه شي او د هغو په پلټنه لاس پورې کړي، هغه شیان اوپاڼې چې دوی ته د جرم د کشف لپاره ګټورواقع شي ضبط کړي، پدې صورت کې موضوع په محضر کې درجېږي، د مظنون یا تورن یا د کور یا ودانۍ د استوګن لاسلیك اود ګوتې نښه په هغۀ کې اخیستل کېږي.

که چېرې هغوی له لاسلیك اود ګوتې د نښې له لګولو څخه ډډه وکړي، موضوع په محضرکې درجېږي او تروسه وسه (حتی الامکان) له اوسېدونکو یا ګاونډیانو څخه د یوۀ تصدیق پدې برخه کې اخیستل کېږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې پولیس، د ملي امنیت مؤظف اوڅارنوال مکلف دي زیات نه زیات تر (۵) رسمي ورځو مودې پورې د خپل د اقدام صحت (سموالی) د څارنوالۍ له لارې له واکمنې محکمې څخه واخلي.

## دریم جز: د استوګنځي دپلټنې په وخت کې دمظنون یا تورن حضور

واضح خبره ده چې کور یا استوکنځی دمادي اومعنوي ملکیتونو د خوندي ساتلو لپاره مناسب محل اومکان دی. په قران کریم کې ځنې وختونه دعوارتو په نوم یاد شوي، خو کله کله د ضرورت په وخت داستوګنځي حرمت اوخوندیتوب د امنیتي مقاماتو لخوا دعامه مصالحو د خوندي ساتلو په موخه نقض کیږي، دیوچادکورد تالاشی اوپلټنې پروخت باید په خپله د کورخاوند، مظنون شخص یا د هغه مدافع وکیل اوکه د کورخاوند او مدافع وکیل حضور ونلري، نو بیا یا دسیمې د دوه تنو مخورو اوکله کله د کلي او قریې ملک او ملا امام په حضور کې پلټنه صورت مومي، د جزایي اجراتو قانون پدې برخه کې دارنګه حکم کوي:

(۱) د کور یا د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه د مظنون یا تورن او د کور یا د اوسېدنې د ودانۍ د یوه استوګن که چېرې موجود وي په حضور کې صورت مومي.

(۲) که چېرې په کوریا د اوسېدنې په ودانۍ کې له مظنون یا تورن پرته بل استوګن وجود ونلري او یا مظنون یا تورن هم موجودنه وي، د کور یا د اوسېدنې د ودانۍ پلټنه د دوو تنو شاهدانو په حضور کې چې د هغوی د خپلو خپلوانو یا ګاونډیانو له جملې څخه وي صورت مومي. پدې حالت کې د موضوع جریان په محضر کې درجېږي، د حاضرو اشخاصو لاسلیك یا د ګوتې نښه پکې اخیستل کېږي.

(۳) د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوی محضر دلاندې مطالبو لرونکی وي:

۱- ددې څرګندونه چې استوګن شخص دهغهٔ له قانوني حقوقو څخه خبر کړای شوی دی.

۲- د حاضرو اشخاصو د څرګندونو درجول.

۳- د دې څرګندونه چې ضبط شوي شیان داوطلبانه تسلیم ورکول شوي دي یا په اجباري ډول اخیستل شوي دي.

۴- دهغو پاڼو او شیانو د پټېدو ځای او کیفیت چې ضبطېږي.

۵-په ضبط شوو پورې د منحصروشیانو د دقیق مقدار، کیفیت اونورو مشخصاتو او د امکان په صورت کې د هغو رېښتیاني ارزښت یا ډول. (**۱۲۵**) ماده

## څلورم مطلب: د استوګنځایونو مصؤنیت په مدني قوانینو کې

په افغانستان ګې مدني قوانین وجود نلري، تنها په ۱۳۵۵هـ ش کال کې یومدني قانون په څلورټوکو او ۲۴۱۶مادو کې تدوین شوی، د مدني قانون په څلورم ټوک کې عیني حقوق بیان شوي، د دې قانون دریم کتاب ، څلورم ټوک عیني حقوق بیان کړي، پدې قانون کې د اسلامي فقهې په خاص ډول دمجلة الاحکام العدلیه دقواعدو څخه اخذ او استفاده شوې، د دې قانون یو څو داسې مادې دبیلګې په توګه را اخلو چې د کور یا استوګنځي مصؤنیت اوخوندیتوب ته پکې اشاره شوې وي .

ګاونډی حق نلري، د یو متر څخه په کمه اندازې کې د ګاوندي په طرف کړکۍ یا وره کړکۍ ولري، مصافه دهغه دېوال دشا چې کړکۍ یا وره کړکۍ پکې واقع ده، یا د دېوال دباندینۍ غاړې څخه اندازه کېږي ( ۱۹۲۹) ماده

ګاونډی کولی شي چې د ګاونډي د داسې عقار په مقابل کې کړکۍ یا وره ملاقی کړکۍ ولري، چې په عین وخت کې دعمومي لارې په مقابل کې وي ( ۱۹۳۰)

درڼا ورکولو ځای چې قاعده یې د اطاق د سطحې څخه د انسان د قد څخه زیات لوړوالی ولري او د هغې څخه د هوا جریان او د رڼا ننوتل منظور وي، پداسې توګه چې عادتاً د هغې څخه د ګاونډي دعقار کتنه ممکنه نه وي؛ نو په هغې کې دمصافې اندازه شرط نده .

## پېینځم مطلب: استوګنځي ته داستوګن داجازې غیر دننوتلو اجازه لیک (صحت اقدام)

دافغانستان داساسي قانون د حکم په اساس د شخص (استوګنځی له تیري څخه خوندي دی، هیڅوک د دولت په ګډون نشي کولی د استوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قراره پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کورته ورننوزي یا یې وپلټي، نوموړی مامورمکلف دی کورته له ننوتو یا پلټنې وروسته په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې قرار ترلاسه کړي) داساسي قانون د حکم په اساس د ضرورت پر وخت د استوګنځي د پلټنې مخکې اویا هم وروسته باید د ذیصلاح محکمې اجازه ترلاسه شي، دغې اجازې ته صحت اقدام وایي، کله چې امنیتي او کشفي مسؤلین غواړي یو استوګنځی وپلټي، کله د پلټنې نه مخکې او کله د پلټنې وروسته موضوع د څارنوالی سره شریکوي، د کور یا استوګنځي د پلټنې موضوع په کتبي ډول د یو وړاندیز په شکل څارنوالۍ ته وړاندیزکوي، څارنوالي دغه وړاندیز د

خپلې لارې اړونده ذیصلاح محکمې ته استوي، که وړاندیز پاڼه د پلټنې نه مخکې محکمې ته استول شوي، محکمه دوړاندیز پاڼې د متن په کتنې سره د قانون د احکامو د رعایت په سپارښتنه د استوګنځي د پلټنې اجازه ورکوي؛ خوکه چیرته پلټنه مخکې ترسره شوي وي او د محکمې اجازه د تالاشۍ اوپلټنې د اجراتونه وروسته اخیستل کیږي، پدې وخت کې محکمه مکلفه ده، چې په قانون کې قید وخت(پنځه رسمي ورځو) ته پاملرنه وکړي، بیا د پولیسو د پلټنې د اجراتو تائید وکړي، ډېر وخت داسې شوي، چې پولیس دیوچا کورپلټنه وکړي، بیا په قانون کې د ټاکلي اندازې نه ډېر وخت وروسته محکمې ته د اجازې وړاندیز پاڼه استوي، دغه ډول اجرات تائیدول د افغانستان د نافذه قوانینوپه رڼا کې منع اومردود دي.

## دریم مبحث: استوګنځي ته د ننوتلو اووتلو احکام په اسلامي فقه کې

په تېروبحثونوکې واضح شوه، چې داسلام مبارک دین داستوګنځی اوکورلپاره د حرمت اومصؤنیت ترڅنګ استوګنځي ته د ننوتلواو وتلو اداب اوقواعد ټاکلي، ترڅوانسان په خپل کوراو استوګنځي کې په راحت کې اوسي،دانسان ژوند ، ازادي اوکرامت خوندي اومصؤن وي،

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا

مفسرینو د دې ایت کریمه په شان نزول کې لیکلي: چې د جاهیلت په زمانه به یوکس دیو دوست کورته پداسې شکل ورته چې،سلام به یې نه اچولو ، کورته به داخل شو، بیا به یې ویل، زه خو راغلم، داعمل به دکورپه خاوند ډېر سخت تمامیده، ډېروخت یو څوک د خپلې میرمن سره وه، الله د دې ناوړه دود دتغیراوتبدیل لپاره دایتونه رانازل کړل:

﴿فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾[1]

ژباړه : البته کله چې کورونو ته ننوځئ نو خپلو کسانو ته سلام اچوئ،دخیردعا د الله له لوري ټاکل شوی، ډېره برکتناکه اوپاکه سوتره، په دغه ډول الله تعالی تاسې ته ایتونه بیانوي ترڅو چې تاسې له پوهې اوادارك نه کاروا خلئ.

[1]. النور سورت، ۶۱ ایت

داچې انسان اجتماعي مخلوق دی او دتل لپاره د خپل ژوند د دوام اوبقا لپاره اجتماعي اړیکو او راشې درشې ته اړدی، نو ډیروخت یوکس غواړي، د یو دوست، ملګري اونژدې قریب خواته لاړشي، خو دغه شخص خپل بل دوست د خپل ورتګ څخه نه خبروي، چې زه نن په دغه وخت کې ستا ملاقات ته درځم، ملګری او دوست یې د ده د راتګ څخه خبرنه وي، بیدون دمخکني خبرڅخه یو ناڅاپه دهغه د لیدو قصد اوحرکت کوي، لرې نده، چې پدې وخت کې د ده دوست دخپلې میرمنې سره په کوم کارکې مصروف وي، د دې امکان هم شته،چې ملاقات کیدونکی شخص د خپلې یوې ډلې دوستانو سره په ملاقات مصروف وي، یا د کور نه بهرد بل چا سره دوعدې په اساس دتګ په حال کې وي، پدې اساس لازمه ده، چې د قرانې هدایاتواولارښوونو په رڼا کې دغه ملاقات کوونکی خپل دوست سره د خپل ملاقات موضوع شریکه اوبرابره کړي، هغه دوست په خپل ورتګ پوه اواګاه کړي، په هره ممکننه وسیله چې وي باید هغه دوست په خپل ورتګ خبرکړي، همدیته استیناس اواستیذان وایي .

دیوچا کورته دورتګ په وخت لازمه ده، چې اول کې(السَّلَام عَلَيْكُم ) وایي، بیا ووایي اجازه ده داخل شم، درې ځله به داخبره تکراروي، که چیرته ورته د ننوتلو اجازه وشوه داخل به شي، خو که چیرته ورته ونشوه بیرته به وګرځي، د اهل سنت والجماعت د فقهاوو په نظراستیذان(کورته دننوتلو اجازت) واجب دی، هیچاته جایز نده چې د چا کورته داجازې پرته داخل شي، ترهغې چې ورته اجازه وشي  که پردی وي اوکه خپل وي، باید د کورخاوند په هره ممکنه وسیله چې خبر کړي، هغه د دروازې د سر د ټالۍ یاهارن په واسطه وي اوکه دټک ټک په واسطه، په ټک ټک کې هم باید د درې ځلو نه زیاتوالی ونشي، داستیذان ګټه اوفایده داده، چې د کور خاوند به د اجازې نه مخکې د راغلي کس لپاره ځای برابر کړي، که چیرته مناسب ځای نه وي، زنانه به یوطرف ته شي، نورداسې اسرارچې د کور خاوند یې نه غواړي بل څوک ووینې، یا د هغې په لیدلو سره د کور مالک پریشانه اوخفه کېږي هغه ټول شیان به یوطرف په څنګ کړي.

دمالکي فقهاوو په نظراستیذان واجب دی، هغه که نژدې خپلوان وي اوکه لرې یا پردي خلک، ان تر دې چې که خپلې مور ته څوک ورځي باید دا اصل مراعت کړي کله یو څوک د چا کورته ټک ټک وکړي، یا د داخلیدو اجازه وغوښتله او ورنه وپوښتل شو، چې څوک یې؟ باید خپل نوم ورته واخلي  یا هغه نوم چې دغه شخص پرې معروف اومشهوردی. [١]

[١]. قوانین الفقیه ، مالکی فقه، پانې ګڼه : ۲۹۲

د اجازت په وخت د دروازې په مخکې دریدل:په صحیح اسنادو سره دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی، چې کله تاسو د چاکورته ورتلې او د استیذان غوښتنه موکوله؛ نود دروازې ښي څنګ اويا چپ څنګ ته ودریږي دروازې ته مخامخ مه دریږئ

**عَنْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُسْرٍ، صَاحِبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَتَى بَابًا يُرِيدُ أَنْ يَسْتَأْذِنَ لَمْ يَسْتَقْبِلْهُ، جَاءَ يَمِينًا وَشِمَالًا، فَإِنْ أُذِنَ لَهُ وَإِلَّا انْصَرَفَ**[1]

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى بَابَ قَوْمٍ لَمْ يَسْتَقْبِلِ الْبَابَ بِتِلْقَاءِ وَجْهِهِ وَلَكِنْ عَنْ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ يَقُولُ: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ» وَذَلِكَ أَنَّ الدُّورَ يَوْمَئِذٍ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا سُتُورٌ**[2]

د دروازې ټک ټک باید په کراره اوسپک وي، په دومره انداز کې چې واوریدل شي، د کور خلک په تکلیف نشي، ډیر زوراو شدت به پکې نه وي، په صحیح بخاري اداب المفرد کې دانس رضی الله عنه څخه روایت دی، نوموړی وایي: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دروازې به په نوکانو ګرول کیدې. **عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: إِنَّ أَبْوَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ تُقْرَعُ بِالْأَظَافِيرِ**[3]

د پورته حدیث نه دا درس باید واخیستل شي، چې د چا د کور دروازه که ټک ټک کوو، ټک ټک باید په ډیر نرم اومناسب حد کې وي، د نوکانو په واسطه د دروازې ګرول ډیرعادي، خفیف اونرم استیذان دی په اوسني وخت کې بعضې خلک په مارکیټونو اولوی کورونو کې استوګنې کوي، په عادي اونرم ټک ټک نه خبریږي، راغلی میلمه باید داسې انداز سره دروازه ټک ټک کړي، چې د کوردننه خلک پرې خبر شي اوس وخت خوځنې خلکو خپلو دروازو کې هارن لګولی وي، که هارن و او یا دمبائل په ذریعه د خبراو استیذان امکان و، باید ددې وسائلو

---

[1]. صحیح بخاري، ادب المفرد، پاڼې ګڼه : ۳۷۰، حدیث شمیره: ۱۰۷۸

[2]. بهیقي، الاداب للبیهقي، ټوک: اول، پاڼې ګڼه : ۸۳، حدیث شمیره: ۲۰۷

[3]. صحیح بخاری، حدیث شمیره: ۱۰۸۰

ځخه استفاده وشي؛ خود شرعي نصوصو په رڼا کې ټک ټک او يا د مبايل زنګ هم بايد ددرې کراتو نه زيات نه وي.

حضرت علي رضی الله عنه وايي: په استيذان کې لومړنی غږ، اجازت غوښتنه ده، دويم ځل دمشورې اونظراخيستلو ده، دريم ځل د قصد اوارادې يا دغږ اواوازکولو مرحله ده .[1]

دپورته نص نه داسې معلوميږي، چې که څوک د چا دروازې ته ودريده، نو د لومړي غږ سره که څوک جواب ونه وايي بايدخفه نشي، ځکه د اجازت غوښتنه وشوه، د دويم ځل دپاره د کورخلک د ده د راتګ په اړه فکر کوي چې څه وکړي، راتګ ته شرايط مساعد دي اوکه نه ؟ په دريم غږ سره دکور خاوند تصميم نيسي، چې اجازه ده يا بيرته وګرځه .

ابي ايوب انصاري روايت کوي، نوموړی وايي موږ نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته وويل: سلام خوسلام شو،نودا استيذان څه شي دی؟ هغه په ځواب کې وويل:سړی به سبحان الله ،الله اکبر، الحمدالله وايي اويا به خپله غاړه تازه کوي.

**عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، هَذَا السَّلَامُ، فَمَا الِاسْتِئْذَانُ؟ قَالَ: «يَتَكَلَّمُ الرَّجُلُ تَسْبِيحَةً، وَتَكْبِيرَةً، وَتَحْمِيدَةً، وَيَتَنَحْنَحُ،وَيُؤْذِنُ أَهْلَ الْبَيْتِ»[2]**

کورنه د وتلو دعا : کله يو مسلمان د خپلو کور څخه دباندې وځي، بايد دغه دُعا ووايي: بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ، ذکر شوې دعا په صحيح حديث کې په سنن ابي داود کې دارنګه راغلې :

**عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، قَالَ: يُقَالُ حِينَئِذٍ: هُدِيتَ، وَكُفِيتَ، وَوُقِيتَ، فَتَتَنَحَّى لَهُ الشَّيَاطِينُ، فَيَقُولُ لَهُ شَيْطَانٌ آخَرُ: كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ؟[3]**

فقهاو وايي:کله چې يوڅوک خپل کورته داخليږي، خپله غاړه به تازه کوي، يا به خپلې پښې او بوټان داسې خوزوي، چې د کور خلک يې دده په راتګ خبرشي.

---

[1]. الادب لابن شيبه، باب الاستيذان،ټوک: ۱ ، پاڼې ګڼه : ۳۱۰

[2]. سنن ابن ماجه، باب الاستيذان، ټوک: ۲ پاڼې ګڼه :۱۲۲۱ ، حديث شميره : ۳۷۰۷

[3]. سنن ابی داود ، ابواب النوم، ټوک:۴، پاڼې ګڼه: ۳۲۵، حديث شميره: ۵۰۹۲

کورته د داخلیدو دعا: کله چې یوڅوک خپل کور ته داخلیږي، باید دا دعا ولولي

**اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ، وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا**

**عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وَلَجَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ، وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلَى أَهْلِهِ**[1]

غیرمسکون کورته د داخلېدو په وخت دعاء:عبدالله ابن عمررضی الله تعالی عنه وایي:کله چې څوک غیرمسکون ځای ته داخلیږي،داسې دې ووایي

السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ[2]

داسې ځای ته د داخلیدو په وخت دعا چې هلته مشرکان وي:

دېروخت مسلمان د کافرو او مشرکانو سره په یوه دفترکې کار کوي، یا یو میټینګ اومجلس ته ځي، چې هلته په هغې مجلس کې مشرکان او کافران ناست او موجود وي؛ نو پدې وخت کې به مسلمان دالسلام علیکم په عوض داسې وایي (**السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ**) پدې سره هغوی به داسې ګمان وکړي، تاسې پرې سلام ووایه، پداسې حال کې چې تاسې ترې سلام واړوه.[3]

دویده کیدوپه وخت د کورد مصؤنیت د پاملرنې اداب: نبي کریم صلی الله علیه وسلم په صحیح سند سره روایت دی، چې نبي کریم صحابه و ته یې امرکړی و، چې د شپې دویده کیدوپروخت په خپلو کورونو کې اور ژوندی مه پریږدی اور باید مړ شي.

---

[1]. سنن ابي داود، ټوک : ۴،پاڼې ګڼه: **۳۲۵** حدیث شمیره : **۵۰۹۵**

[2]. صحیح بخاری، اداب المفرد، پاڼې ګڼه : **۳۲۳**، حدیث شمیره: **۱۰۵۵**

[3]. الادب لابن شیبه، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه : **۳۱۰**

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، رِوَايَةً وَقَالَ: مَرَّةً يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ»[1]

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَتْ فَأْرَةٌ فَأَخَذَتْ تَجُرُّ الْفَتِيلَةَ فَجَاءَتْ بِهَا فَأَلْقَتْهَا بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُمْرَةِ الَّتِي كَانَ قَاعِدًا عَلَيْهَا فَأَحْرَقَتْ مِنْهَا مِثْلَ مَوْضِعِ الدِّرْهَمِ فَقَالَ: «إِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوا سُرُجَكُمْ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدُلُّ مِثْلَ هَذِهِ عَلَى هَذَا فَتُحْرِقُكُمْ»[2]

په پورتـه حدیث کې د حضرت ابن عباس رضی الله عنـه په روایت سره دیوې واقعې ذکر شوی، نوموړی وایي: یو موږک راغی، د چراغ پلته یې ونیوله اوکش یې کړه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخ ته یوړه، هلته یې په هغې مصلی پرېښودله، په کوم چې نبی صلی الله علیه وسلم ناست و، دهمدې اورڅخه دغه مصلی یا جای نماز دیوې روپۍ په اندازه وسوزیده، نوبیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل:کله چې تاسو ویده کیدی، خپلې ډیوې مړې کړي، شیطان دغه ډول لاربښوونه کوي، بیا به تاسو وسوزوي .

پدې برخه کې یوه ژوندئ واقعه: د۱۳۹۷کال ددلوې په ۷ نیټه دلغمان ولایت دعزیز خان کڅ دمیرک قلعه په سیمه کې دیوې کورنی میرمن دشپې لخوا دتناره ایره یې را اخیستې او دخپلو څارویو په غوجل کې یې خوره کړې وه، ترڅو غوجل وچه او د څارویو لپاره توده وي،غوجل دخسو کوډله وه، د کور څنې سامانونه هم پکې وه، پدې ایره کې ژوندۍ سکروټې وې،کومه سکروټې باندې دجوارو ټانټه لګیدلې وه اور یې اخیستی، ټانټه اوړده اواخور ته غزیدلې وه، په اخورکې تولې ګیاه دهمدې ټانټې څخه اوراخستې و، ټوله کوډله وسوزیدله، یوه غټه غوا یې پکې وسوزیده او یو څاروی یې حلال او ذبح شو، دریېیم پړی شکولی او فرار یې

---

[1]. سنن ابی داود ، مخکنی ماخذ ، پاڼې ګڼه :۳۲۳حدیث شمیره : ۵۲۴۶

[2]. سنن ابی داود ، مخکنی ماخذ ، حدیث شمیره : ۵۲۴۷

کړی، د کور ټول نور ټول سامان په ایره بدل شوي وو، مسلمان ته پکاردي، چې د نبوي لارښونو مطآبق عمل وکړي، د شپې لخوا په خپل کور کې اورمړ کړي، ترڅو یې کور، مال او ژوند خوندي او مصؤن شي.

## څلورم مبحث: داستوګنځي د مصؤنیت داخلال جریمې په اسلامي فقه او ملي قوانینو کې

په اسلامي جزایي فقه کې جرمونه په عمومي توګه پرحدود، قصاص، دیت اوتعزیري جرایموباندې تقسیم شویدي د حدود، قصاص اودیت جرمونومجازات په اسلامي شریعت اوفقه کې ټاکل شویدی، دمجازاتو اندازه یې په شرعي نصوصو کې ټاکل شوی، چې هیڅوک حتی (اولیاې الامور) ددې د زیاتوالي اوکموالي صلاحیت نلري.

ولې په تعزیراتو کې اولوالامر ته د دې صلاحیت ورکړل شویدی، چې د ټولنې د مصلحتونواوښیګنو لپاره په جزا قوانینو کې دتعزیري جرایمو او د جرمي اعمالو تصریح وکړي او هم د دې جرمي اعمالو لپاره دمشخصومجازاتو په وړاندوینې سره دغه برخه تنظیم کړي.

استوګنځی په اسلامي شریعت اووضعي قوانینو کې محرم اوخوندي ګڼل شوی، بیدون داجازې څخه هیڅوک نشي کولی دچا داوسیدو ځای ته داخل شي، په اسلامي شریعت کې استوګنځي ته دننوتلو پروخت اجازه اخیستل واجب دي، خو دواجبوپه ترک سره انسان نه کافر کېږي اونه یې وژل روا کیږي، زموږ ملي وضعي قوانینو داستوګنځي د حرمت اوخوندیتوب د حمایت ترځنګ د نقض په صورت کې ورته په مختلفو حالاتو کې مختلف تعزیري مجازات پیشبیني کړیدي، داچې په مخکینیو بحثونو کې دقران کریم او نبوي احادیثو په رڼاکې داستوګنځي د حرمت اومصؤنیت موضوع یوڅه روښانه شویده، د دې قبیح عمل په وړاندې داسلامي شریعت عکس العمل باندې دفقهاوو نظرونه هم را اخیستل شوي، دلته غواړم په لنډه توګه داستوګنځي دمصؤنیت داخلال جرم او دهغې مجازات په اسلامي شریعت کې روښانه کړم، وروسې به د ملي قوانینو په رڼا کې داستوګنځي دحرمت دنقض مجازات روښانه شي.

### لومړی مطلب: داستوګنځي دمصؤنیت د اخلال جرایم اومجازات په اسلامي فقه کې

اسلامي شریعت کې جرمونه او جنایت مشخص او د هغوی مجازات هم مشخص دي، داستوګنځي د مصؤنیت اوحرمت په اړه چې په احادیثو کې د سترګو د ړندولو ذکر شوی، علماوو اوفقهاوو دهغې په تاویل اوتفسیر کې اختلاف کړی، خو اتفاقي خبره داده، چې بیدون دمالکیانواوحنفیانو دلیلونه:دالله جل جلاله ددې قول عموم چې وايي

وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ ١

دغه ایت پدې دلالت کوي، چې هرڅوک داسې اقدام کوي هغه جنایت کوونکی دی، که قصداً یې دا کار کړی وي، په ده باندې قصاص واجب دی اوکه په خطا باندې دا کار ورڅخه شوی وي، دیت ورباندې واجب دی.

عالمانو پدې اجماع او اتفاق کړی ده، چې که یو څوک د چا کورته پرته له اجازې څخه ور داخل شه او دکور اوسیدونکو د ده سترګه ړنده کړه دا جنایت ګڼل کیږي اوقصاص پدوی باندې واجب ده، همداسې وايي: لکه څرنګه چې پرته له اجازې څخه اوپه خپل سر د یو چا کورته داخلیدل اود کورداخلي شیانو ته کتل دیو چا د سترګې ړندول نه روا کوي یوازې د دروازې له سوري نه د کور داخل ته کتل خویې په طریق اولی سره دسترګې ړندول نه روا کوي.

په کوم حدیث باندې چې شافیعانواوحنبلیانو دلیل نیولی ده، په هغه کې داسې تاویل کوي، چې که یو چا دبل چا کورته وروکتل اود کوربشځواو نورو محارموته یې نظروکړ اوهغوی دې لرې اومنع کړ، خوده لاس وانه خیسته اوجګړه یې پیل کړه، چې د جګړې او دفاع پر مهال د ده سترګه ړنده شوه، پدې حالت کې دده سترګه هدرده.

امام ابو حنیفه او امام مالک صاحب وايي: که چیرته د کور خاوند کورته دلیدونکي شخص سترګه ړنده کړه، دې کس جنایت وکړ، پدې شخص باندې قصاص واجب ده، دوی دغه حدیث دلیل نیولی (لقوله علیه علیه السلام: فی العین نصف الدیة) ځکه په مطلق لیدلو سره دناظر شخص په وړاندې د جنایت ارتکاب روا نه دی لکه که څوک دیوې خلاصې دروازې نه د چا کورته وګوري، یا څوک دچا کورته داخل شي، بیا یې کور کې وګوري، د کوربشځه په یو داسې

---

[1]. المائده سورت، ایت ۴۵.

حالت ووینې، چې دکور مالک یې بدګڼي، بیدون د جماع د حالت نه، دغه لیدل تنها یو ځل مجرد لیدل وي، نو پدې صورت کې د سترګې ړندول جایز ندي.[۱]

## دویم مطلب: د استوګنځي دمصؤنیت د اخلال جرایم او مجازات په ملي قوانینو کې

د افغانستان جزا کود دحدودو موضوع حنفي فقهې ته محول کړې، نو په همدې اساس دحنفي فقهې له مخې د حدودو د اقسامو څخه دلته یادونه کېږي، امام ابو حنیفه رحمه الله حدود په اوو برخو تقسیم کړیدي، چې هغه عبارت دي له : زنا حد ، قذف حد ، سرقت حد ، حرابت یا قطاع الطریقی حد ، شرابو حد ، دارتداد حد او دبغاوت حد څخه چې په اړه یې داضافي توضیحاتو څخه صرف نظر کوو .

په اسلامي شریعت کې عامه قاعده داده، چې تعزیر دمعصیت لپاره دی، بې دمعصیت نه تعزیرنشته .

دا قاعده استثنا هم لري: هغه داده چې د عمومي مصلحت په ایجاب بې د معصیت نه هم تعزیر راتلای شي.

په هغو افعالو باندې تعزیري جزا مرتبیږي، چې په ذاتي تحریم یې نص نه وي موجود ، بلکې په تحریم او جزا کې محض داجتماعي مصلحت تقاضاوي، د دې ډول حالتونو او افعالو شمېر،چې ددې استثنا لاندې راځي ممکن ندی.

د خلکو د معنوي شخصیت یا خصوصي حریم پر ضد د جرایمو له جملې څخه یو جرم هم د خلکو د کورونو او استوګنځایونو د مصؤنیت له منځه وړل دي، چې نوموړي مصؤنیت اسلامي شریعت اووضعي قوانینو، عرف، عاداتو او نورو کې قبول شوي دي، بله دا چې په انساني ټولنه کې د خلکو د کورونو د حرمت احترام لازم دی، همدارنګه سلیم عقل هم د دې تقاضا کوي، چې د خلکو کورونه اواستوګنځی باید له هر قسم تعارض څخه مصؤن وي.[۲]

د افغانستان مخکني جزا قانون اود جزا کود د وخت اوشرایطو په نظرکې نیولو سره هغه تعزیري افعال چې دعمومي نظام اواجتماعي مصالحو په ضرراو زیان دي، په خپله لمن کې

---

[۱]. الزهیلي، وهبة، الضرورة الشرعیه،پاڼې ګڼه : ۱۵۱ ،چاپ کال: ۱۴۰۵هـ ق،موسسة الرساله، بیروت .

[۲]. واثق، احمدګل دُراني، دجزا اختصاصي حقوق،ټوک: اول، پاڼې ګڼه : ۲۴۳ ، یارخپرندویه ټولنه،دویم چاپ، کال ۱۳۹۵

رانغاړلي، ترتیب اوتنظیم کړیدي،غواړم دا مطلب په دوه جزونو یو د جزا قانون او بل دجزا کود په رڼا کې داستوګنځي د مصؤنیت د نقض مجازاتو باندې بحث وکړو .

## لومړی جز: د جزا قانون

د افغانستان د **۱۳۵۵** هـ ش کال د جزا قانون د عدلیې وزارت لخوا په (**۳۴۷**) ګڼه رسمي جریده خپور شوی، دغه قانون ټول (**۵۲۳**) مادې لري، د جزا قانون اوس دجزا کود په انفاذ سره لغوی شوی، د دې لپاره چې موږ داستوګنځي د مصؤنیت موضوع په ماضي او حال کې په خپلو ملي قوانینو کې ارزیابي کړی وي ښه به وي، چې د تیر جزا قانون هغه احکامو باندې لنډ مرور وکړو، کوموکې چې داستوګنځي دمصؤنیت اوخوندیتوب تدابیر اومرتکبینو ته مجازات پیشبیني شوي، دجزا قانون کې ۲۰ مادې ۲ فقره داستوګنځي دمصؤنیت دنقض فاعل شخص ته دا ډول مجازات اعلانوي : دفاع دغیرمجازداخلیدو په مقابل کې د شپې لخوا مسکون کور یا دهغې ملحقاتو ته .[1]

راتلونکي اشخاص په لنډ حبس اونقدي جزا چې د پنځه زروافغانیو څخه زیاته نه وي، یا د دې دواړو جزا ګانو څخه په یوې محکومیږي: اوله فقره :

۱. که شخص د اوسیدلو یا د اوسیدو دپاره تیار محل ته یا د هغې یوې الحاقیې ته دهغې دخاوند درضا څخه په غیریا بې د قانوني جواز څخه داخل شي .

۲. که شخص دپورتني جزء په درج شوو محلونو کې په پټ شوي حالت پیدا شي .

۳. که شخص د دې فقرې د(۱)جزء درج شوو محلونو ته په مشروع ډول داخل شي، د حق د خاوند دارادې په خلاف هلته پاتې شي .

دویم بند: که د پټیدو دځای د داخلیدو یا په هغې کې د پاتې کیدو څخه قصد د محل د خاوند د قوې په زور د حیازت منع کیدل یاهغې کې د جرم ارتکاب وي، ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چې ددوه کلونو څخه زیات نه وي اونقدي جزا چې دلس زروافغانیو څخه تجاوزونکي، یا د دې دواړو جزا ګانوڅخه په یوې محکومیږي.[2] (۴۳۱) ماده .

## دویم جز: د جزا کود

---

[1] . عدلي وزارت ، رسمي جریده،جزا قانون،پرلپسې ګڼه :۳۴۷، ۲۰ ماده

[2] . عدلي وزارت، رسمي جریده، جزا قانون پرلپسې ګڼه : ۳۴۷: ۴۳۱ماده .

د جزا قانون کې داستوګنځي د مصؤنيت د نقض مجازات په لنډ ډول بيان شو، اوس لاَزمه بولو چې دجزا کود داحکامو په رڼا کې داستوګنځايونو دمصؤنيت جرايم او مجازات وپيژنو:

## په مشروع دفاع کې د قتل ارتکاب

دافغانستان دجزا کود داحکامو په رڼا کې مشروع دفاع د حق د کارولو پربنسټ، دعمد قتل ارتکاب جواز نلري، خو دا چې له لاندې اعمالو څخه د يوه په وړاندې د دفاع په منظور يې صورت موندلی وي: دجزا ۱۲۹ مادې ۲ بند دارنګه صراحت لري:

۶. داوسېدنې کور يا دهغه ملحقاتو ته د شپې لخوا د غيرمجاز داخلېدو عمل په وړاندې دفاع. [1]

د جزا کود د پورته مادې ۲ بند احکامو کې داستوګنځي د حرمت او مصؤنيت د خونديتوب نه د حمايې په موخه په دوه حالتونو کې يو دهغې غلا (سرقت) په وړاندې چې د جزا کود داحکامو په اساس جنايت وي، يا د مجازاتو يعنې دمجازاتو اندازه يې د پنځه کالونه پورته تر شپاړس کلونو پورې وي، ددفاع په وخت صورت نيولی وي، همدارنګه ديو انسان قتل روا بولي، پدې شرط په معقولو دلايلو دفاع صورت نيولې وي، دويم د استوګنځي يا د هغه ملحقاتوته د شپې لخوا دغير مجازاوغيرقانوني داخليدو په وړاندې د دفاع په وخت.

## د شخص کور ته د عامه خدمتونو د مؤظف غير قانوني ننوتل

که چېرې دعامه خدمتونو مؤظف، له خپل وظيفوي واک څخه په استفادې سره د شخص کور ته د هغه له اجازې پرته او په غيرله هغو حالاتو اوترتيبه چې دقانون احکامو پر هغو تصريح کړی ننوزي، تردوو کلونو پورې په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر ی‍وسلو شلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.(۴۷)ماده

## د مسکن د حرمت هتک:

يوله لاندې اعمالو څخه د مسکن د حرمت دهتک جرم ګڼل کېږي، مرتکب په قصير حبس محکومېږي.

۱. مسکون يا سکونت ته تيار ځای ته يا د هغه يوه له ملحقاتو ته په غير قانوني توګه يا د هغه د خاوند له رضايت پرته د اخليدل.

---

[1]. عدلي وزارت، رسمي جريده، جزاکود، چاپ کال: ۱۳۹۲

۲. د دې مادې په ۱جزء کې له درج په یوه له محلاتو کې پټېدل.

۳. د دې مادې په ۱جزء کې له درج شوو ځایونو څخه په قانوني توګه یوه ته داخلیدل او د حق د خاوند له رضایت پرته هلته پاتي کېدل.( ٦١٩ ماده)[1]

**د مالک یا متصرف د حیازت د منع په منظور د مسکن د حرمت هتک**

که چېرې د دې قانون په ٦١٩ ماده کې درج د مسکن دحرمت دهتک جرم، مالک یا متصرف یا ساکن دحیازت د منع په منظور له زورڅخه په استفادي صورت مونډلی وي،مرتکب تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي. ٦٢٠ ماده [2]

## د مسکن د حرمت د هتک نورحالتونه

(۱)که چېرې د دې قانون په ٦١٩ ماده کې درج شوی جرم د مال ساتلو ته په مختص ځای او په عقار کې غیر له هغه څه نه چې پدې فصل کې ذکر شوي ارتکاب شي، مرتکب د شپږو میاشتو په قصیر حبس یاددیرشو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

(۲)که چېرې د دې مادې په (۱)فقره کې درج شوی جرم، ددوو نفرو په واسطه چې یوه یې ظاهري یا په پټه وسله حمل کړې وي یا له دوو څخه د زیاتو په واسطه ارتکاب شي، مرتکبین تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.( ٦٢١ )ماده[3]

## مسکن د حرمت د هتک مشدده حالت

د مسکن دحرمت د هتک د جرم ارتکاب په یوه له لاندې حالاتو کې مشدده پېژندل کېږي مرتکب د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

۱. د لمر د پریوتلو او ختلو ترمنځ.

۲. د قفل په ماتولو یا له دیوال څخه پورته کیدل.

۳. د وسله وال شخص یا د دوو نفرو یا له هغو څخه د زیاتو په واسطه.

---

[1]. عدلي وزارت،رسمي جریده ، جزا کود،پرلپسې ګڼه : ۱۲۲۰،چاپ کال: ۱۳۹۲

[2]. عدلي وزارت،رسمي جریده،جزاکود (۲۲۰) ماده

[3]. جزا کود، (۲۲۱) ماده

۴. د عامه خدمتونو د مؤظف یا دهغه شخص په واسطه چې ځان په کاذب صفت متصف کړي.

۵. د بل یو جرم د ارتکاب په منظور.

٦. له ارعاب او تهدید سره یوځای . (۲۲۲) ماده

که سړی د جزا قانون او جزا کود احکامو ته پاملرنه وکړي، د افغانستان ملي قوانینو د کور او استوګنځي دمصؤنیت په اړه ځانګړې پاملرنه کړې او د تیري کوونکو لپاره یې په مختلفو حالتونو کې په مختلفو مجازاتو صراحت کړی .

## درېیم مطلب: په عدلي اجراتو کې د مسکن دمصؤنیت د اخلال تاثیر:

ډېروخت امنیتي مسؤلین د کشفي اجراتوپه وخت دهیواد دنافذه قوانینواحکام نقضوي، د کورونواو استوګنځایونو د مصؤنیت اصل ته هیڅ پاملرنه نکوي، داستوګنځي د مصؤنیت اصل د اتبآعو د اساسي حقوقو څخه یو مهم حق دی، د دې حق د نقض تاثیر په عدلي اجراتو کې ډیر زیات دی، د افغانستان د جزایي اجراتو قانون ۲۸۹ماده یوسلسله اجرات دبنسټیزو یا اساسي اجراتو په نوم نوموي، بیا په اخرکې د دې اجراتو د نقض د تاثیرپه اړه وایي، چې کله دغه ډول حقوق نقض او پایمال شي، دامنیتي مسؤلین اجرات د بطلان سره مخامخ کیږي.

## لومړی جز: په بنسټیزو اجراتوکې د قانون په پام کې د نه نیولوعواقب

(۱) د بنسټیزو اجرآتو له مواردو څخه په یوۀ کې د قانون د حکمونو په پام کې نه نیول، د هغۀ د بطلان موجب کېږي.

(۲) په بنسټیزو اجرآتو کې د محکمې د تشکیل، د هغې د موضوعي یاحوزوي واك نیولو، تلاشۍ، تحقیق، د اهل خبره په واسطه د کتنو او د مدافع وکیل د ټاکلو حق په هکله د قانون د حکمونو په پام کې لرل (رعایتول)، شامل دي.

(۳) ددې مادې په (۲) فقره کې له درج شوو مواردو څخه په یوۀ کې د قانون د حکمونو په پام کې نه لرلو په صورت کې، محکمه مکلفه ده خپل حکم د اجرآتو په بطلان او د فیصلې په نقض باندې صادرکړي، که څه هم چې په موضوع کې غوښتنه هم شوې نه وي، پدې صورت کې اجرات باطل او د قانون د حکمونو مطابق بیا اجرآت صورت مومي. (۲۸۹) ماده

## دویم جز: د بطلان په اړه د تورن د دفاع د حق سقوط

**الف** : که چېرې د دې قانون د دوه سوه نهه اتیا یمې مادې په (۲) فقره له درج شوو احوالو پرته، اجرآتو مختص د دلایلو په راټولولو یا د تورن یا یې د مدافع وکیل په حضور کې د جنحې او جنایت د جرمونو تحقیق صورت موندلی وي او هغه په هماغه موقع پرهغو اعتراض نه وي کړی، د نوموړو اجرآتو د بطلان په اړه د هغه د دفاع حق ساقطېږي. (۲۹۰) ماده

پدې برخه کې هم د افغانستان نافذه قوانین چپ ندي پاتې، بلکې د مرتکبینو او سرغړونکو مقاماتولپاره یې دعدلي تعقیب لارې ښودلي:دجزایي اجراتو قانون پدې برخه کې دارنګه صراحت کوي:

## ب: د پولیسو اود ملي امنیت دمؤظف سرغړونې

که چېرې څارنوال د تحقیق په بهیر کې تشخیص کړي چې پولیس او دملي امنیت مؤظف په قضیې پورې په اړوندو اجرآتو کې د قانوني سرغړونو مرتکب ګرځېدلی دی، موضوع له احوالو سره سم، د قانوني تصمیم د نیولو لپاره داړوندې اداري واکمن مقام ته محولوي. (۹۱) ماده

## ج: د اوسیدنې د ودانۍ د استوګن یا مالک شکایت

د کوریا د اوسېدنې د ودانۍ استوګن یا مالك کولای شي د پولیسو، د ملي امنیت دمؤظف اوڅارنوال داجرآتو پرخلاف شکایت وکړي.

پدې صورت کې له احوالو سره سم، شکایت مستقیماً څارنوال یامافوق څارنوال یا محکمې ته سپارل کېږي او څارنوال یا واکمنه محکمه مکلف دي، په لنډ وخت کې موضوع وڅېړي. (۱۲۷) ماده

## درېيم فصل

## د مسکوني محلونو تخريب دعامه ګټو په خاطر

د اسلامي شريعت او ملي قوانينوپه رڼا کې دعامه ګټو په خاطراو د عام ضرر د دفع په موخه د يو چاداستوګنځي تخريب جواز لري، په اسلامي شريعت او وضعي قوانينو کې په اکثره مواردو کې عامه مصالحو ته ترجيح ورکړل شوې ده، د افغانستان داساسي قانون د(۴۰)مادې په اساس ملکيت له تيري څخه خوندي اومصؤن دی، خو دعامه ګټو لپاره دهمدې مادې په وروستی برخه کې داستملاک دجوازحکم شوی، پدې معنی چې که چيرته دولت دعامه ګټو او عام المنفعه موسساتو دتاسيس په خاطر د يو خصوصي فرد ملکيت ته ضرورت پيدا کړي، نو دولت به د دې شخص د ملکيت عادلانه عوض ورکوي، بيا به يې د ده له ملکيت څخه خارج او دعامه ګټو په خاطربه ترې استفاده کوي، داستملاک داصولو مطآبق ددولت يا اړونده مراجعو لخوا د عادلانه عوض اوبدل په مقابل کې دعامه ګټو په منظورد ملکيت د خاوند څخه د هغه د ملکيت تصرف په جبري توګه اخلي، بيا پکې خپلې پروژې، لکه مسجد، مدرسه، سرک، کلينک او يا نور ټولګټي تاسيسات جوړوي، اسلامي شريعت هم د اشد ضرورت دفع په اخف باندې جوازبللې.

### لومړی مبحث: د استملاک حيثيت په اسلامي فقه کې

په اسلامي شريعت کې هميشه عامه مصالحوته ترجيح ورکړل شوی، داستوګنځي مصؤنيت او خونديتوب په اسلامي شريعت کې يو اصل دی، د ملکيت خونديتوب هم داسلامي شريعت داصولو په رڼا کې له تعارض څخه خوندي دی، ځکه اسلامي شريعت دمسلمان، مال، وينه او ناموس له تيري څخه خوندي بللي، کله چې څوک د چا په مال، وينه اوعزت تيری وکړي، نوپدې صورت کې يې دغله لپاره دسرقت حدی ټاکلی، دقتل لپاره يې قصاص، ديت او د زنا لپاره يې هم دُرې او رجم مجازات ټاکلي، داسلام دين په خپلو اصولو کې په کُل کې دنرمۍ، اسانۍ اوعدالت دين دی، د اسلام په مبارک دين کې تل د مصالحو او مفاسدو ترمنځ د ټکر پر وخت د مفاسدو لرې کولو ته ترجح ورکړې، داسلامي شريعت د مقاصدوڅخه يوهم دسختۍ اوتکليف لرې کول، د ضرردفع او دعدالت استحکام دی.

د استوګنځي اوملکیت خوندیتوب یوشرعي او قانوني اصل دی، خوپه فقه کې د ضرورت حالتونه بیان شوي، کله کله محظور او منع شوي اعمال دضرورت پر وخت مباح او جایز کیږي، داجتماعي او ټولنیزو مصالحو دخوندیتوب په موخه دضرر پروخت د یوچا د استوګنځي یوه برخه او یا ټول استونځی تخریبول دعادلانه عوض او بدل په مقابل کې جایزعمل دی،همدا ډول دعمومي سرکونو،دبريښنا دمزود غزولو او اُورګاډي داوسپنیزسرک جوړولو لپاره د کورونو او استوګنځایونو ورانول د ضرورت حالت دی، په حقیقت کې دمفاسدو لرې کول دي، د کور یا استوګنځي د تخریب او ورانولو موضوع د یوشخص د فردي منافعو اوګټو مسئله ده، خود عامه لارو او سرکونو په مخ خنډ جوړول د لویې مفسدۍ خبره ده.

په فقه کې عامه قاعده ده، چې دمفاسدو لرې کول د منافعو له جلب څخه غوره دي، اسلامي شریعت تل انسان ته د دې ښوونه کوي، چې فرد دټولنې مصالحوته تل ترجیح ورکړي، ترڅو د جامعې لپاره د خیر مصدر شي، کله چې فرد صالح وي، ټولنه صالحه کیږي، د ټولنې او دخلکو مصالح په نظرکې لرل داسلامي شریعت داساسي غوښتنو او التزاماتو څخه دي.

## لومړی مطلب: د عام ضرر دفع په خاص باندې

واضح شوه چې اسلامي شریعت کې ټولنیز او اجتماعي مصالح تر هرڅه غوره او ارزښت لري،همیشه یې دعامه مصلحت لپاره دعام ضرر ددفع لپاره دخاص ضرر منلو لاره غوره کړې، عام ضررهغه دې، چې ټولو خلکوته رسیږي او ټول خلک پرې کړیږي، خو خاص ضرر هغه دی، چې یوکس یا یوې وړې ډلګۍ یا کورنۍ ته رسیږي، اسلامي فقهې په خپلو اصولو کې تل دعام ضرر په وړاندې خاص ضرر د تحمل لارښوونه کړې، په لاندې فقهي قاعده کې یې بیلګه وینو:

قوي ضرر په سپک ضرر له منځه وړل: «الضَّرَرُ الْأَشَدُّ يُزَالُ بِالضَّرَرِ الْأَخَفِّ»: ددې قاعدې مفهوم داسې دی، چې ضرر په ضرر نه دفع کیږي، بلکې ضررونه به مقایسه او ارزیابي کیږي، کوچنی ضرر به د لویې ضرر ددفع لپاره تحمل کیږي. [1]

دمثال په ډول د سرخرود دوسرکې څخه دلته بند په لورعام سرک دتیریدلو په سروې اونقشه کې ډیرکورونه او دوکانونه راغلل، داچې سرک عام المنفعه موضوع ده اود خلکود کورونواو دوکانونو د تخریب موضوع وړه اوکوچنۍ موضوع ده، ضرر یې هم سپک ګڼل کیږي، د دې عام

---

[1]. زیدان، عبدالکریم، الوجیز فی شرح القواعد الفقهیه، پاڼې ګڼه :۹۴

المنفعه پروژې څنډولو ضرر ډېرغټ او اشد دی، نوددې پروژې د تطبیق لپاره کوچنی ضررخلکو قبول کړ، ترڅو دافغانستان د ختیځ څخه دمرکز په طرف د تجارت او ترانزیت لویه لاره په سهولت کې شي، همدا قسم ددې لویې لارې په جوړیدو سره د میلونونو مسافرو لپاره سهولت او اسانتیاوې برابرې شي.

همداقسم یو بل مثال: که چیرته د اوبو بند کې اوبه ډیرې زیاتې شي او دښار دغرقیدو ویره او امکان زیات شي،داوبو د بند خلاصول د دې لپاره چې د ښارخلک نجات پیدا کړي، سره د دې چې د بند په خلاصولو سره به دیرې ځمکې داوبو لاندې شي، خو دښار دغرقیدو ضرر ډیر لوې دی، نسبت دځمکو او زراعتونو څخه.[1]

**دویم مطلب: ددوه مفسدو تعارض او دلویې مفسدې دفع په وړې مفسدې باندې**

(إِذَا تَعَارَضَ مَفْسَدَتَانِ رُوعِي أَعْظَمُهُمَا ضَرَرًا بِارْتِكَابِ أَخَفِّهِمَا.)

دا قاعده د پورته قاعدې سره ورته مفهوم لري،ددوه مفسدو په منځ کې به هغه مفسده له منځه وړل کیږي، کومه مفسده چې ډېر ضررلري دهغې دفع به په کوچنۍ مفسدې سره کوي، مثالونه یې ډیردي، یومثال یې داسې دی، چې یوه میرمن ده، که چیرته په ولاړه لمونځ کوي، عورت یې ښکاره کېږي، ددې عورت ښکاریدل د دې لمونځ فاسدوي، خو که چیرته دغه ښځه په ناسته باندې لمونځ وکړي، عورت یې نه ښکاره کیږي، پدې دواړو مفسده و کې په ناسته باندې لمونځ کول غوره دي، له دې نه چې دښځې عورت ښکاره شي، ځکه دعورت دښکاره کیدو په صورت کې لمونځ کول حرام دي.

**دریم مطلب: ضرورت منع شوي شیان مباح کوي**

**الضَّرُورَاتُ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ.** :دایوه اصولي قاعده ده، د یوشرعي نص څخه اخستل شوې ده، د دې شرعي نص نه اخستل شوې: **(اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَیه)**

ژباړه: (په داسې حال کښې چې د کومو شیانو استعمال چې الله له اضطراري حالاتو نه پرته په نوروټولوحالتونوکښې پرتاسې حرام کړیدي) اضطرار شدید حاجت او ضرورت ته وایي، محظور

[1]. زیدان، مخکنۍ ماخذ، پاڼې ګڼه: ۹۵

هغه څه ته وايي، چې د کولو نه يې د ډډې کولو امر شوی وي، اصلاً په شريعت کې منع وي،خو د ضرورت په وخت مباح شوی وي.[1]

د استملاک موضوع د ضرورت مسئله ده، کله چې ضرورت واقع شي او د ضرورت د رفع لپاره غير قانوني عمل ترسره شي، پداسې حالتونو کې دغه عمل دضرورت حالت ګڼل کيږي.

که چيرې يو خطر د يو شخص ځان مال او عزت ته متوجه وي او دفع کول يې پرته د داسې عمل د اجراء کولو څخه چې هغه په عادي حالتونو کې جرم ګڼل کيږي، ممکن نه وي، نو که چيرې د دې عمل په نتيجه کې يو چاته ضرر ورسيږي، دې حالت ته دضرورت حالت ويل کيږي،او نوموړی عمل جرم نه بلکې يو جايز اومشروع عمل ګڼل کيږي، د مثال په توګه که چيرې په يوځای کې ديو چاکور اور اخيستی وي اواطفايه غواړي چې د اور د دفع کولو لپاره ځان د واقعې ځای ته ورسوي، خو دواقعې ځای ته د اطفايې دوسايلو دورتګ بل هيڅ امکان نه وي، پرته لدې څخه چې دکور يو ديوال يا يوه کوټه يا يوڅه زراعتي ځمکه تخريب شي، نودا د ضرورت حالت دی اوکوم ضرر چې د اطفائي لخوا خلکو ته رسيږي، که په عادي حالتونو کې يعنې بې دخطر د موجوديت څخه دچا لخوا واقع شي جرم ګڼل کيږي، مګرد ضرورت په حالت کې داعمل جرم نه بلکې يو مشروع عمل دی، په همدې توګه که په يو کور کې اورلګيدلې وي او يو شخص په ډېره بيړه پرته له اجازې څخه د يوچا کورته ننوزي اوغواړي دهغې لارې څخه ډېر ژرد حادثې ځای ته ځان ورسوي، ترڅو د اور په وژلو کې مرسته وکړي، نوپه عادي حالتونو کې ديو چاکور ته پرته له اجازې ننوتل جرم دی، خو د ضرورت په حالت کې داعمل هم جرم نه ګڼل کيږي، بلکې دا تبرا کوونکی حالت دی، نن ورځ با العموم جزايي قوانينو او قضايي رويو دا منلې ده، چې د ضرورت په حالت کې جرم نه واقع کيږي اوپه نتيجه کې دعمل مرتکب مجرم نه ګڼل کيږي، يعنې د ضرورت حالت هم يو تبرئه کوونکي حالت يا دمجرميت درفع کيدوحالت دی.[2]

---

[1]. اتاسي، محمدخالد، شرح مجلة الاحکام، ټوک ګڼه: اول، پاڼې ګڼه: ۵۵

[2]. دانش، حفيظ الله، عمومي حقوق جزا، ټوک: اول، پاڼې ګڼه: ۱۳۲، چاپ کال، ۱۳۸۸،لوومړی چاپ، مستقبل خبرندويه ټولنه

### څلورم مطلب: د لوی زيان او ضرر په مقابل د کوچني يا خاص زيان منل

( **يُتَحَمّلُ الضّرَرُ الْخَاصُ لِدَفْعِ ضَرَرٍ عَامٍّ** ): دا قاعده د دې قاعدې سره مقيده ده، (الضرر لايزال بمثله ) ضرر په ضرر نه دفع کيږي، مگرهغه وخت دا کار کيږي، چې يو يې عام وي اوبل يې خاص وي، پدې وخت کې بيا خاص ضرر تحمل کيږي دعام ضرردفع لپاره.[1]

په اسلامي شريعت او اسلامي فقه کې دا قاعده ډېره مهمه ده، ځکه پدې قاعده کې داسلامي شريعت مقاصد رانغښتي، مجتهدينو دمعقولو اصولو او اجماع په نتيجه کې دا قاعده وضع کړې، ترڅو دالله جل جلاله دبنده ګانو مصالح خوندي اومصؤن شي.

امام غزالي رحمه الله[2] وايي: اصل کې اسلامي شريعت د دې لپاره راغلی، چې په خلکوخپل دين ، ځان، عقل اومالونه يې وساتي، پس هرهغه څه چې د دې خلاف واقع شي، هغه ضرردی، لرې کول يې واجب دي، څومره چې ممکن وي.[3]

### دويم مبحث: استملاک د افغانستان په ملي قوانينو کې

دافغانستان داساسي قانون د( ۴۰) مادې دحکم په اساس ملکيت له تيري اوتعارض څخه خوندي دی، هيڅوک دملکيت د ترلاسه کولو او په هغې کې له تصرف کولو څخه نه منع کيږي، مگرد قانون د احکامو په حدودوکې، د هيچاملکيت د قانون د حکم او د باصلاحيته محکمې له پريکړې پرته نه مصادره کيږي، د شخص د ملکيت استملاک يوازې دعامه ګټو د تامين په مقصد ، د مخکيني او عادلانه بدل په ورکولو، دقانون له مخې مجاز دی.[4]

### لومړی مطلب: د استملاک تعريف او د استملاک اهداف

استملاک په اصل کې دبل په ملکيت کې مالکانه تصرف او داصل مالک دتصرفاتو مخنيوی دی، يا دعامه ګټو په موخه د يو چا څخه د هغه ملکيت د عادلانه عوض په مقابل کې په جبري توګه اخستلو ته وايي.

---

[1]. رستم، سليم باز، مجلة الاحکام ، ټوک :اول، المکتبة الحقانيه، ماده : ۲۲

[2]. حجة الاسلام زين الدين، ابوحامد امام محمد غزالی طوسي، په ۴۵۰ هـ ق کې دايران په توقان يا طابران کې دطغرل سلجوقی دپاچاهی په اواخروکې زيږيدلی، دفقه، فلسفې، تصوف، کلام او اخلاقو لوې عالم و، ددوشنبې په ورځ دجمادي الثانی په ۱۴ نيټه په ۵۰۵ هـ ق کې دطوس په ښآر کې دسهار لمانځه تر اداء کولو وروسته وفات شوی .

[3]. اتاسي، مخکنی ماخذ ، پاڼې ګڼه: ۲۲

[4]. رسمي جريده ،اساسي قانون، ۴۰ ماده

**د حقوقي اصطلاحاتو قاموس استملاک پدې ډول راپيژني**: د دولت يا اړوندومراجعو له خوا دعادلانه تعويض په بدل کې دعامه ګټو په منظورله خاوند څخه دهغه دملکيت تصرف په جبري توګه ايستلوته وايي.[1]

د افغانستان د ۱۴۲۱هـ ق کال دځمکوداستملاک قانون چې په (۲۳) مادو اودرې فصلونو کې ترتيب او تصويب شوی، ددې قانون يوه ځانګړنه داده، چې پدې قانون کې د دولت او جمهوريت په عوض دامارت کلمه استمال شوې، يا د قانون استملاک په اړه دارنګه صراحت لري: د يوی ټوټې ځمکې يا د هغې د يوې برخې استملاک چې ورته عامه اړتيا يا حاجت وي دوزيرانو شورا په تصويب دمخکيني عادلانه تعويض (دورځې نرخ) په بدل کې صورت مومي. (۲) ماده[2]

## دويم مطلب: د استملاک موخې

دلاندې مقصدونولپاره د يوې ټوټې ځمکې کلي يا قسمی استملاک د وزيرانو شورای له واک څخه دی.

۱. د توليدي موسسو، لويو لارو، د نفت او ګازو د لولې (پايپ لين )د خط د جوړولو، د مخابراتو د لين،د برق د ليږدونی د لين غځولو،دبدرفت د شبکې (کاناليزاسيون) داوبو رسولودشبکو دتمديدولو، مسجدونواود ينی مدرسواو نورو عام المنفعه تاسيساتو جوړول

۲. دکانونو اوترځمکې لاندې زيرمو راويستل (استخراجول).

۳. دفرهنګي يا علمي اهميت لرونکې ځمکې ، صالح الزراعه ځمکې، پراخ باغونه اوعمده تاکستانونه چې مهم اقتصادي اهميت لري اوهغه ځمکې چې د ځنګلونو او بندونو ترساحې لاندې وي،په استثنايي مواردوکې دوزيرانوشوری د تصميم پراساس ترشرعي جواز وروسته استملاک کيدلی شي. (۳) ماده[3]

پدې ماده دشرعي جواز خبره شوې، کله چې دوزيرانو شوری د ځينو ساحو استملاک د استملاک د مقاصدو نه په استثنايي ډول لازم وبولي، نوپدې هکله دشرعي جواز موضوع د

---

[1]. حقوقي اصطلاحاتو قاموس،پانې ګڼه: ۱۴

[2]. عدلي وزارت، رسمي جريده،دځمکې داستملاک قانون،پرلپسې ګڼه :۷۹۴ :۲ ماده

[3]. داستملاک قانون،مخکنی ماخذ، ۳ماده .

ستري محکمې لخوا څیړل کیږي، څکه په افغانستان کې ددې ډول مسائلو ذيصلاح مرجع ستره محکمه ده .

دیوې ټوټې ځمکې د یوې برخې استملاک له استملاک وروسته باید دمالک لپاره له پاتې ځمکې څخه ګټه اخیستنه ناممکنه نه کړي اوهم له پاتې شوې ځمکې نه ګټې اخیستلولپاره نا مساعد شرایط او یاهم له دې ځمکې څخه د ګټې اخیستلوپه کارکې ستونزې راپیدانه کړي که چیرې داسې شرایط رامنځته کړي باید هغه ټوټه ځمکه ټوله استملاک شي.(۴) ماده [1]

د دې مادې په تحلیل کې باید ووایو، کله کله دولت دیو خاص ضرورت لپاره دیو چا یوه ټوټه ځمکه استملاک کوي، پاتې ځمکه د استملاک شوې ځمکې په اساس داستفادې او ګټې نه وځي، کله کله داسې کیږي،دیو مکتب یا کلینک لپاره دولت دیو چا څخه یوه اندازه ځمکه استملاک کړي، پاتې ځمکه بیا دهمدې استملاک شوې ځمکه دمراجعینو اود همدې ځمکې نه د ګټې اخیستنې په نتیجه کې شاړیږي، که چیرته دځمکې مالک د پاتې ځمکې د زیان په اړه شکایت وکړي اودپاتې ځمکې نه دګټې اخستلو په برخه کې د ستونزو مسئله مطرح کړي، دولت مکلف دي پاتې ځمکه هم استملاک کړي .

## دریم مطلب: د استملاک په نتیجه کې د رامنځته کیدونکي زیان تاکل

د ځمکې داستملاک څخه د راپیدا شوی زیان دټاکنې لپاره په لاندې ترکیب یوهیئت دښاروالۍ له خوا جوړیږي :

۱ـ دځمکې مالک یاګټه اخیستونکی یاد هغوی استازی .

۲ـ د هغې موسسې یا ادارې واکمن استازی چې استملاک دهغې داړتیا مطابق صورت مومي .

۳ـ دښاروالۍ استازی .

۴ـ دمالیې وزارت استازی.

۵ ـ دعدلیې وزارت دامارت دقضایاوو استازی. [2](۵) ماده

---

[1]. عدلي وزارت، مخکنی ماخذ ، ۴ ماده

[2]. عدلي وزارت، مخکنی ماخذ ، ۵ ماده

څلورم مطلب: تعویضات ( عوضونه )

## لومړی جز: د ځمکې داستملاک په اړه لاندې تعویضات صورت مومي

۱. د ځمکې بیه

۲. داستوګنې د کورونو، ودانیو او نورو هغوساختمانونو بیه چې پرځمکه باندې واقع دی.

۳. دمیوه لرونکو ونو، زینتي ونو او پرځمکو باندې د نورو مغروساتو بیه.[۱] (۸) ماده

**دویم جز: د استملاک شوې ځمکې دنرخ او بیې ټاکنه**

تراستملاک لاندی ځمکې بیه د وزیرانوشورا له خوا ټاکل کیږي. د بیې په ټاکلو کې د ځمکې درجه اوموقعیت په نظر کې نیول کېږي. ( ۱۰ ) ماده

دځمکې د مالک یاګټه اخیستونکي مربوط د استوګنې د کورونو، تعمیراتو اونورو ودانیو بیه دښاروالۍ دهیئت په واسطه د بیې ایښودنې(قیمت ګذاري) د واحد جدول مطابق ټاکل کېږي. (۱۱) ماده

**پنځم مطلب: د استملاک وروسته داستوګنځي تخریب**

داوسیدنې د کورونو یانورو ودانیوساختماني مواد وروسته دبیې له ورکړې څخه په وړیا ډول په مالک پورې اړه نیسي.

په دې حالت کې دودانۍ د(ویجاړولو-تخریب)عمل د مالک په واسطه اجرا کیږي، ددې مادې حکم داوسیدنې پر هغه کورونو او ودانیو باندې چې د استملاک د قانون له نافذیدو وروسته یې ځمکې استملاک شوی، مګر(ویجاړې یاتخریب) شوې نه وې هم تطبیق کیږي.[۲] ( ۱۲) ماده

**شپږم مطلب: داستوګنځي د استملاک وروسته عوض او بدل**

د هغوکسانو لپاره چې دکورونو ځمکې یې استملاک کېږي، په هماغه قیمت یوه نمره ځمکه ورکول کېږي او یا د مالک د غوښتنې له امله د هغه د اوسیدنې د کورد بیې دورکړې په بدل کې داوسیدنې له امارتي کورونو څخه یو، د ټاکلومعیارونو مطابق د هغه په واک کې ورکول کیدای شي[۳] .(۱۳)

---

[۱]. عدلي وزارت، مخکنی ماخذ، ۸ ماده

[۲]. دځمکې داستملاک قانون، (۱۲)ماده

[۳]. عدلي وزارت، مخکنی ماخذ، ۱۳ ماده

مالک ته استملاک شوې ځمکې د بيې د ورکړې په بدل کې د هغه په موافقه د هغه د ځمکې معادل نوره ځمکه ورکول کيداشي که چيرې نوې ځمکه مالک ته ورکول کېږي د درجې له لحاظه د اصلي ځمکې څخه لوړه وي مالک د ځمکې د درجې د تفاوت بيه امارت ته ورکوي او دهغه په عکس سره اداره دبيې تفاوت مالک ته ورکوي.[1] (۱۴)ماده

## اووم مطلب: د ميوه لرونکو اونورو زينتي ونو بيه

(۱) دميوه لرونکو(مثمرو)، زينتي ونو او نورو هغو مغروساتو بيه چې تر استملاک لاندې ځمکو باندې واقع دی اودځمکې د مالک يا ګټه اخيستونکي مربوط وي،د ښاروالۍ اود زراعت د ادارې په تصميم ټاکل کېږي.

(۲) د ځمکې مالک يا ګټه اخيستونکی حق لري د استملاک شوې ځمکې ميوه لرونکي او زينتي وني او نور مغروسات، په هغه صورت کې چې د شنې ساحې په طرح (پلان) کې شامل نه کلاً يا قسماً ترلاسه کړي، پدې شرط چې د هغې بيه يې مخکې نه وي اخيستې .(۱۵) ماده

## اتم مطلب : د دولتي ځمکې تصرف د دولتي بلې ادارې لخوا

کله کله داسې هم کيږي، چې د يوې دولتي ادارې اړوند ملکيت بله دولتي اداره د خپل ضرورت په اساس تر تصرف لاندې راولي، پدې صورت کې د تصرف شوې ځمکې د قيمت موضوع نه مطرح کيږي، مخکنۍ متصرفه اداره د تصرف شوې ځمکې د ساختماني موادو مالکه بلل کيږي، پدې برخه کې داستملاک قانون دا ډول حکم کوي : که چيرې د امارت د ملکيت ځمکې چې د ادارو اماراتو او مختلطو موسسو ترتصرف لاندې واقع وي د امارت اوعامه خدمتونو د اړتيا لپاره د ښاروالۍ يانورو ادارو لخواتصرف شي په دې صورت کې يوازې ودانيز (ساختماني ) مواد په مخکنيو متصرفاتو پورې اړه نيسي.د ځمکې بيه او ودانۍ (ساختمان) بيه هغوی ته نه ورکول کېږي [2]. (۱۲) ماده

دعامه اړتيا يا حاجت لپاره دامارتي ځمکوتصرف ( پدې جمله کې ښاري آزادي ځمکې ) د اخيستل شوې ځمکې د بيې له ورکړې څخه پرته صورت مومي.

---

[1]. عدلي وزارت، مخکنی ماخذ، ۱۴ ماده

[2]. دځمکې داستملاک قانون، ۱۲ماده

ښاروالي یاولسوالي د نومړو ځمکو داخیستلو په بدل کې له اداري یا موسسې څخه یوازې لاندې لګښتونه تحصیلوي:

۱. د طرح(پلان) اوترساختمان لاندې ځمکې چمتو کولولګښتونه .

۲. د اساسي لارو د کانکریټ اسفلټ او نیالګي ایښودنې لګښتونه اود ویالو دجوړولو لګښتونه.

۳. تر ودانیو لاندې ودانۍ ساحې دښیرازه کولو اود اساسي اوفرعي تفریح ځایونو لګښتونه

۴. د او بوبرابرولو،د بدرفت د شبکې (کانالیزاسیون) اود برق د لین دښلولو (اتصال) لګښتونه .

۵. د ښاري ابادۍ په اړه نورلګښتونه.[1] (۱۷) ماده

## نهم مطلب: د استملاک شوې ځمکې د ونو او بوټو د حاصل د خسارې جبران

۱. که چیرې د ځمکې مالک یا ګټه اخیستونکی د استملاک د تطبیق تر وخت پورې د ځمکې د محصولاتو او سر درختۍ په راټولولو بریالی نشي هغه موسسه او اداري چې ځمکه یې هغو ته ورکول شوې ده، مکلفې دي چې د مالک یا ګټه اخیستونکې خساره جبران کړي.

۲. د خسارې اندازه دهغه هیت په واسطه کېږي چې د ښاروالۍ، د زراعت د اداري او ولسوالۍ له خوا جوړېږي، کرنې دتخم اود سرې (کود) د ارزښت او د اوبو لګولو او نورو خدمتونو لګښتونو په نظر کې نیولوسره چې د مالک په واسطه تر سره شوی دی تثبیتیږي .

۳. د خسارې اندازه په هیڅ صورت د ماحاصل د بیې له مجموع څخه چې مالک یې له ځمکې څخه لاسته راوړي زیاتیدلی نشي.[2] (۱۹) ماده

### لسم مطلب: د استملاک کیدونکې ځمکې مالک ته لا دمخه خبرتیا

هغه ځمکې چې تر استملاک لاندې راځي ، د استملاک او دهغې د بیې په اړه درې میاشتې د مخه مالک یا ګټه اخیستونکی یا دهغوی قانوني استازي ته خبر ورکول کیږي، تراستملاک لاندې جایداد د بیې ایښودنې (قیمت ګزاري) د هیئت په غونډه کې، سره له مخکې خبرتیا ،

---

[1]. عدلي وزارت، مخکنی ماخذ ، ماده: ۱۷

[2]. دځمکې داستملاک قانون ، ماده : ۱۹

دمالک یا ګټه اخیستونکي یادهغوی د استازي نه ګډون، دهیئت د کاراو دطرح (پلان) د تطبیق مانع نه ګرځي.[1] (۲۰) ماده

**یولسم مطلب : د تحقیق اوڅیړنو لپاره د ځمکې استملاک:**

دهغوځمکو بدلول (تعویض) چې د موسسو او ادارو په واک کې ورکول کیږي اویا په هغه ځمکوکې هغوی ته د تحقیقاتي اوتفحصاتي کارونو د اجراکولو حق ورکول کیږي د اړونده موسسو او ادارو په واسطه صورت مومي.

**دولسم مطلب: د استملاک په اړه وروستني حکمونه**

۱. استملاک کونکې اداره مکلفه ده چې د استملاک په وخت کې داستملاک شوي ملکیت شرعي او قانوني سندونه له مالک نه واخلي .

۲. مالک مکلف دی چې د استملاک شوي ملکیت ټول اړوند شرعي اوقانوني سندونه استملاک ادارې ته وسپاري.

۳. که چیرې په شرعي اوقانوني سند کې د درج شوي ملکیت یوه برخه تراستملاک لاندې راشي داستملاک شوي ملکیت اندازه له اصلي قبالې څخه وضع او د ملکیت سند له مالک سره پاتي کیږي .

۴. د مالک ادعا د ملکیت دعوض له اخیستلو او قبض وروسته داوریدو وړنده .(۲۲) ماده

**دریم مبحث: د استملاک ګټې اوزیانونه**

**لومړی مطلب: داستملاک ګټې**

د استملاک په مقصدونو او موخوکې ذکرشول،چې استملاک دعامه ضرورتونه اوعامه مصالحو لپاره صورت نیسي .

۱. استملاک د ترقۍ اوپرمختګ لارده .

۲. په بعضې وختوکې استملاک د حرج اوتکلیف د له منځه وړلو غوره وسیله ده

۳. استملاک د دولت او رعیت ترمنځ د اجتماعي مسائلو په اړه ګډه همکاري ده :

۴. استملاک د دولت دانکشافي پلانونو د تطبیق لاره پرانیزي .

---

[1]. دځمکې داستملاک قانون ،ماده: ۲۰

**دويم مطلب: د استملاک زيانونه**

که په صورت عموم د استملاک موضوع ته پاملرنه وشي، په ځنو وختو کې د استملاک داصولو تطبيق دوګړو په وړاندې يو ډول تيرى او تعدى ده، چې دولت يې د خپلو امکاناتو او قوت نه په استفاده په خپل ولس اورعيت باندې ترسره کوي، ډير وخت د ځمکې او استوګنځي مالک د خپل ملکيت داستملاک سره قوي اوجدي مخالف وي، خو دولت يې په اجباري ډول پرې تطبيق کوي، کله کله خلک داستملاک په نتيجه کې بې کوره او دربدره شي، بيا ډير کلونه همداسې بې کوره لالهانده ګرځي، خو دولت يې غم نه خوري، د دې لپاره چې د استملاک په زيانونو ښه رڼا واچول شي يو څو مثالونه يې ذکر کوم:

**د ننګرهار ولايت د درونټې د بند پروژه**

ددې پروژې د ايجاد پر وخت شاهي حکومت دعزيز خان کڅ اوچهارباغ د سيموخلکو ځمکې سروې کړې، دهغه چا ځمکې چې دلس جريبو نه کمې وې، هغوى ته يې نقدې پيسې ورکولې، د چا چې ترلس جريبوځمکه زياته وه، هغوى ته عوض او بدل کې ځمکه ورکړه، پدې خلکو کې ډيرداسې خلک و،چې هغوى د ځمکو پيسې واخستې، په نورو ځايونو کې يې نورې ځمکې واخيستې، خو ډير داسې خلک وچې دهغوى پدغو پيسو خپل عاجل ضرورتونه پوره کړل، چا پرې زوې ته واده وکړ اوچا پرې بل کار، داسې خلک د تل لپاره اوس بې کوره اوبې ځمکې پاتې شوي، د دې سيمې ډيرو خلکو ته تراوسه پورې عوض اوبدل ندى ورکړل شوى، همدارنګه که دننګرهار پوهنتون خواکې دسرخاب ترخوړ پورې ځمکو په اړه پوښتنه وشي، دولت د دې ځمکوداستملاک دعوه کوي، خو ډيرداسې خلک شته، چې هغوى تراوسه پورې دخپلوحقوقو نه بې برخې پاتې ،چا ورته د ځمکې عوض اوبدل ندى ورکړى.

استملاک يو لړنورې ستونزې هم لري، چې په لاندې ډول ترې په لنډه توګه يادوونه کوو:

١. طبيعي خبره ده، چې داستملاک شوې ځمکې قيمت د دولتي مامورينو لخوا سنجش او بيا داوږده اداري پروسيجرنه وروسته ورکول کيږي، پدې اوږده پروسيجرکې عام ولس ته سخت کړاو او تکليف وي.

۲. پـه دولتـي ادارو کـې د شـته اداري فسـاد لـه املـه کلـه کلـه د ځمکـې مـالـک خپـل حق او داستملاک شوې ځمکې قیمت دډیر لوې رشوت په مقابل کې ترلاسـه کـوي، چـې دا ډیـره سختـه خواشینونکې خبره ده.

۳. په افغانستان کې دسیاسي نظامونو او حکومتونو عمر ډیر لنډ وي، ډېر وخت یـو نظـام دیـوې سیمې داستملاک تصمیم نیـولی، خـو د نظـام بـدلون سره د یـادې سیمې داستملاک موضوع لاینحله پاتې شوې، خو کله معطل شویده .

**ځلورم مبحث: په افغانستان کـې د جنگـي ډلـو (دولـت او مخـالفینو) لـه خـوا د استوګنځي د مصؤنیت او حرمت د نقض مستندې پیښې او بېلګې**

**لومړی مطلب: د غوایي کودتا او افغان ولس د شخصي حریم د مصؤنیت نقض**

په افغانستان کې د ظاهر شاه د سلطنت د سقوط اوسردارداود خان د واکمنۍ وروسته د افغان ولس دردونه، کړاونه اوناخوالې شروع شوي ترنن پورې دوام لري، پدې اوږده ځلوېښت کلنه دوره کې ډیر مظلوم او بیچاره افغانان په توره شپه دخپل فامیل اوخپلې بسترې څخه ویستل شوې اوترنن ورځې یې بیا کورنیو ندی لیدلی، د ډېرو تور سرو عزتونه په خپل استوګنځي کې د دولتي امنیتي قواو،مخالفو ګروپونواوملیشولخوا لوټ اوتالان شوي .

په افغانستان کې دظاهرشاه د بادشاهۍ رنګیدو سره دایران، امریکا پاکستان او روسیې لپاره دسیالۍ ښه میدان برابرشو، هر یو دافغانانو د مال، ناموس د لوټلو او اقتصاد دخرابولو لپاره تر وسې پورې هڅې شروع کړې، روسان په اول کې د داود ملاتړي ښکاریده ،خو د لږ وخت وروسته روسان وارخطا شول، په خپلو بړیڅو اود کی جي بي په نماینده ګانو یې کار وکړ، د۱۳۵۷ کال د ثور په اومه دافغانستان دبدبختیتو پیلامه شروع شوه، دروسي اینجنټانو د داود خان کور بمبار کړ، داود خان شهید اوجمهوریت یې له منځه لاړ، د خلق د یموکراتیک دولت د ملاتړ لپاره روسانو خپلې بې شماره الوتکې اوټانګونه راولیږل، افغانستان د اور، باروتو اومرد کیو تر باران لاندې داسې خونړۍ دوره تېره کړه، چې افغان ولس به یې هیڅکله هم هیره نکړي، د روسي ښکیلاک د ړنګا ورځې تیري اوتجاوزد هرافغان په کورد ویرتغروغوړاوه، افغانان ځوک پاکستان، ځوک ایران اوځوک نوروهیوادو ته مهاجراوکډوال شول، کورونه یې د الوتکواوبمبار په نتیجه کې ړنګ اوکنډواله شول، د افغانانو دغه بده ورځ لاتراوسه دوام لري،

د نجيب د حکومت د سقوط نه مخکې د جهاد په دوران کې اسلامي مجاهدينود خپلو جهادي فعاليتونو په لړکې د افغان ولس په کړولو اوددوی د استوګنځي د حرمت په ماتولو کې دريغ ندی کړی، د کمونستانو اوروسانو لخوا دافغان مظلوم ولس د کورونو د حرمت اومصؤنيت د نقض پيښې بې شماره اوليکل يې موضوع ډېره پراخه کوي، دا چې د هغې تورې دورې ډېر وخت تيرشوی، پدې اړه مې ليکلي سندونه ترلاسه نکړل، تنها يوکتاب دسياسي لوبو په نوم کې مې يوه واقعه انتخاب کړه، ترڅو دمجاهدينو لخوا دکورونو د حرمت د نقض بيلګه مو وړاندې کړې وي، په سلګونو واقعې شته، په خپلو سترګو مو هم ليدلي، د مجاهدينو د بريالیتوب وروسته د کابل ښار، د حزب وحدت استاذعبدالعلي مزاري، داستاذ سياف اتحاد اسلامي ګوند، د حکمتيار اسلامي حزب، د نظارشورا، جنرال دوستم د قدرت په سياليو او کشمکش کې، په زرګونو داستوګنځي د حرمت اومصؤنيت د نقض واقعات واقع شوي، تنها دڅو واقعو څخه د «چونګه د خروار په توګه» يادونه کافي بولم:

**لومړی جز: لومړی بيلګه**

## ديو چارک ترياکو درې چارکه عشر!؟

د ننګرهارد خوګيانو د ولسوالۍ يوه اوسيدونکي ويل چه زما دخپل پټي يوچارک ترياک شوی و، يوه ورځ يوه ډله خلک راغله او راته يې وويل: راوړه د ترياکو عشر! هغوی ته مې له ډيرې ويرې ټول ترياک سره له کټوې راواخيستل اومخکې مې ورته کښنودل هغوی ټول ترياک واخيستل او لاړل.

په بله ورځ د همدغو خلکو دويمه ډله کورته بې ست اوسلا راننوتل اول يې ووهلم اوبيا يې راته وويل چه راوړه دترياکوعشر ؟ په ډېره عاجزۍ مې ورته وويل: چه صاحبانو ستاسو عشرڅومره کيږي؟ ويې ويل: يو چارک، ډېر ژرله کوره ووتلم دوی ته مې هم يوچارک ترياک په پيسو واخيست او ورمې کړه، هغوی لاړل هفته لاتيره نه وه، زه په پټي کې ګرځيدلم چې د همدغو خلکو دريمه ډله را ورسيدله د خپل پټي نه يې په وهلو وهلو ترکوره پورې راوستلم او په کورکې يې راته وويل: چه راوړه د ترياکو عشر! ما بيا په احترام پوښتنه وکړه، چې صاحبانو ستاسوعشرڅومره کيږي؟ هغوي هم وويل: چې يوچارک، داخل په کورکې چې څه سامان وه هغه مې راټول اوخرڅ کړ، همدومره پيسې شوې چه دوي ته يوچارک عشربرابرکړم، دوی هم چې

ووتل بیا مې خپلې کډې او اولادونو ته وویل :چې څلورم عشر را پسې را روان دی پښې باسئ، همدا وچې ټول ووتلو او پیښورته راغلو، دلته چې راورسیدوهیڅ هم را سره نه و پاتې، اما درارسیدو سره سم ، ددی په عوض چې څه راکړل شي رانه وغوښتل شوه، سم له واره رانه شپږسوه روپۍ پیشکي طلب شوې او راته وویل شول:چې که دغه پیسې ورنکړی خیمه اوراشن کارډ نه درکول کیږي.

پس له ډیرو ګرځیدلو مې ایله په دوو میاشتو کې دغه شپږ سوه روپۍ پوره اوبرابرې کړې، دا پیسې مې چی کمانډرصاحب ته ورکړې، دغه کمانډرصاحب د خیره سره وتښتیده اود څو نورو مهاجرو پیسې یی هم له ځانه سره یوړې داپیسې رانه د دې ځای د خیمې اوراشن کارد په عشرکې لاړې بیا مې دنورودوستانو نه په عجزاوزاریو نورې پیسې پورکړې ترڅو چه یوه خیمه،څه دال اوڅوکیلو غنم راکړی شی،چې ښه مې چورت وواهه ددې ځای اود هغه ځای د عشرونو ترمنځ صرف یو لوی فرق موجود وه اوهغه دوهلواوټکولو هو:څوک چی تریاک کري دغسې حاصل به هم ریبي.[1]

**دویم جز: دویمه بیلګه**

دننګرهار ولایت دبټي کوټ ولسوالۍ د ګرټۍ په سیمه کې د کانال د څلورم فارم څو تنه کارګران دهمسایه ګانو په توګه اوسیدل، د دوی له جملې څخه یو تن یې مجاهدینو سره ددیني اوعقیدوي تړاو په لحاظ ، یوه شپه د یوګروپ مجاهدینو یوتن ته یوه اندازه پیسې د زکات په حساب کې ورکړې، مجاهدین پدې شپه لاړل، څو شپې وروسته همدا ګروپ اوهمدغه مجاهد صاحب د دې کور خاوند ته دروازه ټک ټک کړه، د کور خاوند ورته راووته، ورڅخه یې وپوښتل خدمت ووایه ؟ مجاهد صاحب ورته وویل: موږ ته اطلاع ده، چې ستاسې په کورکې وسله ده، د کور خاوند ورته بلنه ورکړه، چې کور یې تالاشي کړي، مجاهد صاحب د کور ټولې کوټې تالاشي کړې، بلاخره دیوالونه اوځمکه یې هم وډبوله ترڅو د زکات د پیسو داصلي نصاب پیسې پیداکړي، هڅه یې نا کامه شوه، بلاخره د کور خاوند څخه یې پوښتنه کړې، چې پیسې مو چیرته ایښې، د کور خاوند ورته ویلي، پیسې نلرو .[2]

دا و د جهاد داوئلو د ۱۳۶۲کلونو داستوګنځي دحرمت اومصؤنیت دنقض دوه بیلګې .

---

[1]. الفت،عزیز الرحمن، سیاسي لوبې، اسلامي انتقام دولسمه خپرونه، پاڼې ګڼه : ۱۹۴، ۱۹۳

[2]. ازاده میداني څیړنه ، دیو نژدې قریب کیسه .

**دويم مطلب: د نجيب د حکومت د سقوط او مجاهدينو د بريالیتوب وروسته**

د ډاکتر نجیب الله دګوډاګي رژیم د سقوط پر وخت افغان مجاهدینو د جلال اباد ښاراو په هیواد کې د نورو سیمو ترکلا بندی وروسته په ښارونو باندې بې شماره راکټونه میزائل شارټ کول، ترڅو د ګوډاګي رژیم پښې کاواکه کړي، پدې عمل سره د ډیرو بیوزله افغانانو دکور دیوالونه، بامونه اوڅپرې نسکورې شوې، د ډیروکمکي ماشومان دمزائل په پارچو ژوبل اوژوند یې دلاسه ورکړ، د کلابندي او د مزائلو خسارې او زیانونه بې شماره دي، په نورو یې بحث نکوم تنها داستوګنځي د حرمت اود مصؤنیت موضوع مې هدف ده، پدې عملیاتو کې کاملاً دولسونو داستوګنځایونود حرمت اومصؤنیت حق نقض او پایمال شوی، مجاهدینو دغه اصل (داستوګنځي مصؤنیت) ترپښولاندې کړ، د جلال اباد او کابل اونورو ولایاتو دفتحې اوازادی وروسته، ډیرو خلکو څخه کورونه په زور او اکراه ونیول شول، ډیر خلک له خپلو کورونو څخه په نیمه شپه کې وویستل شول دا ټول د استوګنځي د حرمت اونقض اعمال و.

هوکله چې مجاهدین جلال اباد اوکابل او ځینو نورو ښارونو ته دننه شول داستوګنځایونو دحرمت اومصؤنیت د نقض موارد دحده زیات او ډیر خطرناک شول، خبره تردې حده ورسیده، چې خلکو خپلې دروزاې خلاصې نشوې پرېښودې، د مکرویانو د شهید ناهید واقعه په افغانستان کې دوسله والو ګروپونو لخوا داستوګنځي په مصؤنیت اوحرمت دتیری اوتجاوزدشرمه ډکه کیسه ده.

په کابل کې دګلم جم ملیشو د نجیب د نظام د سقوط نه مخکې او وروسته داسې کرغیړنې پیښې ترسره کړې، چې د قلم نوکه اود کاغذ مخ ترې حیا کوي.

دعبدالعلي مزاري دحزب وحدت ډلې هم دپښتون قوم په بې عزتۍ او دهغوی په شخصي حریم او داستوګنځایونو په حرمت داسې لوبې وکړې، چې دچنګیز او هلاکو دوحشت یادونه یې په افغانستان کې تازه کړل.

د مجاهدینو ټولو سیاسي ډلو اوګروپونو په افغان بیچاره ولس زړه ندی سوزولی، هر یوه په شکل د اشکالو ددې ولس په زخمونو مالګې شیندلې، دهمدې ناخوالو اوظلمونو په نتیجه کې، بلاخره د مجاهدینو حکومت د طالبانو په واسطه سقوط وکړ، مجاهدین د شر او فساد په نوم له هېواد څخه فراري شول، اسلامي امارت رامنځته شو، دامارت مجاهدینو په انتقامي شکل د

ډېرو هزاره اوشيعه اقليتونو په شخصي حريم اوځينو ځايونو کې ددوی داستوګنځي په حريم تيری او تجاوز وکړ، دطالبانو اسلامي امارت هم سقوط وکړ، د کرزي موقت حکومت اوبيا جمهوري منتخب دولت رامنځته شو، پدې اوږده دوره کې د افغان درديدلي، کړيدلي اوربړيدلي ولس په کور او استوګنځي دامريکايي ب ۵۲ الوتکو دبمبار نه نيولې ترداعش، طالب او سپيشل فورس قواو پورې هر يو ددوی دغه شرعي اوقانوني اصل تر پښولاندې کړی، د دې خواراو غريب ولس کوراو جونګړه يې ورته نړولې اوسوزولې ده، دروازه يې ورته په مرميو ويشتلې، په ديوال يې اوړيدلې، د خواږه خوب نه يې راويښ کړي، بيا يې د چانه سرغوځ کړی اود چا نه سترګې ويستلي، پدې برخه کې د يوناما يا ملل متحد لخوا يوڅه راپورونه په مستند ډول برابرشوي غواړم دغه راپورونه د کلونو په ترتيب په لاندې ډول ذکر کړم :

**دريم مطلب: د اسلامي امارت د سقوط نه داشرف غني تر دورې پورې دافغان ولس په استوګنځي د تېري څو بيلګې**

دافغانستان داسلامي امارت د سقوط نه وروسته د دويم ځل لپاره بيا مجاهدين د مختلفولاروډ افغانستان په مختلفو ساحوحاکم شول، دا ځل بياهم د تيرپه څير يو سلسله اعمال ترسره شول، چې د خلکو د کورونو او استوګنځايونو د حرمت او نقض ډېر موارد پکې ليدلی شو، پدې برخه کې موږ دموقت حکومت او ترهغې وروسته تر ۲۰۱۱م کال پورې څه مستندې پيښې ترلاسه نکړې، خود ننګرهار ديوناما دفتر د ځينو مسؤلينو په همکاری مې يو سلسله کتبي راپورونه ترلاسه کړي، چې پدې راپور کې د ۲۰۱۱م کال دشپږو مياشتو ، د ۲۰۱۲ م کال، ۲۰۱۵م کال ، ۲۰۱۲ ، ۲۰۱۷ م کال (په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه) ترنامه لاندې کلني راپورونه تر لاسه کړي، چې هر يو به يې ددې مطلب د يو جز په توګه وړاندې شي .

**لومړی جز: په ۲۰۱۱م کال کې دجنګي ډلو( دولت اومخالفينو) د تيري څوبيلګې**

د خوندي ځايونو په نښه کول اوغولونکي بريدونه

الف: دپوځي روغتونونو په شمول، روغتونونه دبشر پالنې دنړيوال قانون لاندې خوندي ځايونه دي اوبايد تربريد لاندې ونه نيول شي د ۲۰۱۱م دمۍ په ۲۱ نيټې طالبانو په کابل کې د سردارمحمد داود خان په روغتون باندې د يوځانمرګي بريد د مسؤليت ادعا وکړه، چې په نتيجه کې يې ٦طبي محصلين ووژل شول اونور۲۳کسان ټپيان شول هغه ټول سرتيري چې په

روغتـون کې تردرملنې لاندې وه،د جګړې د ډګر څخـه د بانـدې شـمېرل کېږي او بایـد تربریـد لاندې ونـه نیـول شـي ذبیـح الله مجاهـد وویـل:چې ددوی هـدف خـارجي روزونکـي او هغـه افغـان داکټران و چې دهغوی سره یې کار کاوه .[1]

ب : د جـون دمیاشـتې پـه ۲۵ نیټـې دلـوګر ولایـت دازرې پـه ولسـوالۍ کـې یـو ځـانمرګی بریدکوونکي هغه موټرچې په چاودیدونکو توکو باروه دازرې مرکزي روغتـون تـه وردننـه کړ، د دې چاودنې په نتیجه کې ملکي کسانوته د ښځواو ماشومانو په شمول زیات تلفات واوښتل کـه څه هم افغان چارواکو او نورو سرچینو ددې پیښې د تلفاتو په اړه ضداونقیض راپورونـه ورانـدې کړي دي، پـه دې پیښـه کـې حداقل ۳۲ ملکـي وګـړي مـړه او۲۵نورټپیـان شـوي دي،ددې پیښـې زیاتره قربانیان طبي کـار کوونکي دي،دطبي پاملرنې غوښتونکي کسـان یاهغـه کسـان چـې د خپلو کورنیو د غړو لیدنې ته ورغلي وو، طبي روزنکي ډاکټران اود طب محصلین ملکی کسان شمیرل کیږي اود بشر پالنې نړیوال قانون لاندې باید تربریدلاندې ونه نیول شي .[2]

ج : د ۲۰۱۱ د جون په ۱۲ نیټه داسلامي امارت د یوې اعلامیې په اساس :

۱. دمـۍ پـه ٦ نیټـه دهـرات ولایـت دربـاط سـنګي د ولسـوالۍ پـه یـوه سـاحه کـې یومشهورمذهبي شخص سیدحاجی ګل جان اغا) چې په زرګونو مریدان اوپیروان لري د خپـل مسجد څخه اخیستل شوی او وروسته شهید شوی دی

۲. دمۍ په ۱۴ نیټه د شپې پر مهال دننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ د لاجګړ په کلي کې یو لس کلن ماشوم (بلال داول ګل زوی) چې ویده وه په ډزو ووژل شو .

۳. د مۍ په ۱۸نیټه د ارزوګان ولایت د لنګر دسیمې د سیدان په کلي کې د شپې د چاپې پـه پایله کې اشغالګرو ٥ تنه ملکیان ووژل او۱۴ تنه نور یې له ځان سره یوړل او توقیف دي.

۴. د می د میاشتې په ۱۸ شپه اشغالګرو د تخار ولایت د تالقان څخه درې کیلو متـره لـرې، داهن درې په سیمه کې ۵ تنه وګړي د ښځو په شمول ووژل.

ساحوي څیړنو د څلورو وژنو چې دوه نارینـه او دوه ښـځې وې او د شـپې د مهـال دچـاپې پـه نتیجـه کـې ووژل شـول تایـد کـړي دي اود مظـاهرو پرمهـال ۱۴تنـه وژل شـوي او۷۹تنـه نورټپیـان شویدي.

---

[1]. یوناما، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړوساتنه، ۲۰۱۱م کال راپور، پاڼې ګڼه :۱۵

[2]. یوناما، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه : ۱۵

۵. د مې په ۲۹نیټه د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ د اسلام اباد بازار په سیمه کې دوه کورونه دبمونو تربرید لاندې راغلل چې ۱۴ماشومانو او نجونو دمړینې او نورو د ټپي کیدو لامل شول.[1]

۶. د هلمند ولایت دمارجې ولسوالۍ یواوسیدونکی یوناما ته داسې وویل:

طالبان هر کورته چې وغواړي په زوره ورځي وروسته بیا له هغه کور څخه ډزې کوي او بیا ایساف اوملي اردو پرهغه کور ډزې کوي خوکه زه طالبانو ته ووایم چې زما کورته دې نه راځي نو طالبان به ما ووژني، نوځواب به څه وي؟ یا به آیساف ما وژني اویاهم طالبان؟ خلک په دې ډول ژوند نشي کولای.[2]

۷. د جون په ۲۸ د کابل په ښار کې یو درنه حمله وشوه، چې نهه ځانمرگي بریدونه د کابل په انتر کانټینینټال هوټل وشول، ۹تنه ملکي کسان یې ووژل او ۱۹ نور یې ژوبل کړل طالبانو ددې برید مسؤلیت اخیستی دی.[3]

۸. د مې په۲۱مه په کابل کې په یوه روغتون باندې ځانمرگي برید ٦تنه ملکي کسان ووژل او ۲۳ تنه یې ژوبل کړل طالبانو د دغه مسؤلیت ادعا کړیده دغه لومړی مستند برید دی چې طالبانو په روغتون باندې تر سره کړ.[4]

**دویم جز: په ۲۰۱۲ میلادي کال کې د افغان ولس پراستوگنځي د ذیدخلو خواوو د تېري او تجاوز څومستندې پیښې:**

الف: زه په خپله بستره کې پروت وم اود شپې په ۱۱:۴۵دقیقو مې اواز واورید، چورلکه مې ولیده چې چورلیده د لوډ سپیکرپه ذریعه مې واوریدل چې خلک باید له کورونوڅخه ونه وځي، که چیرته ووځي وبه ویشتل شي، زما درې وریرونه اوزما یو اوښی د میلمنو په خونه کې پراته وو، دوی څلور واړه له ویرې ووتل اوڅلورسره د نړیوالوځواکونوله خوا ووژل شو، زمایو وراره د اووم ټولگي زده کوونکی و، له هغه وروسته نړیوالو ځواکونو د کورونو په تالاشۍ پیل وکړ، دوی زمونږد کوردرې دروازې ماتې کړې او یو موټر سایکل ته یې اور واچاوه، دوی ټول

---

[1]. یوناما، مخکنی ماخذ، پاڼې گڼه: ۳۵، ۳۲، ۳۷

[2]. یوناما،مخکنی ماخذ، پاڼې گڼه: ۷

[3] - یوناما،مخکنی ماخذ، پاڼې گڼه: ۲۰

[4]- یوناما،پاڼې گڼه: ۲۰

کورتلاشي کړاو يو ټوپک يې پيدا کړ هغه يې مات کړ، له هغه وروسته نړيوالو نظامي ځواکونو زما ورور ونيوه او ساحه يې پرېښووده .[1]

ب : افغان محلي پوليس او د ملکي کسانو ساتنه: يوملکي شخص چې د محلي پوليسو له خوا د ۲۰۱۲م کال د اګست په ۸ مه د کندزولايت په دشت ارچي ولسوالۍ کې ژوبل شوی و داسې وايي:

افغان محلي پوليس زماکور ته نږدې په دشت ارچي ولسوالۍ کې پوسته لري يوه شپه د محلي پوليسو يوې ډلې زما د کور د روازه وټکوله اوماته يې وويل : چې په هغه شورشيانو پسې ګرځې چې په دې وروستيو کې يې په دې ساحه کې له محلي پوليسو سره جګړه کړېده ما غوښتل چې دروازه خلاصه کړم چې محلي پوليسو په دروازه فير وکړ، ګولۍ زماسترګه ژوبله کړه دوی زه ونيولم اوپه داسې حال کې يې خپلې پوستې ته راوستم چې له سترګې مې ويني بهيدلې ما محلي پوليسوته د خپلې وظيفې د معارف د رياست کارت ور وښود، چې په ښوونځي کې د چپړاسي په حيث کارکوم دوی نه ديته څه توجه وکړه او نه يې زه پرېښودم، چې ډاکټرته ولاړشم، محلي پوليسو دا ويل چې زه شورشي يم زما ورور دوی ته وويل چې د ده پر ځای ما ونيسئ څو زه د درملنې لپاره لاړشم محلي پوليسو زه پرېښودم او زما ورور يې هم وروسته خوشې کړ، زما سترګه په پاکستان کې عمليات شوه خو ديد مې له لاسه ورکړ.[2]

**ج: د افغانستان په شمال اوشمال ختيځ کې وسله والې ډلې: د دوو زامنو پلار چې يوې وسله والې ډلې د بريد په پايله کې د کندز ولايت د کنم کلان په سيمه کې د ۲۰۱۲دسپټمبرپه دويمه نېټه ووژل شول، نوموړی داسې وايي :**

زمونږ د کور دروازه وټکيده زما زوی دروازې ته ورغی چې غږ واوري، وسله والو کسانو د دروازې په قفل ډز وکړ،دروازه يې پرانيستله، کله چې هغوی د دروازې څخه راننوتل زما پر زوی يې چې د دروازې ترشاپټ وو، ډزې وکړې زما بل ځوی په ځغاسته د خپل ورور د ژغورنې په موخه د دروازې په لور ورغی، چې هغه هم ووژل شو، زما زامن د وينوپه ډنډ کې پراته وو، زما دواړه زامن زما او زما د مېرمنې تر مخ ووژل شول، تاسو تصور کولای شئ چې دا د والدينو

---

[1]- يوناما، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه، د ۲۰۱۲م کال راپور، پاڼې ګڼه ۴۲ .

[2]. يوناما، مخکنی ماخذ، ۲۰۱۲م کال راپور ، پاڼې ګڼه : ۵۲.

لپاره ځومره درد ناکه ده کله چې ځوان زامن يې دهغوی په مخ کې پرته له کوم جرم ځخه وژل کيږي دا ډېره عذاب ورکوونکي او دردناکه ده کله چې والدين نه شي کولای خپل زامن له مرګ ځخه وژغوري زما مېرمن د ډارخوبونهويني اوډارونکي تصورات ورسره مله دي هيڅ انسان به دغه شان بل انسان لکه هغوی چې زما زامن ووژل ونه وژني.[1]

**درېيم جز: د۲۰۱۵ کال کلنی راپور (په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه)**

الف: يوه ښځه چې دا ګست په (۷)نيټه د کابل ښارد شاه شهيد په سيمه کې د ځانمرګي موټربم په چاودنه کې ټپي شوی وه، وايي : وروسته له هغې چې ماشوم مې موړاو ويده کړ، له اوبوځخه مې يوغړپ وکړ اوکټ ته راستنه شوم، په دې وخت کې يوه ستره چاودنه وشوه اوزمونږ د کوټې چت ونړېدو ما وليدل چې چت پرما راولويدو، زه بې هوښه شوم، کله چې مې سترګې پرانيستې ومې ليدل چې زمالاس، پښواو ملا نه وينې رواني وې هڅه مې وکړه چې پورته شم خو ونه توانېدم. شل دقيقې وروسته مې د خاوند پرلپسې چيغې واوريدې چې نور چېرته دي؟ زما پلار،هغه او زما زوی په چاودنه کې ډېرسخت ټپيان شوي وو. لبوره مې دواړه سترګې له لاسه ورکړې وې، مونږ ډېره غريبه کورنۍ يو اوهرڅه موله لاسه ورکړل.[2]

ب: ښځې او وسله والې شخړې: د ۲۰۱۵کال د سپټمبر په ۳۰ د ننګرهارولايت د اچين ولسوالۍ د ملازم تالاو په سيمه کې د سړک دغاړې د ځای پرځای شوي بم چاودنه :

غرمه ناوخته وه، چې د دولتي ځواکونواو داعش جنګياليو ترمنځ جګړه پيل شوه اوزما مورپلار پريکړه وکړه چې مونږ بايد کور پريږدو، کله چې مارکو کلي ته ورسيدو زمونږ په موټرد سړک غاړې ځای پرځای شوی بم والوت، زه بې هوښه شوم زه په رښتيا نه پوهيږم، چې داهرڅه څرنګه رامنځته شول، زه په روغتون کې بيرته په هوښ شوم اوومې مونده، چې زما د کورنۍ نورغړي هم ټپي شوي وو.[3]

---

[1]. يوناما، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه، ۲۰۱۲ م کال راپور، پاڼې ګڼه : ۲۲
[2]. يوناما ، ۲۰۱۵ راپور، پاڼې ګڼه : ۱
[3]. يوناما، ۲۰۱۵ کال راپور، پاڼې ګڼه: ۱۵

د ۲۰۱۵کال د اکتوبرپه ۳۰ د ننګرهارولایت داچین ولسوالۍ په روسکي کلي کې د افغـان ملـي او امنیتـي ځواکونـواوداعش جنګیـالیوترمنځ دوسـله والـې جګـړې پرمهال د یوه غورځول شوي هاوان له امله دیوه ۱۲کلن ماشوم ژوبله :

ج: ماشومان او وسله واله شخړه:د جمعي ورځ د ماسپښین وخت و د لمانځه لپاره جومات ته لاړم او له نورو ماشومانو سره یوځای د صف په پای کې کېناستم، ناڅاپي یو هاوان په جومات ولګید او مونږ ته نږدې وچاودید ما پرخپلې شاه د سوځیدو احساس وکړ، چېرې چې د هاوان یوه پرچه لګیدلې وه اوبې هوښه شوم ، کله چې په هوښ شوم ، زه له خپلو دریو نوروملګرو سره د جلال اباد په روغتون کي وم. دغو خلکو ته ووایاست چې پر ماشومانو بریدونه مه کوئ،زه غواړم درس ووایم نه چې ومرم. .[1]

د: د ډزوپه تبادله کې راګیرملکي وګړي: د ۲۰۱۵کال د مۍ په ۱۱مه د جوزجان د اقچې په ولسوالۍ کې د افغان امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د ډزو تبادلې پرمهال د دوو ټپي شویو قربانیانو خپلوان وایي :

د سهارنږدې لس بجې وې او ما دخپلې دوه کلنې لورسره لوبې کولې چې هاوان زمونږپه کور راپریوت او وچاودید ما ذهني ټکان ولید ، د بمي ګولۍ یوه ټوټه زما دلور د بدن په شاتنۍ برخه ولګیده او زمانښځه په جدي ډول ټپي شوه، د بمي ګولۍ دوه ټوټې د نوموړې په ښي پښه کله چې په پخلنځي کې د خوړو په پخولو لګیاوه ولګېدې، څه موده وروسته دهاوان یوه بله ګولۍ زمونږپه ګاونډ کې په کوم ځای کې ولګیده ډاکټریوه ورځ وروسته زمالورله روغتون څخه رخصت کړه خو زمانښځې نه شوای کولای خپلې پښې ته حرکت ورکړي اوباید عملیات شي..[2]

### هـ: هوایي عملیات

د ۲۰۱۵کال د سپټمبر پر۱۴مه نیټه دباد غیس ولایت په ایکمري ولسوالۍ کې د ملي اردو دهوایي برید یوشاهد او د پیښې دقربانیانو خپلوان وایي :

مونږ د پستې ځنګل ته څېرمه په خپله خیمه کې دغرمې ډوډۍ خوړله ، چې د چورلکې غږ مې واورید نوله خیمې دباندې را ووتم، چې ویې ګورم چورلکې ناڅاپي دراکټونو په ویشتلو

[1]. یونامه ، ۲۰۱۵ م کال راپور، دپاڼې ګڼه : ۱۸

[2]. یوناما ، ۲۰۱۵ م کال راپور، پاڼې ګڼه : ۲۸

پیل وکړ، چورلکې ډېرراکټونه ګذارکړل، چې یویې زما د کورنۍ پرخیمې ولګید ما د خیمې په لوري ورمنډې کړلې، ګورم چې : راکټ زما میرمن وژلې اوزما دوه ورونه او یوه خور یې ژوبل کړي، څه موده وروسته دافغان ملي اردو چارواکو او د والي مرستیال زما له کورنۍ سره په روغتون کې کتنه وکړه ، دوی ماته وویل: چې افغان ملي اردوتاسې ته داوښتې مرګ ژوبلې له امله بخښنه غواړي ما پدې هیله چې د تاوان جبران به ترلاسه کړم د کاراو ټولنیزو چارو ریاست سره مې ځان ثبت کړ..[1]

و: دولت پلوه وسله والې ډلې: د جنوري په ۱۸مه نیټه د فاریاب ولایت په ګرزیوان ولسوالۍ کې د دولت پلوه وسله ډلو ترمنځ د ځمکنی نښتې قرباني :

غرمه مهال و زه له خپل لمسي سره په خپل انګړکې وم چې د دوو دولت پلوه وسله والو ډلو یو پربل ډزې پیل کړې مرمۍ په هر لوري وریدې، یوه یې زما د لمسي پرشا او بله یې زما پرپښې ولګیدې، کله چې مې ولیدل پرلمسي مې وینې رامانې دي ماخپل کنترول له لاسه ورکړ اوپه ژړامې پیل وکړ، زمونږګاونډیان راغلل او مونږ یې روغتون ته یوړو خو ویې نه شوکولای چې زما لمسی وژغوري..[2]

ز: افغان سیمه ایزپولیس: د افغان سیمه ایزو پولیسویوه ۱۵کسیزه ډله زمونږکلي ته د طالبانو په لټه پسې راغلل مونږهڅه وکړه هغوی ته ووایو چې دلته طالبان نشته، خوهغوی په ځواب کې زه او زما نیکه د وسلو په کنداغونو ووهلو او پرکورونو یې ډزې وکړې چې له امله یې زما یو(۷)کلن ماشوم ژوبل شو.[3]

**څلورم جز: ۲۰۱۶م کال کلنی راپور**

په ۲۰۱۲ کال کې ممکن په افغانستان کې په سلګونو او زرګونو داستوګنځې د حرمت د نقض واقعات رامنځته شوي وي، موږ دلته فقطه څو واقعې د چونګه د خروار په توګه ذکر کوو.

**الف:** په مزارشریف ښارکې د جرمني په قونسلګرۍ د طالبانو ځانمرګي برید څلورملکي وګړي ووژل او(۱۳۱) نوریې ټپیان کړل

---

۱. یوناما، مخکنی ماخذ، پانې ګڼه: ۶۵
۲. یوناما، مخکنی ماخذ، پانې ګڼه: ۷۰
۳. یوناما، مخکنی ماخذ،پانې ګڼه: ۷۳

د نومبرپه (۱۰)د شپې له خوا طالبانو د بلخ په مزارشریف ښارکې یو موټر بم د جرمني قونسلګرۍ ته ځېرمه وچولو، دچاودنې زور دومره زیات و، چې څلور ملکي افغانان یې ووژل او (۱۳۱) نوري يې ټپیان کړل، چې دوی ټول د چاودنې موقعیت ته نږدې وو، که څه هم چاودنه د شپې په ۱۱ بجو ترسره شوه چې زیاتره ځایي خلک په خپلو کورونو کې ویده وو، نوموړې چاودنې همدارنګه د ملکي کسانوشتمنیوته چې د چاودنې موقعیت ته دیوکیلومترۍ په واټن پرتې وې زیان اړولی و، دغه راز د جرمني قونسلګرۍ ته یې په زیاته اندازه زیانونه اړولي و، همدارنګه چاودنې ترسلو زیات کورونه دکانونه دوه ښوونځي اوګڼ شمېر جوماتونه زیانمن کړي وو.

یوځایي کس چې جرمني قونسلګرۍ ته ځیرمه هستوګن و د چاودنې وروسته حالات داسې انځورکړل (زه له کوټې ووتم چې د خپلې مور احوال واخلم خو ماهیڅ څه لیدلای نشو، ځکه چې کور له دوړو او لوګي ډک وو، دروازې اوکړکۍ ټولې ماتې وې، څرنګه چې زه دخپلې مورپه لټه کې وم، د ګاونډیانو د ژړاغږ مې واورید، سورې نارې یې وهلې (زمونږپلار مړشو) هغه مهال هلته نږدې هیڅ څوک نه وچې له هغوی سره مرسته وکړي، د هغوی پلارډېرسخت ټپي شوی و او د همدغو ټپونوله امله ومړ.

طالبانو د یاد برید مسؤلیت په غاړه واخیست اوپه ډاګه یې کړه چې (دغه استشهادي برید د امریکایي یرغلګرو هغو پراخو بمباریو په ځواب کې ترسره شو، چې د کندز په شمالي سیمو کې دروانې میاشتې څو ورځې وړاندې ترسره شوی و او زیات شمېرملکي کسان یې وژلي وو« دهغوی اشاره هغو بریدونو ته و چې نړیوالو نظامي ځواکونو د نومبر په دویمه او درېیمه شپه د کندز ښار په بز قندهاري پرکلي د افغان امنیتي ځواکونو سره په ګډه ترسره کړي و او په پایله کې یې (د ۲۰ماشومانو په ګډون)۳۲ تنه ملکي کسان وژل شوي وو او د (۱۴ماشومانوپه ګډون )۳۶نور ټپیان شوي و، د طالبانو بیانیې دغه راز زیاته کړې، چې جرمنیانو هم دکندزپه وروستیو بمباریوکې ونډه درلوده چې له ۵۰ زیات بې ګناه اوبې دفاع ملکیان یې په نښه کړي وو»)[1]

## ب: په کابل ښارکې د افغانستان په امریکایي پوهنتون ډله ییز برید

د اګست په ۲۴مه د ماښام په ۷ بجو د دولت ضدعناصرو د افغانستان په امریکایي پوهنتون یوډله ییز برید ترسره کړ، چې په پایله کې یې ۱۳ملکي کسان ووژل او ۴۸نور ټپیان

[1]. یوناما، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړوساتنه، ۲۰۱۲م کالی راپور، پاڼې ګڼه: ۷۲

شول چې زياتره يې زده کړيالان و، ياد بريد د يوموټربم په چاودنې سره پيل شو ، چې د پوهنتون دېوال ته نږدې وچاودول شو، وروسته دوه بريد ګرپوهنتون ته ننوتل او په بې توپيره ډول يې په زده کړيالانو په ډزو او لاسي بمونو په غورځولو پيل وکړ، د بريد په شيبوکې له ۷۰۰زيات زده کړيالان اوکار کوونکي په پوهنتون کې حاضرو،يوه عيني شاهد يوناماته راپور ورکړ چې بريد ګر په هغو زده کړيالانو پسې وو اوپرهغوی يې ډزې کولې چې د دويم او دريم پوړ کړکيو له لارې اويا د پوهنتون له انګړڅخه دتېښتې په هڅه کې وو، دغه ډله ييز بريد دسباورځې د سهار ترڅلورو بجوپورې دوام وموند، هيڅ يوې ډلې د نوموړي بريدمسؤليت په غاړه وانخيست .

يوزده کړيال چې له نورو همصنفيانوسره يوځای په لوست خونه کې پټ ونوموړی بريد داسې انځوروي (مونږميزونه د خپلې لوست خونې د دروازې ترشا ايښي وو، شاوخوا لس دقيقې وروسته ما دډزو اوازونه واوريدل اوبريدکونکو زمونږ لوست خونې ته يولاسي بم وغورځاوه دلاسي بم د چاودنې په نتيجه کې زه پر ورون ټپي شوم، خولا د ګرځيدلو توان مې درلود مونږ دپردو ټوټې سره وتړلې اوپه مرسته يې د کړکۍ له لارې ځمکې ته ښکته شوو، يوه نجلې ښکته ولويده اوپښه يې ماته شوه ماهڅه وکړه چې په تيښته کې له هغې سره مرسته وکړم چې ناڅاپه په پښو ولګيدم او زماله پښې زياته وينه بهيدله، په دی هڅه کې شوم څوخپل کميس په پښې راتاوکړم).

پرملکي مرګ ژوبلې سربيره لومړنی چاودنې د پوهنتون ترڅنګ پروت د ړندو ښوونځي ته په پراخه کچه زيانونه اړولي وو، چې له جملې يې د بريل د چاپ ماشين او د ښوونځي نوی جوړشوی کلينيک ويجاړيدل يادولی شو.[1]

## ج: په جنګ ځپلو سيمو کې دبشري حقونوساتنه

د سپټمبر په ۲٦ د تخارولايت د خواجه غارپه ولسوالۍ کې د افغان ملي پوليسوله خوا دهاوان د يوې توغول شوې ګولۍ په نتيجه کې يوه ۳۲ کلنه ښځينه قرباني وايي :

زه په خپل کلي کې وم، چې کله د طالبانو او افغان امنيتي ځواکونو ترمنځ جګړه پيل شوه، ماد ډاراحساس وکړ او له خپلو ماشومانو سره يوځای د جګړې له سيمې څخه لرې د خپلوانو کره دخونديتوب لپاره لاړو، موږپه يوه خونه کې ناست وو، چې دافغان ملي پوليسوله خوا د طالبانو په لوري يوتوغول شوی هاوان په کورولګيد، زما دوه لوڼې اود خپلوانو يو ماشوم ووژل

---

[1]. يوناما مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۷۳

شو، زه د خپلو دوو زامنو او يوې لورسره يوځای ټپي شوم، زموږ د خپلوانو لورهم د هاوان د چاودیدو له امله دکوردننه ټپي شوه.[1]

## د: افغان ملي امنيتي ځواکونوته منسوب شوي ملکي تلفات

دجوزجان ولايت په مرديان ولسوالۍ کې ۲۰۱٦ کال داګست ۲۷ مې نيټې په پيښه کې د طالبانو سره د يوې نښتې پرمهال دافغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا دهاوان د يوې توغول شوې ګولولې قرباني چې په نتيجه کې يې دوه تنه ملکيان او يو بل ټپي شو، دوي وايي:

زموږ په کلي کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ درنه جګړه ونښتله، طالبانو خلکو ته امر وکړ ترڅو خپل کورونه پريږدي، موږ بيا د ګاونډي په کورکې پټ شو په دې لته کې وو ترڅو سيمه د يوخوندي ځای په موخه پريږدو، کله چې کله د دولتي ځواکونو له خوا توغول شوی هاوان زما په کور ولګيد اوزما وراره اوګاونډی يې ووژل، زه هم سخت ټپي شوم، دولتي ځواکونو هڅه کوله چې په هغه وخت کې طالبان په نښه کړي خو طالبان په تيښته بريالي شول اوپه بدل کې يې موږ ملکيانوته زيان واوښت..[2]

د افغان ملي امنيتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ شخړه زموږ کلي ته راورسيده، موږ له ډاره خپل کور پريښود اوله خپلو ماشومانو سره يوځای دخپلوانو کورته چې د شخړې دميدان څخه لرې ولاړ وو، موږ د خپلوانو د کور په يوه خونه کې ناست وو اود راپورله مخې چې کله د افغان ملي امنيتي ځواکونوله خوا د طالبانو په لورد هاوان يوه توغول شوې مرمۍ په کورکې ولګيده، په دې پيښه کې زما دوه لوڼې ۹- کلنه او **۵** کلنه او زما د خپلوانو يوماشوم ووژل شول، زما د دوه درې کلنو غبرګوني زامنو، زما د اته کلنې لوراو يوې بلې نجلۍ اود ځان په ګډون نوراوه تنه ټپيان شوي وو.[3]

## هـ: ځانمرګي ډله ييز بريدونه

ديارلس کلن هلک چې د داعش لخوا په ادعا شوي ځانمرګي بريد کې سخت ټپي شوی و. نومړی بريد چې د نومبر په ۲۱ د کابل ښار په شيعه مذهبه مسلمانانو په يوه جومات کې

[1]. يوناما ، ۲۰۱۲ م کال راپور، پاڼې ګڼه: ۱۷
[2]. يوناما، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: **۵۲**
[3]. يوناما ، مخکنی ماخذ ،پاڼې ګڼه: **۵۴**

دزياتې ګڼې ګوڼې پر مهال ترسره شو، په بريد کې ۴۰ تنه ملکي کسان مړه او۴۷ نور يې ټپيان کړل.

زه او زما نيکه له عاشورا وروسته د اربعين په نمانځغونډه کې ګډون کړی و، زيات شمير عبادت کوونکي جومات کې راغونډ شوي وو، څو د مشرانو او امامانو خبرې واوري اوهمدارنګه دغرمې ډوډۍ وخوري، موږ دننه په جومات کې وو، ومولید چه یوبرید کوونکی جومات ته را ننوت، برید ګر یو درې څلورمتره راننوت او خپل ځان یې وچاوه، وروسته له دې ماته هيڅ ندي په ياد، کله مې چې سترګې وغړولې ځان مې د روغتون پر بستر وموند.[١]

## د افغان هوايي ځواکونود هوايي عملياتو په پايله کې د رامنځته شوو ملکي مرګ ژوبلو بيلګې

د اګست پر ۹مه دهلمند د ناوه بارکزي ولسوالۍ په عينک سيمه کې د افغان هوايي ځواکونو يوه هوايي بريد يوه ښځه اودرې ماشومان ووژل اويوه نجلۍ ټپي کړه، له الوتکې توغول شوي مهمات وروسته له هغې د قربانيانو پرکورولګيدل، چې طالبانو د تيښتې په وخت دهغوی کورته پناه وړې وه اوخوځتونه يې د افغان هوايي ځواکونوله خوا ترڅارلاندې وو.

د سپټمبرپر (۲۲مه) د بدخشان ولايت دجرم ولسوالۍ د سوچ بلا په سيمه کې د افغان هوايي ځواکونو35 - Mi چورلکې يو هوايي بريد چې هدف يې طالبانو وو ترسره، کړپه بريد کې يواته کلن هلک ووژل شو اود همدغې کورنۍ د يوې ښځې اوڅلورماشومانوپه ګډون شپږ نورغړي ټپيان شول.

د دې په يادولو سره د بشرپالنې نړيوال قانون له مخې ټولې ښکيلې خواوې په دې مکلفې دي چې ټول ممکنه تدابير ونيسي چې دعملياتو پرمهال د ملکيانو ژوند ته ضمني زيان اړولوڅخه ډډه وکړي.

دجنوری په ۱۷مه د ننګرهار ولايت په جلال اباد ښارکې په يوه بانفوذه دولت پلوه قومي مشرباندې يوه ځانمرګي بريد کې يو۱۷ کلن هلک ټپي شو، په بريد کی ۱۳ ملکي وګړي ووژل شواو۱۴ نورټپيان شول، نوموړی ټپي وايي:

زه اوتره مې د يو قومي مشر کشر زوی د راخوشې کيدو په مناسبت چې په دې وروستيو کې د دولت ضد عناصرو له بند څخه راخوشې شوی و، په مراسموکې د ګډون په موخه دهغه کور ته

[١]. يوناما، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه: ۶۹

ورغلو، دوو ساتونکو هغه خلک چې میلمستون ته ننوتل تالاشي کول، په داسې حال کې چې مېلمانه دانګړ په دننه کې ناست اوګرځېدل، ماځانمرګی بریدګر ولید چې په تلوار سره انګړته ننوت، ساتونکو هغه ته ناري وهلې او د هغه څخه یې پوښتنې کولې چې چرته ځي، هغه په قهرسره ځواب ورکړ چې څه وایي؟ قومي مشرفکر کاوه چې مزاحمت کوونکی ښایي کوم میلمه وي، خپلو ساتونکوته یې امروکړ چې هغه دننه راپرېږدي، کله چې هغه غونډې ته را لنډ شو هغه خپل ځانمرګي واسکټ ته یې چاودنه ورکړه او کور له دوړو څخه ډک شو، د څو دقیقو د تیرېدو سره ماځینې خلک ولید چې په خپلو وینوکې پراته و او وژل شوي خلک لا هم په څوکیوکې پراته ناست و، زه هم دنورو سره یوځای ټپي شوم. [1]

## و: د ملکي کسانواو ملکي اهدافوپه وړاندې بریدونه

دجون په ۵، دلوګرولایت په پل علم کې د لوګرپه ولایتي محکمه اوڅارنوالۍ دفترونو د طالبانو په ډزو کې ټپي قرباني برېدکونکو۷ تنه ملکي کسان ووژل اونور۲۳ تنه ټپیان کړل، طالبانوپه ټویټرد پېښې مسوولیت منلی. [2]

زه د لوګرولایت په محکمه اوڅارنوالۍ کې کارکوم د پېښې په سهار، د لوګر د والي مرستیال داستیناف د محکمې نوي مشر د هغه د کار په لومړۍ ورځ د یو لړمراسمو په ترځ کې معرفي کړ، زه د نوي څارنوال دفتر ته د تبریکۍ لپاره لاړم څو ځان ورو پېژنم اوموږ څلور واړه د ډزو اوازونه چې د باندې څخه راتلل واوریدل، د دفتر دروازه پرانیستل شوه او یوځوان هلک چې سپین رنګه کالي یې اغوستي و په موږ یې د کلاشینکوف ډزې وکړې، ما په ځمکه ځان وغورځاوه خو زما په ملا اوپښه دوه مرمۍ ولګیدې اوله حرکته یې وغورځولم،هغه په خونه کې پرهرچا ډزې وکړې اوپه نوي څارنوال یې ترهغو ډزې کولې ترڅو چې مړ شو، زه په روغتون کې په هوش راغلم.

---

[1]. یوناما، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه، د۲۰۱۲م نیم کلن راپور، پاڼې ګڼه : **۵۸**

[2]. یوناما، مخکنی ماخذ ،پاڼې ګڼه :**۲۵**

## پېنځم جز: په صحي مراکزو د مسلحانه شخړو تاثیرات

د یوصحي کارمنداظهارات ۲۰۱۷دسپتمبرمیاشت

زه د مریضانو په تداوۍ مصروف وم، یوله ملګروماته وویل طالبانومکتوب صادرکړی اوتهدید یې کړی چې په ولسوالي کې ټول صحي مرکزونه تړي، کومه بودیجه چې دې مرکزونوته تخصیص شوی باید مونږ ته راکړل شي، داسې په نظررسیده چې د طالبانومهموقومندانانوغوښتل د ولسوالۍ د ټولوصحي مراکزو څخه باج واخلي، ما او زماهمکارانوتصمیم ونیوه په کوم روغتون کې چې مونږ کارکاوه د امنیتي تهدیداتو په خاطروتړو، ولې ملي اومحلي پولیسو زه په زورسره له کورنه راوویستم اودوباره یې روغتون ته یوړم، هغوی تعهد وکړ چې زما او زما د کارمندانوڅخه د طالبانود حملاتو په مقابل کې ساتنه کوي، لږ وروسته طالبانوماته تیلفون وکړاوماته یې ګواښ وکړ چې په تابه حمله کوو ځکه تازمونږ له اوامرو سرغړونه کړي، ماهغوی ته وویل چې ما ستاسوله امرڅخه سرغړونه نه ده کړې بلکه زه یې په زورسره روغتون ته راوستی یم، ولې هغوی په خپل تهدید تاکید کولو په نهه روغتونونه تړل شوي اوخلک د صحي لحاظه له ډېروستونزوسره مخ دي داځکه چې د هغه روغتونونو کارمندان کورونو ته تللي او تراوسه په کورونوکي دي، زه او زما همکاران په تشویش کې یوو، ځکه انسان وژنه د طالبانو لپاره ډېراسانه کاردی.[1] (۹)

## ښځې او وسله والې شخړې

د هغې ښځې په وینا چې د۲۰۱۷کال د اکتوبر په ۲۳له خپلې ځواني لور سره (دنوم اوځای دنه ښودلوپه شرط) د طالبانو له لوري په قصدي ډول په ډزو ویشتل شوي وو.

طالبان اوداعش له یو بل سره په نښته بوخت و، مونږ په کورکې و، چې ناګهانه مو په لوړغږ د خور اواز واورید چې مرسته وکړئ، ځکه چې ځوانه لور یې په ګولۍ لګیدلې اووژل شوې وه زه او زمالور د هغې د کور په طرف منډې کړې، چې یوه ډله طالبان په مخه راغلل اوله مونږڅخه یې وغوښتل چې دداعش ځای مونږ ته وښایاست، ماهغوی ته وویل چې ماهیڅ کوم شخص نده لیدلی، ولې هغوی زمونږخبروته هیڅ توجه ونه کړه او زمونږ په پښو یې فیرونه وکړل، د شدید جنګ په سبب مونږترسبا چا شفاخانې ته انتقال نه کړو.

[1]. یوناما، محافظت افراد ملکي درمنازعات مسلحانه، ۲۰۱۷ م کلنی راپور، پاڼې ګڼه: ۲۱

د یوې۱۱کلنې نجلۍ اظهارات چې د زابل په ارغنداب ولسوالۍ کې د۲۰۱۷کال د سپټمبر په ۲۳ د یوې مرمۍ په وسیله زخمي شوې وه: د ماسپښین وخت و د غرمنۍ له خوړلو وروسته ما اوزما کوچنۍ خورلوښي د مینځلو لپاره باغ ته یوړل چې ناګهانه مې یوګرم څیز داوسپنې په څېر محسوس کړچې زما په ګېډه یې اصابت کړی و، نور مې په یاد نه دي چې څه وشول؟ کله چې دوباره په هوښ راغلم په روغتون کې وم اوکورنۍ مې راڅخه چاپیره ولاړۀ.زمونږ کورهغه کوهي ته نږدې دی چې هروخت د طالبانو او پولیسو ترمنځ ښبته کیږي اومونږ د جنګ دوحشتناکه اوازونو له امله شپه او ورځ خوب نه لرو.

په ځمکنیو ښبتوکې ملکي وګړو غیرمستقیم تلفات : د یوسپین ږیري په وینا چې یو ولس ورځنۍ لمسی یې د طالبانو او امنیتي ځواکونو په ښبته کې د۲۰۱۷کال دجولای په ٦ ووژل شو او د کورنۍ درې نورغړي یې ټپیان شوي وو.

د مازیګروخت و ما اودس کولو چې ناڅاپه مې د فیر اواز واورید، پوه شوم چې طالبان کلي ته راغلي او په پولیسو یې حمله کړې، پولیسو د هغوی ځواب د هاوان په مرمۍ سره ورکړ، کله چې مې دوی دځپل کور سره ولیدل فوراً دکور په طرف روان شوم کله چې هلته ورسیدم ومې لیدل چې کورمو تخریب شوی او یو ولس ورځنۍ لمسی مې مړ، د حویلۍ په منځ کي ومونږ زما د کورنۍ درې نورغړي هم ټپیان شوي ول ما دګاونډیانو په مرسته ټپیان د کلي نږدې روغتون ته انتقال کړل دا هرڅه ډیرپه سرعت سره وشول.[۱]

هوایي عملیات: د یوې کورنۍ د مشر وینا چې د نړیوالوځواکونو له لوري۲۰۱۷کال داګست په ۳۰ یوطالب جنګیالی چې د لوګر په پل عالم کې د یوملکي میشته سیمې څخه یې په جګړه لاس پورې کاوه زیانمن شوی ده:

یوشخص له راکټ لنچرسره زمونږد کور ترځنګ ولاړو، وروړمې له هغه څخه غوښتنه وکړه چې داځای پریږده «لطفا دلته ماشومان اوزنانه دي» ماولیدل چې هغه شخص حرکت وکړ، ولې کله چې مې ورور د کور په طرف حرکت وکړ، یو راکټ فیرشو او مونږ د یو انفجار غږ واورید او په تعقیب یې د درندو وسلو فیر زمونږ په کور وشو زمونږ د کورنۍ غړي د کورپه داخل کې پټ شول د یوڅو شیبو وروسته یولاسي بم زمونږ په کور واچول شو، هغه وخت زمونږ په کورکي ۳۱تنه موجودو دغه برید دیوطالب پروړاندې له حد څخه زیات وهغه طالب کولای شو، دوی له بل

---

[۱]- یوناما، مخکنی ماخذ، پاڼې ګڼه : ۳۳

طرف نه هدف نیولی وي زه له تاسوغوارم چې اطمینان حاصل کړئ چې نوموړی عمل د نورو په مقابل کي صورت ونه نیسي.

## د افغان امنیتي ځواکونو له لوري د ملکي وګړو وژنه

د یوې قرباني شوې کورنۍ دوستانود یوه تن وینا چې دملي امنیت ځواکونوله لوري د۲۰۱۷کال د سپتمبرپه ۲۱مه د جلال اباد په ښارکې ووژل شول.

مونږته اطلاع وشوه چې غله ستاسې د دوستانو کور ته ننوتي دي او د کورنۍ غړي د تفنګچې اوسلاح په وسیله تهدیدوي، مونږپه دې نه و خبر چې د ملي امنیت ۲ریاست د تالاشۍ په غرض کورته ننوتي دي. کله چې زمونږ د کورنۍ غړي هغه کورته نږدې شول د ملي امنیت د ځواکونو له لوري بغیرله اطلاع څخه په هغوی ډزې وکړې چې په نتیجه کې د هغې کورنۍ ۳ تنه شهیدان اویوتن سطحي ټپي شو، د ملي امنیت ځواکونوملکي لباس پرتن درلود چې له همدې امله خلکوپه هغوی دغلوګمان کاوه.

دولت پلوه وسله والي ډلي

فوراًجنګ د طالبانواو دولت پلوه وسله والو(محلي پولیسو) ترمنځ هغه وخت سرعت واخیست کله چې طالبانو د محلي پولیسوپه امنیتي پوسته بریدوکړ، د ښښتې پرمهال زه په کورکې وم یوهاوان چې د محلي پولیسوله لوري توغول شوي و زمونږ په کورراپریوت چې په نتیجه کې زه اوزمونږ د ګاونډي یوه ۷کلنه ماشومه ټپیان شو، زمونږ کور وران شواو څلور څاروي موله منځه لاړل.

د هاوان د لګیدلو له امله د یوتن زیانمن شوي وینا چې په فاریاب ولایت کي د۲۰۱۷کال داګست په ۲۰پیبنه شوې وه.

## پایله

دغه علمي څېړنه چې په اسلامي فقه اود افغانستان په قوانینو کې د استوګنځي په مصؤنیت باندې تر سره شوې، د تکمیل څخه یې لاندې پایلې لاس ته راغلې.

۱. د انسان بقاء د هغه په کورنۍ پورې تړلې ده اویوه کورنۍ هغه وخت خپل نسل سالم روزلی شي، چې د استوګنځي د مصؤنیت څخه برخمنه وي.

۲. د سکون او ډاډ لپاره، د اسرارو او رازونو د خوندیتوب لپاره، د شک او بدګمانیو د مخنیوي لپاره، د شتمنیو د ساتنې لپاره او د یو شمېر مهمو او عمده موخو په منظور په اسلامي فقه اود افغانستان په قوانینو کې د استوګنځي مصؤنیت تضمین شوی دی.

۳. د استوګنځي حق درې اساسي ارکان لري: (د استوګنځي د لرلو حق، د استوګنځي د خوندیتوب حق، د استوګنځي دتغیر اوتبدیل حق).

۴. د استوګنځی مصؤنیت حق په لاندې مواردو کې نقض کېږي:

الف: د استوګنځي یا د کور د خاوند د اجازې پرته د هغه کور ته داخلیدل.

ب: په زور او جبر د یو شخص په استوګنځي کې تصرف کول.

ج: د استوګنځي تخریبول د ښاري نقشو، سړکونو او نورو مواردو په نوم پرته له دې چې د هغه قیمت یا بدیل ورکړل شي.

د: د جنګ پر مهال د شخصي استوګنځي ویشتنه او تخریبول.

و: دشپې یا ورځې له خوا د شخص استوګنځي ته د افرادو ننوتل او د هغوي د عزت او مال لوټول.

ي: د غایبینو او مهاجرینو د استوګنځي غصبول.

۵. په اسلامي فقه کې استوګنځي ته د ورتللو اداب دادي: چې لومړی السلام علیکم ووایي، بیا ووایي اجازه ده داخل شم، درې ځلې به دا خبره تکراروي، که چېرته د داخلیدو اجازه ورکړل شوه داخل به شي او که چېرته ورته اجازه ونه شوه بېرته به وګرځي، د اهل سنت والجماعت فقهاوو په نظر کور ته د داخلیدو اجازه واجب ده، په همدې اساس هیچا ته روا نه ده چې د یو چا کور ته بیدون له اجازې داخل شي تر هغې چې ورته اجازه وشي، که پردی وي اوکه خپل وي باید د کور خاوند په هره ممکنه وسیله چې وي خبر کړي، د دې ګټه داده چې د کورخاوند به د اجازې څخه مخکې د راغلي کس لپاره یو مناسب ځای برابر کړي، که چېرته مناسب ځای نه وي زنانه

به یو اړخ ته شي، هغه اسرار چې د کور خاوند نه غواړي له ده څخه پرته یې بل څوک وګوري هغه به هم خوندي شي، مالکي فقهاء هم وايي چې کور ته د داخلیدو اجازه واجب ده که خپل وي که پردی، ان تر دې که خپلې مور ته څوک ور ننوځي همدا اصل باید رعایت کړي.

٦. په اسلامي فقه د استوګنځي د مصؤنیت د اخلال جرایم او مجازات په دې ډول پیش بیني شویدي (علماو په دې خبره اتفاق کړی دی چې که چېرته یو څوک د چا کورته بدون له اجازې داخل شي او د کور خاوند د ده سترګه ړنده کړي دا جنایت دی او قصاص په دوی باندې واجب دی. امام ابوحنیفه او امام مالک وايي، که چېرته د کورخاوند کورته د لیدونکی شخص سترګه ړنده کړي، دې کس جنایت وکړ او په ده باندې قصاص واجب دی.

٧. پولیس،دملي امنیت مؤظف اوڅارنوال نشي کولای داوسېدونکي (ساکن) له استغاثې یا اجازې یا د واکمنې محکمې له مخکني قرارپرته، د شخص مسکن (کور) یا داوسېدنې ودانۍ ته ورننوزي اوهغه وپلټي، د کور یا د اوسېدنې د ودانۍ د پلټنې په وخت کې، د ښځینه پولیسې حضورشرط ګڼل کېږي .

٨. داسلامي فقه داحکامو په رڼا کې ، په خصوصي اوکورني ژوند ، داوسېدو په ځای په خپل سراو په ناقانونه توګه باندې تیری اوتعارض منع دی، د هیچا په خصوصي حریم اوداوسیدو په ځای، باید له قانوني اجازې پرته په خپل سر مداخله ونه شي او همدارنګه دهغه په عزت او حیثیت باندې تیری ونشي، حتی په خپل کور کې دکورنی یوغړی دبل غړي داوسیدو کوټې ته دورتګ په وخت یې په درې وختو کې ( دسهار لمانځه مخکې، غرمه او دماسخوتن لمانځه وروسته اجازه اخستل لازم کړي دي.

٩. دافغانستان دنافذه قوانینوپه رڼا کې که چېرته څوک، د اوسېدنې کور یا دهغه ملحقاتوته د شپې لخوادغیرمجازداخلېدوعمل په وړاندې داستوګن لخوا د دفاع پروخت ووژل شي، داستوګن مرتکبهٔ عمل مشروع دفاع ګڼل کیږي.

١٠. که چېرې دعامه خدمتونو مؤظف، له خپل وظیفوي واک څخه په استفادې سره د شخص کور ته د هغه له اجازې پرته او په غیرله هغو حالاتو او ترتیبه چې قانون پر هغو تصریح کړې ننوزي، تردوو کلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تریوسلو شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي .

۱۱. مسکون یا سکونت ته تیار ځای ته یا د هغه یوه له ملحقاتو ته په غیر قانوني توګه یا د هغه د خاوند له رضایت پرته د اخلیدل، د مسکن د حرمت د هتک جرم ګڼل کېږي، مرتکب په قصیر حبس محکومېږي.

۱۲. دعامه ضرورتونو لپاره داسلامي فقه او وضعي قوانینو په رڼاکې استوګنځی او نورعامه ملکیتونو تر تیري او تجاوز لاندې راتلی شي، خو دعادلانه عوض او بدلې وروسته.

## وړاندیزونه

۱. داستوګنځي دمصؤنیت او خوندیتوب موضوع داسلامي فقه او زموږ دملي قوانینو له نظره ډېره مهمه او بارزه موضوع ده، خوپه عملي ساحه کې ددولتي مسؤلینو اوامنیتي قواوو لخوا په ډېرو ساحوکې دغه اصل نقض شوی او دخلکو داستوګنځي په حریم باندې تیری او تجاوز شویدی، وړاندیز مې دادی،چې دولت دې د دغه ډول مسائلو په وړاندې جدي برخورد وکړي، ترڅو مرتکبین دخپلو اعمالو په سزا ورسیږي.

۲. داسلامي امت داداب او تربیې لپاره قران کریم ډېر په وضاحت سره داستوګنځي دمصؤنیت اوحرمت موضوع روښانه کړې، خو په عملي ډګر کې مسلمانان ددې اصل درناوی نه کوي، باید زموږ داوقافو وزارت علماء کرامو ته ددې اصل درعایت په برخه کې سپارښتنه وکړي، ترڅو ملا امامان او خطیبان په خپلو وعظونو او خطبو کې خلک داستوګنځي دحرمت په موضوع پوه اودهغې په خطرناکه عواقبو یې خبرکړي .

۳.دافغانستان ستري محکمې ته مې وړاندیز دی، چې دخاص تصویب په اساس قضات او محاکم دیته وهڅوي، چې په کومو دوسیو کې داستوګنځي حرمت نقض شوی او دمحکمې اجازه نه وي ترلاسه شوي ، دغه ډول اجرات دجزایي اجراتو دقانون د۲۸۹ مادې دحکم سره سم باطل او دمسؤلینو دعدلي تعقیب حکم وکړي .

۴.عدلیې وزارت ته مې وړاندیز دی، چې دافغانستان دنفوسو داحوالو دثبت قانون کې دتعدیل او ایزاد پر وخت باید داصلي استوګنځي په څېر فعلي استوګنځی تعریف شي همدارنګه دافغانستان مدني قانون (۵۱) مادې استوګنځی په عام ډول تعریف کړی، بهتره به وي چې په راتلونکي کې که چیرته قانون کې تعدیل راتلو، چې داستوګنځي ډولونه او دهغوی مشخصات ذکر شي.

۵ – که چیرته بل څوک پدې برخه کې څېړنه کوي، بهتره به وي،چې داستوګنځي دمصؤنیت دحق دنقض په مواردو او مرتکبینو باندې عمومي تحقیق وشي، پدې برخه کې ازاد او بې پرې تحقیق وشي او دمرتکبینو دعدلي تعقیب غوښتنه وشي .

## د قراني ایتونو لړلیک

| گڼه | آیاتونه | سورت | مخ | آیت شمېره |
|---|---|---|---|---|
| ١ | أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ | الطلاق | ١٠ | ٦ |
| ٢ | وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ | النساء | ١٠ | ١٩ |
| ٣ | وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ | الاعراف | ٢٠ | ٢١ |
| ٤ | وَكَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ | الحجر | ٢١ | ٨٢ |
| 5 | هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ | الذاريات | ٢٢ | ٢٤ |
| 6 | وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا | النحل | ٢٩ | ٨٠ |
| 7 | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا... | النور | ٣٠ | ٥٨ |
| 8 | وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ | المايده | ٣٣ | ٢٠ |
| 9 | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا | النور | ٣٦ | ٢٧ |
| 10 | وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّن بُيُوتِكُمْ سَكَنًا وَجَعَلَ لَكُم مِّن جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا | النحل | ٤٣ | ٨٠ |
| 30 | وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا | البقره | ٦٦ | ١٨٩ |
| 31 | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا | النور | ٦٧ | ٢٧ |
| 32 | الْأُولَىٰ قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا) | النور | ٦٨ | ٢٧ |
| 33 | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا | النور | ٦٩ | ٢٧ |
| 34 | يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا | النور | ٧١ | ٢٧ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٢٧ | ٧٢ | النور | يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا | 35 |
| ٢٨ | ٧٤ | النور | فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيها أَحَداً فَلا تَدْخُلُوها حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ | 36 |
| ٢٩ | ٧٤ | النور | وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَما تَكْتُمُونَ | 37 |
| ٢٨ | ٧٤ | النور | فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فِيها أَحَداً فَلا تَدْخُلُوها حَتَّى يُؤْذَنَ لَكُمْ | 38 |
| ٢٨ | ٧٤ | النور | لِقَوْلِهِ تَعَالَى: "هُوَ أَزْكَى لَكُمْ". | 39 |
| ٢٧ | ٧٥ | النور | «يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتاً غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى. | 40 |
| ٥٨ | ٧٧ | النور | أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيمانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ | 41 |
| ٥٨ | ٧٩ | النور | أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيمانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ | 42 |
| ٥٨ | ٨١ | النور | (أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنْكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيمانُكُمْ وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُم | 43 |
| ٢٧ | ٨٢ | النور | يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا | 44 |
| ٤٥ | ٨٩ | المايده | وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ | 45 |
| ٢٧ | ١٠٤ | النور | يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا | 46 |
| ٦١ | ١٠٥ | النور | فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً | 47 |
| ٤٥ | ١١٠ | المايده | وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ | 48 |
| | ١١٩ | الانعام | إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ | **49** |

## د نبوي احاديثو لړليک

| گڼه | حديث | مخ |
|---|---|---|
| ١ | عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ) | ١٥ |
| ٢ | عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ، أَنَّهُ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ لَيْلًا، فَتَعَجَّلَ إِلَى امْرَأَتِهِ فَإِذَا فِي بَيْتِهِ مِصْبَاح، وَإِذَا مَعَ امْرَأَتِهِ شَيْءٌ فَأَخَذَ السَّيْفَ، فَقَالَتْ امْرَأَتُهُ: إِلَيْكَ إِلَيْكَ عَنِّي ، فُلَانَةُ ثُمَ... | ٣١ |
| ٣ | عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَهَاهُمْ أَنْ يَطْرُقُوا النِّسَاءَ لَيْلاً قَالَ: فَطَرَقَ رَجُلَانِ بَعْدَ نَهْيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ كُلُّ وَاحِدٍ | ٣٢ |
| ٤ | عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ؟ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ: «أَلَكَ امْرَأَةٌ تَأْوِي إِلَيْهَا؟» | ٣٣ |
| ٥ | عَنْ سَلَمَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مِحْصَنٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ، آمِنًا فِي سِرْبِهِ، عِنْدَهُ قُوتُ | ٣٥ |
| ٦ | عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اجْعَلُوا مِنْ صَلَاتِكُمْ فِي بُيُوتِكُمْ، وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا | ٣٧ |
| ٧ | عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا النَّجَاةُ؟ قَالَ: امْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ | ٣٧ |
| ٨ | حَدَّثَنِي أَبُو الطَّاهِرِ أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ سَرْحٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو هَانِئٍ، سَمِعَ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ | ٣٨ |
| ٩ | عن ابنِ عمَرَ رضي الله عنهما قال: ذَكَرُوا الشُّؤْمَ عِنْدَ النَّبِيِّ صلّى الله عليه وسلّم، فَقَالَ النَّبِيُّ صلّى الله عليه وسلّم: (إِنْ كَانَ الشُّؤْمُ فِي شَيْءٍ فَفِي الدَّارِ، وَالْمَرْأَةِ، وَالْفَرَسِ | ٣٨ |
| ١٠ | عن نافع بن عبد الحارث رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: (مِنْ سَعادةِ المرءِ المَسكَنُ الوَاسِعُ، والجار الصالح، والمَرْكَبُ الهَنِي | ٣٩ |

| | | |
|---|---|---|
| ١١ | عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: اطَّلَعَ رَجُلٌ مِنْ جُحْرٍ فِي جُحَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ، فَقَالَ: «لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْظُرُ، لَطَ | ٧٧ |
| ١٢ | عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ، أَخْبَرَهُ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ فِي جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ، فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْتَظِرُنِي لَطَعَنْتُ بِهِ فِي عَيْنِكَ» وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا جُعِلَ الْإِذْنُ | ٧٧ |
| ١٣ | عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، أَنَّ بُسْرَ بْنَ سَعِيدٍ، حَدَّثَهُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، يَقُولُ: كُنَّا فِي مَجْلِسٍ عِنْدَ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، فَأَتَى أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ مُغْضَبًا حَتَّى وَقَفَ، فَقَالَ: أَنْشُدُكُمُ اللهَ هَلْ سَمِعَ أَحَدٌ مِنْكُمْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الِاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ، فَإِنْ أُذِنَ لَكَ، وَإِلَّا فَارْجِعْ» قَالَ أُبَيٌّ: وَمَا ذَاكَ؟ قَالَ: اسْتَأْذَنْتُ عَلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَمْسِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَلَمْ يُؤْذَنْ لِي فَرَجَعْتُ، ثُمَّ جِئْتُهُ الْيَوْمَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ، ... | ٧٨ |
| ١٤ | عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، فَقَدْ حَلَّ لَهُمْ أَنْ يَفْقَئُوا عَيْنَهُ» عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ عَلَيْكَ بِغَيْرِ إِذْنٍ، فَخَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ، فَفَقَأْتَ عَيْنَهُ مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ | ٨٠ |
| ٥ | حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَوْتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ هَذَا؟» قُلْتُ: أَنَا، قَالَ: فَخَرَجَ وَهُوَ | ٨٠ |
| ١٦ | عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: إِذَا دَخَلَ وَلَمْ يَقُلِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقُلْ: لا حتى يأتي بالمفتاح السلام. | ٨١ |
| ١٧ | أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، أَخْبَرَنَا صَفْوَانُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي؟ قَالَ: «نَعَمْ» ، قَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ | ٨١ |

| | | |
|---|---|---|
| ١٨ | حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّمْلِيُّ، وَابْنُ عَوْفٍ، وَهَذَا لَفْظُهُ قَالَا: حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ ثَوْرٍ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: | ٨٢ |
| ١٩ | عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ، فَقَدْ حَلَّ لَهُمْ أَنْ يَفْقَئُوا عَيْنَهُ | ٨٤ |
| ٢٠ | عَنْ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُسْرٍ، صَاحِبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَتَى بَابًا يُرِيدُ أَنْ يَسْتَأْذِنَ لَمْ يَسْتَقْبِلْهُ، جَاءَ يَمِينًا وَشِمَالًا، فَإِنْ أُذِنَ | ١٠٥ |
| ٢١ | عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: إِنَّ أَبْوَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ تُقْرَعُ بِالْأَظَافِيرِ | ١٠٥ |
| ٢٢ | عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذَا السَّلَامُ، فَمَا الِاسْتِئْذَانُ؟ قَالَ: «يَتَكَلَّمُ الرَّجُلُ تَسْبِيحَةً، وَتَكْبِيرَةً، وَتَحْمِيدَةً، وَيَتَنَحْنَحُ، وَيُؤْذِنُ أَهْلَ الْبَيْتِ» | ١٠٦ |
| ٢٣ | عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، قَالَ: يُقَالُ حِينَئِذٍ: هُدِيتَ، | ١٠٦ |
| ٢٤ | عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وَلَجَ | ١٠٧ |
| ٢٥ | عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَتْ فَأْرَةٌ فَأَخَذَتْ تَجُرُّ الْفَتِيلَةَ فَجَاءَتْ بِهَا فَأَلْقَتْهَا بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُمْرَةِ الَّتِي كَانَ قَاعِدًا عَلَيْهَا فَأَحْرَقَتْ مِنْهَا مِثْلَ | ١٠٨ |

## ماخذونه (References)


١. القران الکريم

٢. ابوعبدالله، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري.(١۴٠٩ق) الادب المفرد ، بيروت: دارالبشائرالإسلامية .

٣. اتاسي، محمدخالدالاتاسی.(ـ) شرح مجلة، پشاور: مکتبه حقانيه .

۴. اکرم، احمد ابو وائل، من خصائص شريعتنا الاسلاميه، www.ahmadamieur.com

۵. ابو عبدالله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة البخاري، ناشرک دار طوق النجاة

۶. الفت، ګل پاچا. (١٣٨۴). د ټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش، درېيم چاپ. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه .

٧. افضلی، عبدالواحد او رحيمي، محمد اسحق (١٣٩٢). حقوق بين الملل خصوصی، تهران: مرکز تحقيق وتوسعه علوم انسانی

٨. الفت،عزيز الرحمن. (١٣٢٣ش). سياسې لوبې، اسلامي انتقام دولسمه خپرونه .

٩. بک، محمد الخضري، ژباړن، مولو حميم الله صافی. (١٣٩۶). التاريخ التشريع، ننګرهار: ګودر خپرندويه ټولنه.

١٠. بيضاوي ، ناصر الدين أبو سعيد عبد الله بن عمر بن محمد الشيرازي البيضاوي (١۴١٨ ق)، أنوار التنزيل وأسرار التأويل، دار إحياء التراث العربي - بيروت

١١. بهيقي ، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي ( ١۴٠٨هـ) الاداب للبيهقي، بيروت: مؤسسة الکتب الثقافية .

١٢. پالنپوري،شيخ احمد سعيد پالنپوري، مولوي ضيا الحق، (١٣٩۵ش) مبادی اصول، جلال اباد: مسلم خپروندويه ټولنه.

١٣. ترميذي،محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك.(١٩٩٨م)سنن ترميذي، بيروت : دارالغرب الإسلامي.

١۴. جعفي،محمد بن إسماعيل أبو عبد الله البخاري .(١۴٢٢ق). صحيح البخاري، ناشر: دار طوق النجاة

١۵. حکمت، سيد عبدالحکيم. (١٣٩٧). مبادې حقوق، ننګرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

١۶. حکمتيار.(ــــ). د قران پلوشې. (حزب اسلامي افغانستان).

۱۷. د افغانستان د اختصاصي جزا حقوقو د پاره د ماکس پلانک لاربنود ، (۱۳۹۰هـ)
۱۸. د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. (۱۳۸۷). کابل پوهنتون، حقوقو پوهنځی
۱۹. دانش، حفیظ الله . (۱۳۸۸). عمومي حقوق جزا. لومړی ټوک، کابل: مستقبل خبرندویه ټولنه
۲۰. رازی،فخرالدین. (ـــ) .تفسیر کبیر، یوولسم جلد ، پېښور: مکتبة الحقانیه.
۲۱. رحیمي، سرمحقق محمد موسی.(۱۳۸۳ش) .توضیح مختصر حقوق اساسی اتباع در قانون اساسی ۱۳۸۲ ، کابل: کمیسون مستقل حقوق بشر.
۲۲. رستم، سلیم باز.(ـــ). مجلة الاحکام ، لومړی ټوک. پېښور: المکتبة الحقانیه.
۲۳. زحیلي، وهبة. (). الضرورة الشرعیة ، موسسة الرسالة ، بیروت، څلورم چاپ
۲۴. زیدان، عبدالکریم. (۱۴۳۲ق). الوجیز فی شرح القواعد الفقهیه. بیروت:موسسة الرساله
۲۵. سمرقندي،ابولیث نصر بن محمد بن أحمد بن إبراهیم السمرقندي. (-). بحرالعلوم، نقل: الموسوعة العربیة العالمیة
۲۶. سِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني. () . سنن ابي داود ، بيروت : المكتبة العصرية، صيدا .
27.ستانکزی، نصر الله، ژباړن، ګل رحمن رحماني. (۱۳۹۲). د حقوقو مبادي، دريېم چاپ، ننګرهار: ګودر خپرندوي ټولنه
۲۸. سرور، محقق عبدالقادر. (۱۳۹۴). تاریخچه حقوق بشر. کابل: د بشري حقوقو خپلواک کمېسیون
۲۹. شاربي،سید قطب إبراهیم حسین الشاربي .(۱۴۱۲ ق). في ظلال القرآن، دار الشروق - بیروت- القاهرة
۳۰. صابوني، محمد علي، ژباړن: محب الله مخلص. (۱۳۹۱). روایع البیان. پېښور: مکتبه فریدیه ،
۳۱. صابوني،محمد علی الصابوني . (ـ).صفوة التفاسیر، لاهور: مکتبه مدنیه .
۳۲. صافی، شمس الاسلام. (۱۳۹۷). د قانون جوړونې اصول. ننګرهار: مسلم خپرندویه ټولنه.

٣٣. صافی، هجرت الله. (١٣٩٧). د کریمنالوژي له نظره د جرم او مجرم څېړنه. ننګرهار: ګودر خپرندویه ټولنه
٣۴. طباره، عبدالفتاح عفیف، حنیف، خلیل الرحمن. (١٣٩٠). په قرانکریم کې د انبیاو کیسې، لومړی چاپ، ننګرهار: حکمت خپرندویه ټولنه.
٣۵. ظریفي، شیرعلي. (١٣٩۴). د حقوقو مبادي، دریم چاپ. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.
٣۶. عبدالخالق، عبدالرحمن ، المقاصد العامةلشریعة الاسلامیة مخ
37. عبدالکبیر، عبدالباقي. (٢٠١٠). تقنین الشریعة الاسلامیة، چاپ کال ٢٠١٠م، پېښور: دلان علمي اوثقافتي مرکز.
٣٨. علوان، عبدالله ناصح. (١٩٨۴). محاضرة فی الشریعة الاسلامیه وفقها ومصادرها، لومړی چاپ.
٣٩. عدلي وزارت. (١٣٨٢). د افغانستان د اساسي قوانینوبشپړه ټولګه.
۴٠. عدلي وزارت، رسمي جریده.(١٣۵۵ش). جزا قانون،پرلپسې ګڼه: ٣۴٧
۴١. عدلي وزارت، رسمي جریده.(١۴٢١ ق).د ځمکې داستملاک قانون، پرلپسې ګڼه: ٧٩۴
۴٢. عدلي وزرات رسمي جریده.(١٣۶٩). د مدني محاکمو اصولو قانون پرلپسې ګڼه: ٧٢٢
۴٣. عدلي وزرات، رسمي جریده، (١٣٩١). د نفوسود احوالو د ثبت قانون ،پرلپسې ګڼه: ١٠٨١.
۴۴. عدلیې وزارت. (١٣٩٢). جزا کود ، رسمي جریده، پرلپسې ګڼه: ١٢٦٠.
۴۵. عدلیې وزارت، رسمي جریده. ( ١٣٨٢). د افغانستان اساسي قانون ،پرلپسې شمېره(٨١٨) .
۴۶. عدلیې وزارت، رسمي جریده. (١٣۴۴ ش) . د جزایي اجرااتو قانون له تعدیلونو سره، پرلپسې شمېره ٢٢.
۴٧.عدلی وزارت، رسمی جریده. (١٣٨٢ش) جزایي اجراتو موقت قانون ، پرلپسې ګڼه: ٨٢٠
۴٨.عدلی وزارت، رسمی جریده. (١٣٩۴) جزایي اجراتو قانون ، پرلپسې ګڼه : ١١٣٢.

49.عدلي وزارت، رسمي جريده.(۱۳۹۱) تقنيني سندونو د برابرولو او له پړاونوڅخه دتيرولو
دډول مقرره، پرلپسې شميره (۱۰۸۱)
۵۰. عميد، حسن عميد.(۱۳۸۱) فرهنګ عميد، درېيم جلد، تهران:موسسه انتشارات امير
كبير
۵۱. عوده،عبدالقادر. هدايت،عبدالهادي.(۱۳۸۴ ش). داسلام جنايي تشريح او وضعي
قوانين، پېښور: پېغام نشراتي مركز
۵۲. قرطبي، أبوعبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس
الدين القرطبي،(۱۳۸۴ ق،) الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي)، دارالكتب
المصريه، القاهره
۵۳. قزويني، ابن ماجة أبوعبد الله محمد بن يزيد القزويني، سنن ابن ماجه،دار إحياء الكتب
العربية.
۵۴. كاساني،علاالدين ابي بكرالسعود. (—). بدايع الصنايع، ټوک ګڼه: شپږم ،پشاور:
مكتبه حقانيه
۵۵. کوئن،بروس. (۱۳۹۵). دټولنپوهنې بنسټونه. لومړی چاپ. كابل: نوی مستقبل
خپرندويه ټولنه.
۵۶. مبارز،عبدالصبور. (۱۳۹۲). د اساسي قانون تحليل. ننګرهار: سلام خپرندويه ټولنه.
۵۷. ملک، محمد اصف، انجم، تمګين. (۱۳۹۵). سياسي ټولپوهنه. دويم چاپ. پکتيا:
علمي خپرندويه ټولنه
۵۸. مودودي، ابواعلى. (۱۳۸۳). تحريک اور کارکن،غورځنګ اوغړي، محمد نسيم
ستانيزی. پېښور: پېغام نشراتي مركز.
۵۹. مودودي، سيد ابواعلى.ژباړن: قريب الرحمن سعيد (۱۴۲۸). خلافت او ملوكيت.
پېښور: پېغام خپرندوی مرکز
۶۰. نيسابوري، مسلم بن الحجاج أبوالحسن القشيري النيسابوري.(ـ). صحيح مسلم،
بيروت: دار إحياء التراث العربي
۶۱. ندوي،محب الله، خويشکی،فرهاد محمد غالب ترين. (۱۴۲۵). اسلامی فقه.
خپرندوی: ( . )

۶۲. وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية، (۱۴۰۴ق) الموسوعة الكويتيه،مصطلاحات، كويت: وزارت الاوقاف
63.واثق، احمدګل. (۱۳۹۳). مبادي حقوق. ننګرهار: مازديګر خپرندويه ټولنه.
۶۴. واثق، احمدګل. (۱۳۹۵).د جزا اختصاصي حقوق. دويم چاپ. لومړی ټوک ، ننګرهار: يارخپرندويه ټولنه.
۶۵. واثق، احمد گل. (۱۳۹۵). د افغانستان د جزا قانون تحليل، لومړی چاپ. ننګرهار: يار خپرندويه ټولنه.
۶۶. يوناما ، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه، د ۲۰۱۱م کال کلنی راپور
۶۷. يوناما ، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه، د ۲۰۱۲م کال کلنی راپور
69. يوناما ، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه، د ۲۰۱۵ م کال کلنی راپور
70. يوناما ، په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو ساتنه، د ۲۰۱۶ م کال کلنی راپور
71. يوناما محافظت افراد ملکي درمنازعات مسلحانه ، ګذارش سال:۲۰۱۷م چاپ : ۲۰۱۸ فبروري

## Summary of the Research :

Based on the Sharia Previsions, the residence is secured and protected, the Quraan clearly orders Muslims (O you who believe, do not enter houses other than your own houses until you get the permission and you greet with Salaam to its inhabitants, that is the best way for you that you must remember), based on this verse of Holy Quraan, getting permission is obliged during entrance any houses than your own house, based on HADITH (saying of Mohammad the Prophet-PUH) it is prohibited to see in other's houses and get information.

Afghanistan is an Islamic country and the population of Afghanistan is Muslims, the applicable laws of Afghanistan, secured and protected the residence, based on the prevision of the constitution of Afghanistan, Personal residences shall be immune from trespassing, the Criminal code of Afghanistan prohibited entering and trespassing in others' houses, based on the criminal code of Afghanistan, entering and trespassing in others' house is a criminal act, the perpetrator will be punished. Regarding the immunity of the residences, the Islamic Sharia law and Afghanistan applicable laws are likeminded but, due to four-decade war in Afghanistan this right of residence immunity has been violated, I hope that the Government, political regimes, and political and pertaining military partiesin Afghanistan, should take serious care of the residence immunity. Also, Police, the National Security Department's (NDS) employees and other armed groups should respect the fundamental rights of the people especially, the rights of residence immunity, I hope everyone obey the Islamic courtesies during entering other houses.

The residence is secured and protected from trespassing but, there are exceptional situations that allow the authorized employees to enter and trespass the personal residence, in this situation the authorized employees are asked to obey the prevision of the applicable laws, these exceptional conditions has been mention in the laws.

In this research,I have used reliable interpretations of Quraan, HADITHS books, religious books, laws other reliable resources, to promote the Islamic courtesies in the society, I hope that the judicial entities will punish the perpetrator and will consider the compensation of victims too, I hope that anyone how violate the residence immunity punished.

Salaam University
Faculty of shreya and Law
Department of jurisprudence and Law

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Private Universities Presidency

# Security Of Home In Islamic Fiqh And National Laws

(A master's thesis)

Compiler : Sana gul (Tarakhil)

Advisor : Prof. Dr.Najibullah ( Salih)

Year:……………………………………………………………………………………… 2020

Salam University
Faculty of Shreya and Law
Department of Jurisprudence and Law

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Private Universities presidency

# Security of Home in Islamic Fiqh & National Laws

A master's thesis

Compiler: Sana Gul Tarakhil

Advisor: Prof. Dr.Najibullah Salih

Year:..........................................................................................2020